ښکلې ستا د کور حوړه ځوا نه نیا ر سنه
ما سره ده دوم دلیل لورپه سرو رنمو کښي
اورد لوی تیر شاه لوړې په لاس دي لوله ځینه
مسمغروره سر دپښتون نیت ستر ګې ای ښکته دي
شرم داسې شرم چه شرمو نه شرمو بنه

پلوشه

که سر رنګ دی که رنګ دی — ول زار و بیمار دی
که ښا یست که مستی ده — نو سار یوادار دی
که حسن که نور دی — یو سپین سپین ځری
که ګل که سپین دی
و سوز او یو سار د

ستا په تورو لړو کښې لېزه رڼا پېره سي
اور او رکی ستوری شي حسن دې چاپېره شي
ای دلېونی نشې مست دې ستا خمار غمه

را شه ورو د یار غمه
پر یو ځه په سینه زما

ته د مېو دو یار زما سته د دلدار زما
ته مې دو فا ګواه ته ئې نوم دیار زما
خوز لکه دلدار غمه اې دسېو رو هار غمه

را شه ورو د یار غمه
پر یو ځه په سینه زما

عشق

سوزنه دی عشق سازنه دی عشق آه و کړیکان نه دی عشق
مسته رنګینی دا نه ده غم د سامان نه دی عشق
خوب د خوا ښه نه دی دخوبو نوارمان نه دی عشق
مینه د ملیار د سمر ګو وحشت د حیران نه دی عشق
سور اس د بیاري ږک د تیارو سامان نه دی عشق
مست دا ممد و نو نودر بان روان نه دی عشق
سر ګو کې که راسی د شفق سر د حمار
عقل له که راشی د سپوږمی در ها سار

دې مسا نه زړه له
نوه حور ه د تاتار

نو د مستی حد دی او وحشت سد وان نه دی عشق
مسته رنګینی دا نه ده غم د حامان نه دی عشق
عشق یوه حد درب دی په وحدت نو داسان کښې
یود مستی سار د زړه سوی قمر سمان کښې
روح دوړ و کی کاد پسرلی سر کو د حران کښې
مرګ عشق ته حیران دی خو مرګ نه حیران نه دی عشق

خوب د خوا ښه نه دی
دخوبونو ارمان نه دی عشق

دا د پښتنو ملنګ — شه‌بادشاهی رنګ لری

جنګ له دی منصور روان

توپ او نه تفنګ لری

سپین مخ د لیلی وینی — دشت بیابان نه وینی

رڼه ئې دیوار مان نه پټ — غم او ارمان نه وینی

سرې دښا تور ستر ګې ئې — میمه رنګکار سنګ لری

جنګ له دی منصور روان

توپ او نه تفنګ لری

تاج ئې دا زغو په سر — مست لکه مجنون روان

قوم د پښتنو ګټی — خوی‌دی د پښتون روان

ز داد نرا نو خان — شه غیرت او ننګ لری

جنګ له دی منصور روان

توپ او نه تفنګ لری

سر ئې کیسو دخاورو کېښې — مرګ ته‌ئې سینه ور کړله

ده د قام د سر صدقه — حپله ویه ور کړله

وې هر شه مې د قام دی — والله هرشه چه ملنګ لری

جنګ له دی منصور روان

توپ او نه تفنګ لری

اې د پښتنو بچو ! — دا میدان مو هېر نه شی

سپین سر ئې د و یوړك — هغه‌خان مو هېر نه شی

بروت وږ دلته خاورو کېښې

دا مکان مو هېر نه شی

باشی د ننګ ئې وګټی — (حدایبزر)دیربه تاسو ننګ لری

جنګ له‌دی منصورروان — توپ او نه تفنګ لری

نه د تور و برق لری

نه د زغر وشر نګ لری

پلوشه

پرون نه شه قصه ددې رنګين جهان درنګ و کړی
دا يې مې ګوتې نه شه ستاد طمعې شرنګ و کړی
زړه چې سپوږمۍ شوه نوې نه به شمارا و بیازو کړی
دا غمګينې سترګې نه به کومه نشه رنګ و کړی

دپسرلی شپه

دپسرلی شپه وه مسته مستانه — ستوري کېدل ډېر روښان رڼا نه
سپوږمۍ وه ولاړه وه ښکلې حیرانه — لیونی سوال و کړ و دخپل جانانه
رڼا مې پوهې له د لامکانه را — مستي مې سترګو له دخپله خانه را
دحپله خانه یاره ! دحپله حپله خانه — لیونی سوال و کړ ود خپل جانانه
ناګاه هغه برق شو د رباب د نور راغی — شه به مستي راغی شه به سرور راغی
هستي شوه ګوښکه مستیه ګو یانه — لیونی سوال و کړ و دخپل جانانه
او لیونی چه ورته ږغ کړی ګړلی — وربه حواری ښکېښې ځای شو او بخري
نور ږک د ځانه ووږک د جهانه — لیونی سوال و کړ دخپل جانانه
دریاب دنور ولاړ شیست او رڼا ولاړه — اودجانان مستي جانان له بیا ولاړه

لیونی بیا نې شو شېرې ګریوانه
دپسرلی شپه وه مسته مستانه

شمله هندوستان ۷ ستمبر ۱۹٤٤

په مردان دباچاخان مارچ

راشواې خوشحاله بابا ! — اې خالده وګوره !
باشه علی مرتضی ! — دا تماشه ووینه !
جنګ له دې منصور روان — توپ او نه تفنګ لري

نه د تور و برق لري
نه دزغور و شرنګ لري

زور د دښمن نه وینی — دا سې لیونی روان
دار [illegible] ن نه وینی — دا دمستانو خان

او ای زما بچیه! د جانان به ئې مه لاسه ده

نوم ئې نېکلی لاسه دی حلوه ئې رنګینه لاسه ده

ای دلېو نو نیکه نامه ارسه که ملاسه دی،

تن مې ټك د زهر و كه زړه ټك مې د لاسه دی؟

ای زما بچیه و پېړ ران لره انکار سه دی

مېړې له پښو سه د څمڅې له سامار سه دی

ما لېو نوی سه دی مېنی سه ده صحرا سه ده

چا له طاقون سه دی حال له سوری د ملاسه دی

داد حیان رنګ دی داد سار نګه لاسه ده

زړ دسه ده تور وسه وه تکه سپینه لاسه ده

ای د لېو و نګاحس که وسه ده

ر حه د مجنون سه د که ر حه د لیلی سه ده

وی ای زما بچیه د دلبر د حوالې دوا سه ده

سه ر مه لاسه د داو پرده ګر د ه لاسه ده

ما ؤ د مح د ار او په سره رنګینه لاسه ده

زړه سه ده توره سه د سکه سپینه لاسه ده

(و ای زما جانانه سه دی همو سه ده

ر حه د مجنون سه د دم ر حه د لیلی سه ده

سه د د فقیر ی سه که سه وره د ما سا ده،

ګل د صور سه که ګلا د مح و ا سه ده

وی ای زما بچیه سور عقاب له دغره سر سه دی

ګل د صور له سه او ګل له صور سه دی

حیام له ملا ر ی او سمدر له طوفان خوند کوی

ستر ګو له مستی خوند کړی او زړه له ارمان خوند کوی

(و) ای زما بچیه فقری شه د د نیا سه ده

تخت د سلیمان سه دی خو نګر د عیسی سه ده

مشر له لوېیه و رري که حیا له شه ده،

سه مې حپل لر و لی دی که فرض وپ جانه سه ده؟

دعا

دې بې ا بصا وه د ر ور حها ن کبې — دې بې کېمې د پېغو ر حها ن کبې
دې په غر سو سکو ر جهان کښې — سر کې ليدو سکې راعقل روښا ن را
زړه مې مين را ربه زړه مې ر حمان را

دې د مطلب ا وتنګيه په د نيا کښې — دې در اسکو عهد واو سودا کښې
دې خوږ و ز هر و ببکلې بلا کښې — همه بې طمعې زار زړه بې ارمان را
ستر ګې ليدو نکې را عقل رو ښان را

دې د درو غوا و نور حها ن کښې — دې بې کېښې د نغور حها ن کښې
دې د بد سودا ور حهان کښې — پاك داسې نه شان نيت او ايمان را
ستر ګې ليدو نکې را عقل رو ښان را

د ی بې همه کمر وری دنيا کښې — دې په نغر ب نو ري نوري دنيا کښې

هر ګړ جه ري وار ببری داسې ايمان را
ستر ګې ليدو نکې را عقل رو ښا ن را

سر بې پر و امسا نه دمننه ور را — ستر ګې حاکمه زړې مينې د نور را
ببکلي هر جمال ايمان د سرور را — زړه د ملنګ را و شان د سلطان را
ستر ګې ليدو نکې را عقل رو ښان را

شاعري

لبز خيال کړه لبز نال کړه لبز شان د جانان — لبز ګټ کړه غور څټک کړه ديوا ده ارمان
لبز نور کړه لبز نار کړه لبز نور کړه لو ستار — لبز يار د سوز مينه سره د ستورو همزار
لبز ګوت د کعبې کښې لبز کال د ستار — لبز نا لبز نا عجه سره لبز ور بيان
لبز خيال کړه لبز نال کړه لبز شان د جانان

اې زلېونو نيکان

اي دليو نيا و سکه لمونځ سره ګړه مستی سره ده ؟
حسن حوږ پدل سبه دي که حسن پر ستی سره ده ،
وې سه ده مستي سره د حور په پاك لکه آسمه غواړي
دا در باب هضول دستر هره سينه غواړي
حسن جوړ يدل د سد عشق د کمال دی
نورد عم د ر باب کښې نور جمار د وصال دی

(۱) آ يه

دارنګ زماد ستر ګو نه دی رنګ دی دجانان
(وې) :- داشرنګ زما سینه کښې دپښو شرنګ دی دجانان
د حسن ارمانی نه یم د حسن سمند ریم
زه مست لیونی نه یم زه مستې د بحر ورېم
دا رنګ زما د ستر ګو نه دی رنګ دجانان
داشرنګ زما سینه کښې دپښو شرنګ دی دجانان
نا لمه را شی ، وا وری ، چه زه نورا ورنه ربا یم
زه ګل نه یم زه بلبل یم زه وصال دمحبو نایم
منصور حوپخواپوب شود اش نور دی د جانان
دا نه دی منصور نه دی دا سرور دی د جانان
حر پرې ملایان شول ویل منصور خان نه الله وائی
(وې)- داکفر دا غرور چه ئې هر چاته ند ملا وائی
کافر دی شی سنګسار چه پری پلیت نه شی جهان
پادشاه د لیونو ئې زو لنو کښې کړ روان
منصور وی حلکه وا وری ، چه زه نورا ورنه ربایم
زه ګل یم زه سل یم زه وصال ز د محبو نا یم
منصور حوپخواپوب شوداتش نورزد جانان
دانه دی منصور نه دی دا سرور دی د جانان
چه شپه ده د معراج او که ده ورځ د کربلا
داولی نه خدا ما لیار حیل ما ځکړ لونالا ،
موسکی منصور ولاړ دی اود کاڼو پرې باران دی
عاشق روستی ګام اخلی ددلبرعیبر له روان دی
د حسن ارمانی نه یم د حسن سمند ریم
زه مست لیونی نه یم زه مستی د بحر ورېم
دا رنګ زماد ستر ګو نه دی رنګ دی د جانان
داشرنګ زماسینه کښې دپښوشرنګ دی جانان
یویارو د منصور چه د منصور د زړه مختار و
دا هم خپه ولاړ د سنګسار یا نو په قطار و

ای زما بچیه؟ یارش پر اوله صحرا شبه ده
بخت در قیب به دی شبه تکوری د لیلی شبه دی
دوست د یزید شبه به دی شهید د کربلا شبه دی
واک ئې چه د ال وی د دې سر نه زنانه شبه ده
ای زما بچیه ور یری به جیلحا نه شبه ده

چغه

سر مې لو ګی شه له ماسر ګې مې شوبه ی مې خاورې ستاد دیا رشه
قربان ځلمی لمتا به قطار قطار شه
به دې خزان ګبې یو ګل دبهار ئې دې توره شپه ګښې ته یو ربې دسار ئې
ته د بهار خوب د ګلې ورانئې ته یو تصویر د پښتون دا رمان ئې
ته د پښتون د ناموس او دننګ نښه ته د پښتو ن دسپین زیری ملنګ نښه
ته ئې زمونږ ددې صبر د حننګ نښه ته یو ګواه د پښتو ن دهرای
ته یو تصویر د پښتو ن دارمان ئې
ته ئې دمینې اودرور اووطا قت قصه ته د شهید د مستی او د شو ګ قصه
ته د پښتون د یوحیال او دیب قصه ته یو اواز د مظلو م به اسمان ئې
ته د بهار حوب د ګلې وران ئې
ته د مرد ی پر توب رنګین داستان ئې ته یو تصو یر د پښتو ن دا رمان ئې
پاس په دی وپر قوم زه په حصار نښی یا به ته ئې په حیمر نازه په دار نښې
سر مې لو ګې شه له ماستر ګې مې ځار نښې به د بهار خوب د ګلې وران ئې
ته یو تصو یرد پښتون د ارمان ئې

منصور

منصور یو لیو نی وچه دمعشوق آداب ئې هیر کړل
منصور یو لیو نی وچه دمستی شراب ئې پېر کړل
منصو ر چر ته لیدلی د مخ نو ر و د جانان
(وي) :- دا مست چه پر ې منصو ر شودا سرور و دجانان
مستی داز ما نه ده د جانان د ستر ګو نو ر دی
زماد خولې خبرې هم تورات او هم زبور دی

وې د خانانو پښو ته سجده روا نه ده
د مسلمان سترګو له شه روا نه ده
سپو زمې چه وا وريده سر ورئې خپل پورې
رنګ ئې د سترګو نه غوټکې د ګل پورې
د ماسام لمرئ له ئې د رېږه ارمان لا پرې
په سرلى سپې له ئې د مستې سان لا پرې
ارمان چه لا پر خوا ئې هم لا پرې ده
خمار هم لا پرې مستي هم لا پرې ده
ار د حسن په طمع حسن په خوار لا پرې
عاشق د ګلو وجه د حورو په ښکار لا پرې

ګډې وډې

مستي چه څاګښې پېره شي
یا ډم سي یا شاعر سي
بېسي چه پو سرئ وی (۱)
ملا ډمشعر سي
چه صبر څاګښې پېر سي
یا ملنګ سي یا باد شاه شي
چه کبر چاګښې پېر سي
یا فرعون باد ښکاځا سي
چه آس د نهو خوی شي
فد عمي به ځنابي سي
چه پموی په کانال کښې
«خالصه» کبې درانی سي
په خاچه ګنه پېره سي
یا بحث شي یا تحفه شي
په چا حه نفاق پېر شي
یا ټټو یا فرښته شي
خوانی چه چاکښې پېره سي
یا غل شي یا ولی شي
چه زور په څاګښې پېر شي
یا یزید شي یا علی شي
د چا چه بحث راوښ شي
یا مجنون شي یا لیلی شي
په چا حه تهذیب پېر شي
ملو لی یا ملو لا شي
دنیا چه پېر سخی شي
یا یتی شي یا بالك سي
محمد چه معتبر شي
یا د اه شي یا ملك سي
چه میه چاکښې پېره شي
سمي یا لیو سی شي
چه پموی په کانال کښې
خالصه کبې درانی شي
چه علم چاکښې پېر شي
یا شیطان شي یا فقیر شي
چه وس د وسه ووځي
یا نصیب شي یا تقدیر شي
چه وخت د توله ووځي
یا قیامت شي یا وصال شي

(۱) پوډمې.

خو لیه کښې ئې د کا نو په ځای وړ ی وو ګلو نه
(وې) : ــ په‌دې زه د منصور په‌ر ژو مه ګناهو نه

منصور ئې په ګل وو یشت وې دمینې سلام و اخله
منصوره ! د مجنو ر ه زړه حا مو شه پیغا م واخله

منصو ره ! دا ګلاب سـاد اشنـا د زړه ژړ اده
منصو ر ه دا ګلا ب سا د ا شنا د خو لې دعا ده

یو ګل په منصوروړغی د شاهو په‌سارا ن کښې
منصور یو ګړ یـ کـه وو سـه په‌ویر دړد او ارمان کښې

الله ! داوه امید اور که یو ر ه و ه د و او ر ې
الله ! دې یو ګلاب ګړی د کنو یو نا عجب حا ورې

دا حا په نو م دمینې کړ مینې جهـان و ر ا ن ؟
دا یو ر دو لې مخکه‌ سو دتو رو لې سو اسمان ؟

در دمینې سر کې ئې‌پورته کړې‌قطار ته‌دعا ادو
ولاړ یـکـې حیه ګلا ب په لاس د د د صنم ؤ

دیار مخ ئې چه ولید وړ ته د ې دا و وا و یلا لاړ
باد شا د لیو و هم له د سا ته په ر ړ ا لاړ

دیور نا ر یس نارسو د حا نا ن د سر کو و ر سو
یو لهردمینـې شو د حا نا ن د ر ړ ه سر و ر شو

یو سوا ل ؤ چه یارو اوریدو سوال ؤچه منظو ر شو

یو حا ځکې د ارمان ډوب شو د مینې سمند ر کښې
عشا ق د یو ر نخر ې د حا نا ن د ر ړ ګی سر کښې

دحور ښکار

یو عا شق د کلو و د حـو ر و په ښکـا ر لاړ
او د حا نـان د کـو ر ه په یو ته او استعفا رلاړ

وی د حا نا ن بیست یو حوب یو حیا ل د ی
وې د امـینی بیخو د ی ز ما یو و نا ل د ی

وې پر ونیه‌ښا پیری‌بن‌یو ر ې حا و ر ې د ی
د ړ ند یو بنا کې او په پر و ښد وا و ر ې د ی

ورو غم پکښې را وخوت لکه لړه د ماښام
چاړك كړ له شرابو د سپوږمۍ د رڼا جام
وې واخله دا محل دا تخت دا تول ساز و سامانه
د غمه چنده نشه شوك پېښه شي له ځانه
څه ! پښو له دځانانو دې دا نغمه د جهان يو سه
څه ځانشكېږه! دادرِ باب له وقطره دارمان يو سه
نه غم شي نه حمد ائې نه بهار شي نه خزان
څو ما ليدلي خوب كښې دي د حسن يو جهان
چه خوب نه په مستۍ كا ددي ستا غم او ستا ارمان
ما وې ستړې لوګي شه له تا ستر ګنې مې قربان
راځه چه دې د نور جهان له دوا پړه شو روان
اې شر نګه د ګوټ ګرو! درباب نال او شرنګ كښې ډوب ده
او ې اور اور كېږه ! دلمړ رنګ كښې ډوب شه !
وې رنګ رنګ نو لې يم مادر ملوه په ډېر بد دی (۱)
او ما خپلې وررې الو توسه نه پرېږد دی

زه

ای د مطرف ملسمو ملا !
ای د جزاا و قسمت ملا!
مکړه ما نه قصې دژوند
زه نه مالی یم نه خان دباغ
زه خود شاتو مچۍ یمه
زه یو وړه لو لـکۍ یمه
زه بو چپه د نسیم یمه
زه یو قطره د شرابو یم
نو ما له ته څه له کړې داستان دباغ

ای د جسد د قصو ملا !
ای دد ورخ او جسد ملا
ما ورم نه څه ستا قصې دژوند
ما نه ته څه له کړې داستان دباغ
شاتې پېژنم او ګل پېژنم
سات ته را تلل او تلل پېژنم
بس یوه لمحه د ماښام پېژنم
شو نډې پېژنم او جام پېژنم
زه نه مالی یم نه خان دباغ

(۱) داشعرنا مکمل غوندې دی .

چه سر د خو د ه و لمی (نو) یاشرنګ شی اویاتال شی
پښتون چه غیر نی شي خان صاحیب یاخان بادرشی
نیستی چه بو نیری و و نی
ملا د هشنغر شی

مور

دا په سترګو د مریم ګښې چه ژړا و ه. که خنداوه
چه ئې سو ربه صلیب ولید د عیسی د ز لفو و ل
دا څه وه وایمه تا ته ؟ چه رحیم ئې که رحمن ئې
چه په خاورو کښې کړې خاورې د ګلاب ښکلی او ر بل
دا مستی وه که معراج ؤ ؟ داجهان ئې چه رو ښان کړ
که د بور د یار د سترګو د ر یا بو نه بهید ل
چه د ا کفر که ایما نؤ چه دا ز ه ئې لیو نې کړ م
چه داعم مې په خندا شو ؟
که مستی مې و ژ ړ ل

د ښا پیرو شهزادګۍ

د سر وزرو محلو نه کښې بو تخت ؤ د لالو بو
او چې د غر ه په سر ؤ بو کما ل د کمالو نو
چا پیر ه ترې خنداوه او مستی و ه مشغو لا و ه
ګلونه وو سر و نه وو رنګو نه وو رنها و ه
اوناسته دې محل کښې شهزادګۍ د ښا پیرو و ه
چه جو ړه له خو بو بو ښا یسته ؤ نري نري وه
ماوې اې بی بی د جنت ا زه ستا د ر ملنګ یمه
د یر تنګ د دې جها نه د غمو نو نه ئې تنګ یمه
لیز پټ مې کړ ه د غم دتو روسترګو نه محل کښې
زر ور که دا ذ ره به شی د ستورو په غو بل کښې
او سترګې ئې را بو رته کړې پستې درنا سپینې
نا ز کې ناز نینې په ر نګو نو کښې ر نګینې

د شیر شاه ناز بینه څو یه ! ته ئې بروت تورو تیارو کښې
کړه دغم تیارې را غوندې ترې د مینې داستان جوړ کړه
د دې باغ خاورې را واخله
ترې نوی بوستان جوړ کړه

تول او تال

په سمر کې دې پر دې دلیو نوت دی لیو بیه !
نه په پښتې تول ، ته تش تال پېښ نې
ته سپر کې د لیلی و یسې لیلی نه و بنې
ته زړه د مینې په پښتې لال پېښ نې
ته وسې د کلاب سمر کو کښې سورد ژوند حمار
نه ئې جال د جړوونې نه ئې جنجال پېښ نې
او ای داده څو نه ای نار به دالنه
د ډر و کالو ناب کښې نه یو کال پېښ نې
زما او ستا خبرې د هاتی ماشی واده دی
زه تو له لیلی وینم تـه ئې یو خال پېښ نې
زه ترك د لو گـی ترك یمه د تول داده
تـه نه پښتې تـول نـه تش تال پېښ نې

خوخاص ستا ددې دوو لیونو ستر گو دپاره
ره جوړ به خپل تصویر کړمه دتکو دغماره

پیدا ښت

اوما ځان له ساز کړ بخپله جوړ دخپل حوب نه دخپل خیال نه
د خپل غم نه د مستۍ نه د خپل نول نه د خپل تال نه
او ما ځان له یار کړ بخپله جوړ دخپل سوز نه د ارمان نه
د خوبونو نه د رنګونو نه د ګلونو نه د خزان نه
او ما ځان له غم کړ بخپله جوړ د خندا نه خوشحالۍ نه
د وصال نه د خمار نه د بهار نه د اولۍ نه
او ما ځان له ژوندون کړ بخله جوړ د امید نه د رنا نه

زه خود شاتو یوه مچوړ یمه
شات پیژنم او گل پیژنم
زه یوه وړه اولکۍ یمه
ستا له را تلل او تلل پیژنم
زه خو یوشرنگ د گونگرو یمه
پښې در قاصې کښې تال پیژنم
زه یو بخری د سوز یمه
غم پیژنم او وصال پیژنم

ځوانه

سوی باغ تالا گلشن دی
نه بلبل نه لولکۍ شته
دا گلاب دی اورې شوی
ای پښتو نه ستا وطن دی
د دې باغ خاورې را واخله
ای د سوی باغ مالیه!
ای چه ښکلې ستا نه دورې
ته خبر ئې چه نه شوې وې
ستا شمال چه نه شوه ورنه
په مستۍ او ښکلې نه سوې
ای د تیټو سر کوډو انه
د دې باغ خاورې دې واخله
ای دوران شپږ میږ مې
بې در که سر گرداڼه
ای چه نن ورته بچې ستا
ستا د لاس مانیه ولاړې
ای د نن د در مریده!

مړاوی گل خاورې چمن دی
نه نرگس نه یاسمن دی
که په اور سوی خمن دی
ای پښتو نه! ستا وطن دی
تر یې نوی بوستان جوړ کړه
د نورو نو جهان جوړ کړه!
نن پښې اله سر سر تورې
ته د مینځ اسمان وې سورې
شوې په ښکلنه شمال نورې
ستا د تیټې سر کې نورې
پاشه هغه جهان جوړ کړه
ورته نوی بوستان جوړ کړه
ای د رزی بچی پلاره!
ای د سوی باغ ماله!
د خوراک په کشاله دی
په ډهلي په بنگاله دی
پاشه هغه دوران جوړ کړه

د دې باغ خاورې را واخله
تر هغه نوی بوستان جوړ کړه

ای په غره په سر درو کښې
په جنلول کښې په تیرا کښې
ای د زرکو په خندا کښې
په باغو نو په میرو کښې
زمالال پټ په ایرو کښې
د تنخر و په نارو کښې

په جر مست لکه خر په سر کلك لکه غر

په زړه سپی لکه سپی مر بړا فر یړا

په‌خوی خوږ لکه کوک بهوسی‌ایمانی دبهو ک

یارانه ئې لیقړی لکه سخاهر یړا

کله میا و د پښو کله غپ د خړ و

کله غړم د زمری کله سړ بړ سړ و

کله شر نګ د لیلی کله ر نګ د ملا

کله شپول کله‌زور کله ګل د لالا

کله پرش دسحوبدر کله سویت ده دهوس

د ده شان دحاتم او ایمان د چړ وس

دده‌شتهد ګرنګټ مربړا فر یړا

یارانه‌ئې‌لیقړی لکه سخاهربړا

ګاړې وړې

مسلومې ړیکی دروند کړ یاره ماته نکسیږ شه

نور در و تو تاب مې نشه پر اته شه چپاتیږ شه

دا اوږ دې اوږ دې خبرې داواړه واړه فکر و نه

دهای های دکړلو بهم ما ته هی تتیږ نښیږ شه

ړند وستر ګود پتنګ ته دنورو نوقصې‌به کړ ه

پتنګ لمرته کتی نه‌شی ډیو ګیږ شه‌موم باتیږ شه

ما ته ما شیه ! ته فصې دها نیا نو دتو ل مه کړ ه

بس په‌دغه ځای ئې پریږده بهکتیږ شه‌بهکتیږ شه

خړ و

تو تو تو حړ و ! و و ه نه تته !

اړمان زما لندی له فرنګ شنه جامه کړه کته

• خبرې او س پسـتې کوټې شملـه ئې د ه بې بته

یو نوی اسلام راغی دخانانو د محلته

د نړیا رو نه د شپیرو نه — د غمو نو نه د سودا نه
اوماخان له مرك کړ پخپله جوړ — دژوندون نه د مستۍ نه
د پسرلی د ریږو ګلو نه
د لاوتو نه د خوا بیږ نه

دعا

اې د حسن او نور دریا نه ما له یو ټکی د نور را
ستر ګې ړ کې د خندا را شونډې ړکې دسرور را
ره دې خپل وړو کی زړه کی اه بوه شبه دیار غواړم
اې د حسن او نور دریا به ما له یو ټکی د نور را
د ې تك تور د غم محل به یو سحري د رنا را
ستر ګې ړ کې د خندا را شونډې ړ کې د سرور را
دې مستۍ او دې ارمان لهٔیو تصویر دجانان را کړه
سما په مینه نیار ندل را سما به سکلی مخ غرور را
دې دخود سوی ناعچې له بوه وعده دیار غواړم
ره دانه وایم چه جنت را ره دانه وایم چه طور را
ددې حوب دسما او وحت اشاره دتعبیر را کړه
ماله زړه دبادشاهانو او سینه دفقیر را کړه

۱۸ ستمبر ۱۹۴۵

ګـډې وډې

دا څوك دی؟

د چا نه حبه دی او چا ته په قار دی؟
په ژمی وا ورشی په اوړی انګار دی
بلار ئې ژوندی دی خو پخپله پلار دی
په کمزوری سقر دی زورا ورته ګل ګلزار دی
په بدو ئې پیاز ږی خو به سر یې دستار دی
به لاس کښې تیغ دی په خوله کښې نباماردی
د شیطان مرید دی خود خدای تابعدار دی
خبره یوه نه منی خو هښې یار دی

الله ! زمالندی تن د فرنګ نه ګټی ځان
الله زمالندی ، هم ګټی مصر هم ایران
وئی نیت مې د کعبې دی خو لندن ته دی روان
هندو دی فیرنګی ته خوئې نه لګی هندوان
ارمان زمالندی تن نه کوکړدی اونه بته
ووه تته تته خپرو ! ووه تته تته

پرون زما لندی چیرته ولاړو په ویران ؟
پرون زما لندی چرته خوړل پردی توتان ؟
پرون چه جهان وران ؤ ، ورماله وودان
پرون د خدا په دین ؤ چه دانن شو مسلمان ؟
زما دنیا دی مشره ! ستاوی غم کسې کومه پته ؟
ووه تته تته خپرو ! ووه تته تته

زما لندیه ! واوره دیوندی لګیدې ځار شم
د ښمن ته مې د ښمن شه بوره یار به ستاد یار شم
که ځې دجانان کورته زه به ستا د پښو غبار شم
ته ځارشه په وطن بوزه به ستاد سترګو ځار شم
که سم نه شوې روان ، چو کله زه درووړمه ښکته
ووه تته تته خپرو ! ووه تته تته

اسلام

ای په اسلام مینه ! ای سیاسی ګوډ منه !
نن چه اسلام ستا ئې سمایه دې شوک پرون ؟
دا هغه مخ د تېوس خو نوی شنه پروسه
دا د عقاب پنجې د نبا پیرك دروبه
نن د جنت وعدی پرونی دوزخونه
چاربیته هغه زړه خونوی دی سروبه
ای په اسلام شیدا !
ای سیاسی ګوډ منه !

چه خوشې ئې دی موټر دا کړې هجرت دجماعته
تیز ګرځي په پټر ولو کله بره کله ښکته
په بډه تما نچه ګرځیي وبریږي د پندړ ته
وره تته خروا ورېته تته

ارمان زما لنډی نن په اسلام کړی دې ننګ
ارمان زما لنډی سبز کال کرلی دی با درنګ
ارمان زمالنډی کښې دی چالونه رنګ په رنګ
ارمان زما لنډیه اکله پلن شي کله تنګ
ارمان زمالنډی وی کله بره کله ښکته
وره تته خرو ا وره تته تته

ارمان زما لنډیه اري خیبه دهانی
په نسب فتح خان او په خوبو جلاتی
ارمان زما لنډی ربړه کښي ربړه کیمه سایی
ارمان رما لنډی نن کړی کاروبه خیراتی
رما لنډی حاجي شوبه سوګان وهي نه‌لمه
وره سه سه حرو ا وره تته تته

زما لنډی غصه دی نن غیرت دمسلمان ګټي
مړواه جنت ګټی ژوند وله دا جهان ګټي
څوي له‌نوکری ګټي اوځان له پاکستان ګټي
داستا درقیب دلال به نن باله جانان ګټي
په‌بډه تما نچه ساتي ویریږي دپنډو ته
وره تته تته خرو ا وره تته تته

ارمان زما لنډی چه پنجور لکه رمري دی
په‌لنډه کښي‌نه‌درو مدی‌خو کرړو کښي‌نری دی
په فکر افلاتون دی په اخلاقو ښاپیري دی
په عقل لږ مېخین دی خو په زړه چرچری دی
ارمان زمالنډی دی ډك د چل او د حکمته
وره تته تته خرو ا وره تته تته

(۱) پګټیږ - دپښتو شعر یوصنف -

لېز خو پدې سوچ وکړه زما ساده پښتو نه !
اصلي مو من کړه بېل
له سیاسي مؤ منه !

ځوک د عیسی په شان ؟ مستي د دار اخلي ؟
ځوک د نمرود کاله کښې ؟ د موسی لا ر اخلي ؟
ځوک د رقیب په محل ؟ نوم د دلدار اخلي ؟
ځوک ټول جهان غورځوي ؟ سترګي د یار اخلي ؟
غماز لېز و پېښ نه ! ایاز لېز و پېژنه !
اې د کښو وطنه !
اې دړندو وطنه !

سیل

څه چه لېز سیل وکړو بره آسمان ته ځو
د دې تیارې له کوره د نور جهان ته ځو
څه چه مستي راله ورکړو د بې خودۍ وزرې
څه چه جنت ته ځو څه چه رضوان ته ځو
دا د خزان تیارې کړو په تیار و کښې ورکې
څه چه بهار له ځو څه چه بوستان له ځو
دا د جهان حبرې دا د ملنګ ټکورې
تخت تاؤس ته ځو ماه تابان له ځو
او د رقیب د کوڅې در بابې به کوو
مو نبز مستانه لیونې کور د جانان ته ځو
مو نبز د جانان د شور نډو شراب ځکلي دي
ځکه مست مست مجنونان نن بیابان ته ځو
مونبز بو ، بخرې د نور لرې لیدلي دي
د ګل په شان په خندا غېږه د خزان ته ځو
راځه چه هیرې کړو د دنیا ګډې قصې
څه چه لېز سیل وکړو
بره اسمان ته ځو

٩ جنوري ١٩٤٦

ستر ګي دې برګي بهر   برک دې ایمان د ننه
پرون ئې ځان نه ګاته   نن دی اسلام ګڼي
په خرڅ د ننګ دپښتون   خپل ننګ او نام ګڼي،
زما په ویښو چاله   ایران او شام ګڼي
او د شراسوتا جر   ساقي او جام ګڼي

اې په اسلام مینه!
اې سیاسي مؤمنه!

څه به وي رب نه حیا   چه ئې د ګور دننه
تا د پښتون ستر ګوته   د تیارو جال جوړ کړ
او د جناح د خرۀ   دې خرد جال جوړ کړ
غلاف کعبې له دې   دوایټهال جوړ کړ
ما له لندن کښې تا   نوی هلال جوړ کړ
او د بلا نه دې   ما ته بلال جوړ کړ

اې په اسلام شیدا!
اې سیاسي مؤمنه!
ګلاب نیوی نه شي
چرې د زوزونه

او د رقیب نوکر   نن ما له یار ګڼې
زاغ نن بلبل ګڼې   خزان ګلزار ګڼې
ښاپیرک جنګ له ورځي   د شهباز بلار ګڼې
نن په بورا له ګوښکې   د ګلو هار ګڼې
او د کافر نوکر   ګړی د اسلام پالنه
اې د ګنهو وطنه!   اې د ړند ووطنه!
او ګوره شرمنې ته   کوي د شپون اواز
نن چه بانګونه کوي   څه ئې کړ پرون اواز
د نفرت کړیکو کښې   د مینې سوزا و ساز
پرون عمل د یزید   او نن نامه د ایاز

ساقي

دساقي لاس کښې شراب دی
د خندا دی که دغم دی؟
چه‌د سوز او که د ساز دی
د مستیٔ که د ماتم دی؟
ساقي ستر ګې مهر بانې
خوږې ګړې په ستم دی
د ساقي شونډو مدهوشو
کښې خیالونه‌د کرم دی
دا تپوس له مانه مکړه
چه‌داډبردی‌او که کم‌دی؟
دا نشه هم د صنم ده
دا شراب هم د صنم دی
میخانه هم د صنم ده
مستانه‌هم‌دصنم دی
زه ګې خښمه ستا په نوم
دژوندون که د عدم دی
جام په سر سرپه سجده‌یم
یو قطره دخمار غواړم

دد لدار وصال به ګیږی
زه‌تش‌خیال‌ددلدار غواړم

نوی کال

خاونده بیاسپرلی‌شود نیایو کال واړاو
چاپه ‌پلتون‌واړاو چاپه وصال واړاو
چاد نتو په شان په ساک او دال واړاو
چاد صاحب په شان دبال په مال واړا و
شوك په سفرلاړل بلخ‌وائې مال واړاو
چادګونګروپه‌شان‌په‌شرنګاشرنګ تیر کړ
چادسپوږمۍ په‌شان په‌رنهارنګ‌تیر کړ
(او)لیونی داهم‌ربه لکه پخوا واړ او

څه ئې په خنداواړ او څه‌ئې په‌ژړاوا ړاو

رڼادشمع کښې‌دسحر نور رافې

تا و د غرمې لاړ ما سپینینی شو
لکه د می نخ بساد سینی شو
سر و ر د ستر ګو ډیر خو د ز ړ ه کم شو
او دفراق استا ځی مخ د صنم شو
ساز کښې سر و نه نن د خا مو شی خېژی
دهوش جنډې په ګور د‌ې‌هوشیۍ‌خیژی
باد شا ه شې و نکی شو د خپله ګور ه
دشفق سره ر نګو نه شو لړ ه تو ر ه
او‌نسه‌تار کښې‌شرنګ‌هغه‌دماښام نشته دی
سرو ر په ستر ګو کښې د خیام نشته دی
پښې درقاصې سرې خوتال‌ئې هغه نه دی
با نګ دبلا ل هغه بلا ل ئی نه دی
په‌جام کښې‌ګوټ‌ګوټ‌شراب که کمېږ ي
سپر لي‌خلا صیږ ی ګلا ب کمیږ ی

ګډې وډې

دمحمو د غمګینۍ سترګې
ځان له خپل ایاز لټې ،
که زما بېګا نګې نن
ستا د زړه نیاز لټې ،
د لیلی سترګې ژړېږي
دمجنون دسترګو غم کښې
نرګس مړاوی مړاوی ګوري
د بلبل اواز لټې ،
دا څه وجد څه مستي ده ؟
چه الله ترې آدم جوړ کړ
که معشوق دمینې ساز له
د عاشق اواز لټې ،
په دا غم د فلسفی دی
نه دار نګ د لیو نی دی
دګو نګر و شر نګار روان دی
حقیقت دساز لټې ،

مسلمان

مسلمان هغه بنده دی
چه څوندې ئې تل موسکې وی
سترګې ئې کې در نیائې
له خولې ئې په سل موسکې وی
سپین ایمان ئې لکه تندر
ئې د ځان به هر څه سیځي
دجانان د دربار وته ئې
زلفې ول په ول موسکې وی
چه ئې زړه ډک د ارام وی
لکه بېخ د سمندر وی
خوله ئې څکه د ګلو نو
لکه باغ د صنوبر
داسې مست د اسې سر شاره
لکه مینه د کافر
اراده کلکه ئې کړي
لکه څوکه د خنجر
دو جو د هر ځائکې و ینه
سره په مینه د دلبر
په سینه کښې ئې رنا وی
لکه څړیکه د جوهر
په ژړا کښې ئې تاثیر وی
په خند اکښې ئې اثر
مټ ئې بر په هر څه بروی
لکه مټ د سکندر
دزړه نور ئې لکه شمع
برې اوورونه بل موسکې وی

دبلبل د خولې اواز ته
داغوټۍ د ګل موسکې وی

اگست ۱۹۴۷

نن انسان شوی انسان د وینو تږی   نن مجنون شوی جانان د وینو تږی
داسې روند په سترګو روند شو لو د تند ی   چه تر پورته شو حیوان د وینو تږی
دا محل د چاباچا د شان او شرنګ دی   که دا پروت دی بیابان د وینو تږی
دا قصه د یار د ګور او اسنا سی ده   که د ظلم یو داستان د وینو تږی
داسې زهر چه نباما رو رته پسخیږی   داسې تاو چه کړی جانان د وینو تږی
داسې قهر چه اسه کړی خپلې سترګې   داسې ځان چاوی د ځان د وینو تږی
داسې رنا چه د آدم په وینو مست وی   داسې شر چه کړی اسمان د وینو تږی

لیو نیه ! د مستۍ باغ ته تږی تښته
نن د ننه دې مری جهان د وینو تږی

قول (۱)

ځان نه دی دام نه دی تول! کچکې تول!   یا نه په دولخان شې یاره یا نه شی په دول
یا په قلمه نوسې یا تق په دلت (۲) وا ترې   حال نه دی دام نه دی تول! کچکې تول!

ارمان

ماد ګاو بانې کړلی و خزا ن کښې   د جنت خوب مې لیدلی و جهان کښې
ماد مځکې په مخ هغه لال کړلو   چه موندی شی په بر جو نو د اسمان کښې
او زما په ځوانۍ مست په عشق بې خود زړه   فرق و نه کړ په تصویر او په جانان کښې
زه پخپل ارمان مین وم په ما به وم   څکه ورځې تیرومه په ارمان کښې
ته چه راغلې سنا د ز اف او ارمان لاړه   های مستی د مجنون پاتی بیابان کښې
دا اله نو دد صال زمان ټوپ کښې ورک شو   هغه یار چه مې موندلی و په زیان کښې
زه په نیم مست په فراق باندې مد هوشه   مرم د تندې د ګلو نو په باران کښې
پتنګ روند شو د لمر سپینې رنا روند کړ   او لکه د ګل پسې ژاړی ګلستان کښې

د ځوانۍ مستی مې شوله ځوانیمرګه
د جنت خوب مې لیدلی و جها ن کښې

(۱) د مندې په شان یو ژبل. (۲) هغه آله چه مرغۍ پکښې نیولی شی او نکی هم ور ته ویل کیږی .

او : ــ رنها د شمع کښېږدسحـر نو ر راغــی　　باغ د بلبلو ته نو م د باتو ر ر ا غی
دغو تۍوستر ګو له خیا ل د خزا ن ر ا غی　　لېز ه مستی لا ړ ه ا و لېز ا رمان راغی
او دفراق سوري به وصال پر يـوت
ستوري راوختل ا و هلال پر یو ت

٤ مارچ۱۹٤۹

پلو شه

زما بخت دشمع بخت دی یا به مرمه یا به سوځم　　یا به بیخ له ددرباب ځم یا بهٔ یاسر به چپوخـو ځم
عجب ز ه عجیبهٔ لاره عجیبه کاروان روان دی　　ماورو سنی پراو له بیائی ګهٔ ز ه ځمهٔ او که نهٔ ځم

هیله

ربه! دا سې لېونی شوم په نوخیال باندې مین شوم
ځم چرته بیزم سمندر کښې په نولال باندې مین شوم
ربه ! داځنګه مستیده چه جانان مې پکښې ورک کړ
ګهٔ په مخ د یار دستر ګو په دلال باند ې مین شوم
زه دسند دځناو نه وم یوه لپه مې کړ ه پو ر نه
زه دلمر دمینې نه وم په هلال با ندې مین شـو م
چه مې په ځانګېد سینه کښې به خوبو ګښې مې ځای کړ
مخ مې کړو مخ جانان ته په یوخال باندې مین شو م
دامستی نه ده ځوانی ده نه مستی د ه د شر ا بو
دا خوزه دیار دستر ګو په نو خیال باند ې مین شـو
دامې ـا ګـ ر لیلی واور ېد ګـه سـا یـنـه د بلال ؟
که دیاردپایلو شرنګ کښې په یوتال باندې مین شوم
پتنګ پروت ورته تیاره کښې په بانهٔ دشمعې مست شو
که داره د یار د ستر ګو په یوخیال باندې مین شوم
ملخ سوري دلمرولیـد په یوځاڅکی دشبنم کښې؟
که صنم ما به موسکی شو په خوبو نودصنم کښې؟

۱۱ مارچ ۱۹٤٦

چه ئې زورو که جمال و مالې سر په پټو کښې کېښود
چه په زړه ترې ګرځېدمه اوریې لرې د مستو

د فراق سلو صد وله یوه لمحه د دیدن بس دی
د غم زر کاله ایرې کړي یو بڼري د مستو

بنده

بنده بد لیبزی داسې بد لیبزی
لکه بدل شی چه وخت د کال

کله پسرلی شي کله خزان شي
کله مستي شي کله وصال

کله یو حسن شي یو سور او خوب شي
کله مجنون شي یو لیونتوب شي

کله فریاد سلګۍ، کله نرتوب شي
کله سینه د سقراط کله خرتوب شي

کله ارمان د سپېږه او کله لال
کله مستي شي کله وصال

مینه مستي ده داسې مستي ده
لکه چه مست وی د ځوانۍ خیال

مینه مستي ده داسې مستي ده
لکه چه مست وی د بنګړی تال

کله سور ګل شي د پسرلي شپه شي
کله منصور شي کله بلال

کله یو غم شي ساز او ستار شي
یاد غوټۍ ارمان د ګلو هار شي

کله سرود د سوز کله چغار شي
کله قصه د بنا یست کله دلدار شي

کله سینې د حورو او کله ئې خیال
کله مستي شي کله وصال

غم یوه نشه ده داسې نشه ده
لکه نشه شي په بانګ بلال

داخو یو نقش دی د عاشق زړه کښې
دیا رد ستر ګو دی خط او خال

کله شراب شي مست او سرشار شي
کله د زهرو جام شونډې دیار شي

څوک ئې تسپې کړې د چاز نار شي
کله قسمت شي او کله اختیار شي

کله ماښام شي کله هلال
کله مستي شي کله وصال

(خو: -) بنده بد لیبزی داسې بد لیبزی
لکه بدل شي چه وخت د کال

وچ ئې ارمان شي هیر ئې جانان شي
هیر ئې مستي هیر ئې شي وصال

۱۵ جولائي ۱۹۴۲

مړه شمع

ما ته نسیمه مه وایه / مه وایه! یار به صبا راځي
ته ، مستوړ خبرې کړې / ماله ژړا ژړا راځي
اې دړنده و مسئلو ملا! / اې داوړ دو مسئلو ملا!
ستا به دې راز و ینا زړوري / ما له خندا خندا راځي
ماهم یو خوب لیدلی ؤ / ما هم یو باغ کرلی ؤ
ته چې قصې د ګلو نو کړې / ما له ژړا ژړا راځي
زه هم یوشان د ځوانۍ ومه / زه د مستۍ یو تصویر ومه
اوس یوځ رهدا یرو یمه / څه که بیګا صبا راځي
زه لکه مړه شمع ورکه شوم / ور که به طمع د سوز شومه
ګله به لاس د ساقي راځي / ګله به اور او رنا راځي
نلۍ ځوانۍ چه لاړه شي / چر ته به بیر ته بیا راځي

ته د مستوړ خبرې کړې
ماله ژړا ژړا راځي

بکواس

راځه زما زړګیه یوبه ته شې یو به زه / یوه‌وړه لو لکه او یو ګل دلا لا
یوشرنګ دغوروځنګ رنګارنګ دمستی / شو سور په ملغ په خندا خندا
روان شو جانان له په سراو سرور / په‌نیاز په خرام په مزا مزا
یا خوب به ئې په کټ داو لکی ، کاوه / یا ته به داور اور کوړه رنا

خوړوب به قطرې د شبنم کښې شو
او چت په ملغ په خندا خندا

پلوشه

او د بنده مثال لکه د خس دی / تودشي لوګی و کړی رنا کړی جوړه
لمبه شي وسوځی خاورې ایرې شي / بوره‌ابوړ بری ژړا کړی جوړه

دوه خبرې

نن مې ماته جانان وکړې دوه خبرې دمستۍ
دفقیر کچکول کښې ګوره ملغلرې مستوړ

ګاډې وډې

پښتو نه ! تګې جنه ! تا ملا با باد هو که کړې   راضي شوپه پېتی دګل ګلونه خبر نه شو
او پیر غریب حیران دی کله غپ کړی کله ګاوُن   پیریې لاړه لاړه دائې دتلونه خبر نه شو
منمه د جناح ګاګا چه پوخ بنا نګ له راغی   د ډېوډ ګوتکه دګولونه خبر نه شو
ګوره لیونی ته په مړه خیټه بوډا شو
دخولې اود اولمو دسلسلو نه خبر نه شو

قصه

تو ره تو ره شپه دهجر ی   تو ده تو ده د غم قصه
سپینه سپینه نشه د خوانی   سپینه ښیسته د شبنم قصه
ښکلی ښیسته د امید ر تیا   سپوره زړه د ستم قصه
خوږ او مهین دی نوم د یار   ښکلی پسته د صنم قصه
ما ته قصه د پسر لی و کړه   نا ورم دډ یرا و کم قصه
ما نه قصه دجانان وکړه   ناورم دډیرا و حرم قصه
ما ته موسکی مخ را واړ وه   پریږد ده د فضل او کرم قصه
وا یه د رحم او نورخپل   مکړه د وران او سم قصه
زور اواورا او شوردا   داده ستا د کرم قصه
شرنګ سا غور ځنګ دزړه   داده زما او صنم قصه
اورا وحورې سوز او ساز   شه د مستۍ شه د غم قصه
ما له خندا خندا را ځی
مه کړه دوران او سم قصه

ګاډې وډې

ډیرنر ز مالالا ؤ خوچینۍ (۱) رانه خراب کړ
ملا پېتی ته تینګ ؤ خو فیر نۍ را نه خراب کړ
صاحب هټلر کړ فتح خو ګیخیټه فتح نه کړه
دې ترشی مصالی هند و ستا نی را نه خراب کړ

(۱) پښتو نستان . کښې وری ته چینی وائی - پوخت چه بوره ډیره سخته شوې وه د پوخو بوټر یو پر مټ لوی رشوت اولالچ ؤ چه دانګریزاو دهغه دوفادارو له خوا نه د قومی تحریک ملګرو ته ورکړی شی کیده - غنی دی خبرې ته اشاره کوی.

ګډې وډې

څه که نه يې وينمه سرې سترګې خمارې
زه يې پېژنم د سرو سترګو خمار

نه کعبه مې ده ليدلې نه پرې پوهېږم(۱)
نه خو پېژنم لولېږ او لاله زار

نه مې حوره ده ليدلې نه يې غواړم
زه ليدې شم سپوږمۍ د رڼا تار

غريب خضر ژوند ليواله د چينې کړ
ماله ګوټ را کوي شرنګ د ستار

لکه پوخ د سمندر ډوب او خاموش دی
داسې پروت دی د مستۍ بېخ کښې قرار

او پرته د قرار جبرو کښې مستي ده
عجيبه مرګی ته ده عجيبه لار

په نصيب او په تقدير مې بري وکړ
توکل يم شو قسمته يې د اختيار

په جنت او په دوزخ مې څه کار نشته
د دې دواړو بهره ماليد لې لار

له جزا او د سزا سره بې پروا يم
خوږو هېږم په فراق او په ديدار

که غمونه که فراق وي که ديدار وي
مستون ګوي کنځل هم د دلدار

په خدا به شي غني په لمبو سور
په دې شنو سترګو د مستا پېرزو شو اور

دنياګۍ

دنياګۍ څه ده غم او غوغا څه ده
سوې د اور سوز او سودا ده

ليوني وائي ياره خره داده
چاجوړه کړې ځان له ښه شغولا ده

ډالۍ

سرګې دې رنګينې دي يار بڼې دي مهينې
شونډې دې ترسکونې او خبرې دې حسينې

ستا سينه د ساز او د ارام يو حرانه ده
ځي د هر چا شوندو له ستا ګوتې سپينې سپينې

اې د جام او رې اخزانه دعشق دې لوټ کړله
چاله لږ ډکې ډکې چاله پېنې پېنې

د احور د جانان د سترګو رنګ د زړه مستي ده
دې نه جوړ جنت دی او د حور وخولو ريښمينې

تاچه باغ تالا کړ د ماليار کورله به څه يوسې ؟
ته چه زړګی تش کړې نود يار کورله به څه يوسې ؟

۲۹ جولائی ۱۹٤٦

---

(۱) پوهېږم.

ځوانه

ور ان دې ګلستا ن دی اې بلبله ! دپښتو ن دبا غ
نوم در قیب لیا ی په هر بو تې د مجنون د با غ
خوارو زار بچی د ې بې هنر ه بې کما له د ی
غوزئی دی کاته لاسونه شل ستر ګې پر کا له دی
لال پوب دی ایرو کښې اومرجان پروت دی په خاورو کښې
ځوی دشهباز ګرځی چڼړی خوری په ځیل دو اورو کښې
پا څه اې ځلمیه ! مستی تو ر ه او ا یما ن و ا خله
شړ ق شه او ر شه تند رشه او نر شه خپل جانان واخله
ځار دې د شنو بر یتو شم غلا م د غلا م ځو ی ئې ته
پرو ت په دوؤ سترګو کښې ئې ګه ز ر ځله ځلمی ئې ته
تو ره دې ر او اخله ننګ پښتو او اسلام پور ته کړ ه
له خپلو مستو ستر ګو دې نامه د غلا م پو ر ته کړ ه
پاڅه ننګیالیه ! نن دلبر او جانان و ګټه
نوم د پښتون و ګټه ناموس د افغان و ګټه
ټول جها ن حیران کړه دخپل شا ن په تما شا
اې داحمد ځو یه ا ې بچه د شیر شا ه !

سلا م

نه سا ز شو نه سو ز شو
بس هسې ژ و ند تما م شو
نه خو ب شو نه شرنګ شو
نه یا د ګل ا ندا م شو
دا تو ره تو ر ه شپه ر ا غله
نه ستوری نه سپوږ مۍ لری
ځوا نی و ه لا ړ ه لا ړ له
یو ګو ټ او حا لی جا م شو
یو ستو ر ی د صبا ؤ لا ړ
سو ر ګل یو لا له ؤ لا ړ
سور لمر ز یړی ز یړ ی شولو
نر ی نر ی ما ښا م شو
قصه د حسن هیر ه شوه
مز ه د مینې تیر ه شو ه
ملا بـا نـګ د صبا و ې
اخـر په سـو ل خیـا م شو
مستی بې پر وا ئې ور ک
په خود کښې ږ خودی پو ب
(او) :- ګورهلیونی هم نن
با د شا ه ته په سلام شو

او خان لا لا مې ورك ۋ په اسلام او په‌ملت
مريد شبه د جناح ۋ خو جينوړ رانه خراب کړ
ګوره ليو نى به ډير پخنې او لونى قاضى ۋ
قصې دا د م خان او د ر خانو رانه‌خراب کړ

اې‌زماوطنه!

اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
ستا هره دره کښې دى د تور ونښانې زما

زه يم ستا د خاورې ته زما د مينې جوړ ئې
ته مې د غيرت او د پښتو ر نګينې جوړ ئې
ته مې د نيکه او د بابا د وينې جوړ ئې
ستازړه کښې‌ويدې‌دى ټولې ټللې زمانې زما
اې زماوطنه دلالونو خزانې زما!
سترګې مې‌لوګى‌شه ستادخاورو د کورونو نه
عقل مې اېرې شه ستا د پاره دفکر و نو نه
ځارشمه قربان شم ستاد غرونونه‌سيندونو نه
ستا هره دره کښې دى د تور ونښانې زما
اې‌زما وطنه دلالونو خزانې زما!
ستاعزت چه‌نه‌وى زه‌به‌نوم اوعزت‌څه‌کړمه
ته‌چه‌خواراوزار ئې‌زه‌به‌خوب‌اوراحت‌څه‌کړمه
ستاسرچه‌وى ټيټ‌نو به‌زه‌شان اوشوکت‌څه‌کړمه
مسته به دې خاوره کړم په وينې مستانې زما
اې‌زماوطنه دلالونوخزانې‌زما!
يا خو به دې سيال کړمه وطنه د جهان
يابه ستا په پښو کښې توري خاورې کړم داځان
زه به دې دېږې شم خو تا به کړم ودان
نريمه پښتون يم تا ته ياددى افسانې زما
اې‌زما وطنه‌دلالونوخزانې زما!

مستي

چه مې زړه مست و دنیا وه مسته   ګلونه مست وو لیلی وه مسته
چه مې زړه ډوب شو دنیا ویده شوه   ګلونه مړاوي شوه لیلی ویده شوه
چه مې زړه مست ؤ شوندې تودې وې   د زهرو شوندې به هم خوږې وې
چه مې زړه ډوب شو شوندې مړې شوې   یخې د اورو په شان د حورو خولې شوې
چه مې زړه مست ؤ سترګې مې سرې وې   مدام سپوږمۍ وه د سپرلي شپې وې
چه مې زړه ډوب شو سترګې هوښیارې   حزان مې مل شو په نیمه لارې
خدا یبز ژوندون بس ځوانی مستی ده   دا نور ژوندن نه دی یو کړیده دی
سترګې چه خې شي رب دې کړي پټې   چه مستی نه وینې داځه اسیده دی
او ما ښامي یاره ورو را روان دی   سبا به چونګ خاوري وي نرغنی خاندي
جانانه شوندې ماته نژدې کړه   چه زړه مې مست شي دنیا شي مسته

چه بیا سپرلی شي ګلونه سره شي
چه ځواني دا نګ کړي خندا شي مسته

۲۱ ستمبر ۱۹٤٦ع

زړه

اې په ښیست مینه جوړ ؤ نکی د ګلاب ربه؟
ستا ښکلی دنیا شوه د ښاروي او د قصاب ربه!
اې چه د ماښوم سترګې دې جوړې کړې د ګل په شان
وو کې او خوږې خبرې د بلبل په ژبان
زړه ګې یاك د بدو د هر خیال او د ازار نه پاك
پاك لکه شبنم ؤ د ګناه او د ازار نه پاك
تا چه چا ته تیت د فرشتو ښکلي سرونه کړل
جوړ چه د چا سترګو له تا ستوري او ګلونه کړل
تا چه د چا حسن له د ښکلو سترګو نوره ور کړه
تا چه د خپل ځانه چا له مینه او سرور ور کړه
هغه محبوبه ستا آدم نه دی ادم خور دی
آښیسته ګلاب ستا ګلابونه دي او وردیا ږ.ی

دژمی ماښام

او نن د ژمی ماښام — د جږ ی شپه ده
پوست شبنمی باران — بهرورېبږی
غاړه داوراو خیام — شروع قصه ده
د شاعرسراوستار — مهین غبږيبږی
ټنګ او ټکور د ژوند — ناز اومستی د جانان
شرنګ دخوانی کښې پټ — شاتار دغم وهی
خندا مستی د ساقی — بت پرستی د ساقی
ستیندې (۱) دمرګ سره — دګونګروشرنګ وهی
او نن د ژمی ماښام — دجږ ی شپه ده
پوست شبنمی باران — بهرورېبږی
یار شروع کړې ماته — د غم قصه ده

کله موسکی شی
کله ژړیږی

ژوند

هرڅه درب او همه درب — زه یو ماښام له راغلی یم
باغ او انګور میخانه دبار — زه خویو جام له راغلی یم
مینه مستی او خمار د ښ — رقص اوخندااوسیګاردښ
ګل اونرګس اوګلزاردبل — زه ئې تش دیدار له راغلی یم
زه دلو لګې وړې په شان — ګل اوغوټۍ او بهار ګورم
زه لګه شمع بلیږ مه — ښیست اومستی ددلدار ګورم
لوی سمندر د مستۍ له ما — شاڅکی درنګ راوړی دی
زه پرې دلمر رڼا لټوم — ما هم مشال بل کړی دی
هرڅه درب او همه درب — زه یو ماښام له راغلی یم

باغ او انګور میخانه دبار
زه خویو جام له راغلی یم

(۱) ستیندې ـ ستینې ستاینې هغه ساندې چه دمړی په سرئې ښځې وائی .

رباعي

که پتنګ د لمر رڼا نه شي ليدلې
ګنهګار شو که په شمع شو شيدا ؟
زړه ګڼې چونګ لپه ايله دخاو رو ځاى شي
چې ته ځاى کړم پکښې دادنور د ريا

خندګه خنکه په يو ګوټ کښې دا جهان او اسمان واچوم
(او : -) دشبنم ځاڅکو کښې خنګه دسيندو نودوران واچوم
بيا لا دا ددې دپاسه به حساب او کتاب کم وى
درندوستر ګو بادشاه له به سزا اوعذاب هم وى

ربه زما ربه دمستۍ او دخزان ربه !
اې د تږو تکو دکوړ کړو د جانان ربه !
اې دښکلو ستر ګو دخمار اود ارمان ربه!
اې د کشمالى او خيټو را او در يځان ربه!

خنګه خنګې په يو ګوټ کښې دجهان او آسمان واچاو؟
دشبنم ځاڅکى کښې خنګه دسيندو نودوران واچاو؟

۱۳ نومبر ۱۹٤۷

نور او سينګار او خمار

ګل د ښندنه ښايست ستر ګو له پسته رڼا
شونډو ګښې دابيخودى شونډو کښې نشه نشه

ښيست له دخپل ځان په شان نور او سينګار او خمار
يار دخندا په ځاى سپين د سرو ګلو نوهار

مينې له دې زور دسندر ، زړه دبا چاور کړه
سا ز لره آو از اثر ښايست تا دڼنا ور کړه

ما له دغمو نوار ما نو نو جهان را کړتا
ماله زړ ګى يو ست اومستا نه او حيران را کړتا

هغه‌ستادلاس گل پروت‌په‌وینو کښې‌سمسوردی
ستا خلیفه ربه ! ادم نه دی‌ادم خـور دی

تا چه چاله جوړه کړه‌دحسن‌او گـلزاو قصه
ور کړه مشغـولا له دي دمینې اود لدار قصه

تاچه‌چاله‌ستوری‌اوسپوږمۍ‌اوماښام‌جوړ کړ لر
تا چه چاله مینه او مستۍ اوخرام‌جوړ کړلو

ستر گې ئې دی پټې هغه نن دزهرویینې ښښی
ستا په نامه ربه ! نن سړی د سړو وینې ښښی

اول‌ستر گې‌ستادلیدوخورا!

زه خو ساز اوسر وراوخمار پېژنم
زه لیلی پېژنم یا ایاز
زه خو غم او غر وراو ژړا پېژنم
زه نه جانان پیژنم او نه نیاز
دي نسکور شمکورته د نو رقصې ؟
د جنت قصې د جلال قصې ؟
منبز کوری ته د زهرې قصې ؟
د ماښام قصې د هلال قصې؟
زه خو گل او چمن اوشراب پېژنم
زه بهار پېژنم او خزان
زه‌خوشرنگ‌اورنگ‌او کباب‌پېژنم
نه گناه پېژنم نه شیطان
دي شمکورنه‌ستا د لید و طمع ؟
دي نسکورنه تا ته د تلو طمع ؟
اول ستر گې ستا د لید و خورا
بیا کوه د مینید و طمع
زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم
هغه‌خورم ربه ! چه ئې ښکلی شم
زه‌خوشرنگ‌اوغورځنگ‌اوسنار پېژنم
او جانان هغه چه ئې لیدلی شم
زه خو ناز او مکیز مسخره پېژنم
ښکلی خط پېژنم ښکلی خال
زه‌خوستر گې‌پستې‌اوخوله‌سره‌پېژنم
اور نلینه خندا د وصال
دي دنسکورشمکورته دنور قصې ؟
د جنت قصې د جلال قصې ؟

دي گونگوټو ته دباتور قصې ؟
دپروازد ښیست او کمال قصې ؟

زه نستر گې خو زې په ارمان پېژنم
او نرې‌ تر وز مهر د ماښام
دسرو شونډو خندا د جانان پېژنم
دساقي‌په ستر و گو تو کښې جام
زه خوست او منت او خندا پېژنم
نه گناه پېژنم نه شیطان

زه خو غم او صنم او ژړا پېژنم
نه دغا پېژنم نه اذان

وختۇ بې حسابه بې پایانه سمندر ۇ ژوند
ښو کښې جهان پروت ۇ بېنیازه قلندر ۇ ژوند
خیال به دنسیم په شان ګلو نـوله ماښام‌له تـه
عقل مرورد حورو سازلـه او خیـام لـه تـه
تن کښې مې زړکی نه ۇیولال ۇ دشغلو نـه ډك
سترګې د هر رنګه،هر انـدام دولولو نـه ډك
واړه دنیـاوه مـاتـه بـاغچـه‌ددلـربـاد کـور
هر ستوری به لار ماته ښود له دا شناد کور
اې دپښتو سترګوښاپیرۍ‌راچه ستادی‌یاد که هېر
هغه دوزخونه تیر او هغـه جنتو نـه هېـر
۲۷ اکتوبـر ۱۹٤٦ع

عقل مې حیرانه

زړه مـې بیقـراره بـې ارا مـه دی خیـال
عقل مې حیرانه او فکرونه مې جنجال
پوهه مې ده ښتې لکه لومه کښې سرخکه
روح مې دی تیارو کښې لکه اوړه کښې‌هلال
ربه! زمـا ربـه!دجـا نـان دا خـط وخـا ل
دا زرینـې زلفې کچه خوله ورو ځې‌هـلال
دا سترګې نیازبینې داپستې سترګې رنګیې
پاکې دنرګس‌نه دلولکې نـه ور ښمینـې
سرې سترګې‌مستانې دمزې‌سترګې حیرانې
ډکې دجنتاو ددنیـا سـترګې جـانـانـې
ګله دما ښـام دلړې ګلـه د رنـاړ کـې
تله دړون د رنګـه ګله دصبـا ډ کې
وینم پکښې زه واړه دنیا دجام جم په شان
اوښکې ځې دی‌پا کې‌پا کونکی‌دزمزم په شان
ډوب پکښې پرانه دسازاو حسن جهانو نه دی
دوی لیدلی زرلکه سپرلـی اوخـزانونه‌دی

(او :–) سترګې مستانې دیار د حسن دارامې کې
کله د سپوږمۍ درنا کله د ماښام ډکې

کله د ځوانۍ د امیدونو د ارمانو ډکې
کله خماری ستا د خمار او ستا د شان ډکې

ای د دوزخونو د قیامت او د حساب ربه!
ای د تورو زلفو د لاو نو د رباب ربه!

ای د مینې حسن د ځوانۍ او د شباب ربه!
ای د مستو سترګو د نرګس او د ګلاب ربه؟

ای د اولګیو د مینې ای د ګل دخیال ربه!
ای د سازو نیازو او د نسیم او د هلال ربه!

ولې دې د حسن ځینې جوړ کړې دا خاوره ښار
ښیښت له دخپل ځان په شان نور او سینګار او حمار

یاد دې دی

ای د پستو سترګو ښاپیرۍ! چه ستا دی یاد که هېر؟
هغه دوزخونه تیر او هغه جنتو نه نېر

نو بخری نو رچه به کړ کل جهان د نوره ډک
نورنګین نظر به غمګین زړه کړ د سرور ډک

ما ته به سپوږمۍ کړ لې د صبر تسلۍ قصې
ګل به راته کړ لې ماښامي کېښې دلو لۍ قصې

حسن او ځوانی او پسرلی مینه سپوږمۍ زه وو نو
وصال او مستي جنت جهان او زه او ته وو نو

اور، ؤ جهنم ؤ خو سیځل پاسته دساز هسې
لاس ئې د جلات وخو ګانه ئې ایاز هسې

وې به هر نظر کښې دسازو نو خزانې پرتې
هره اشاره کښې د عمرو نو ترانې پرتې

زړو نه پټ په نور لګه لیده وې په کاکو کښې پټ
مرګ ؤ په خندا کښې بانګ د زړ کو په نارو کښې پټ

ساز ؤ بیخودي وه سوځیده وو جهان ورک ؤ ورک
زه وومه او ته وې مځکه ستوري اسمان ورک وورک

ځان له بهانه د خندا و چه د ارمان لټوم
شپې له د صبا زیری او مینې له جانان لټوم
څکه کله گل کله پسرلی کله هلال له ځم
پورې ترې رنالټوم په واز و سترگو جال له ځم
گاه در باب گاه کومه دخیام تپوس
کړمه دغمو نو تلوسو نه د آرام تپوس
ځان له څه معنی زه د بیگا او صبا گورمه
خاورو کښې دې گل له دگلونو دنیا گورمه
ربه! دځوانۍ او دمستۍ خوب له تعبیر لټوم
دې دلمر ذرو له زه تړ او له زنځیر لټوم
ربه! زه ژوندون له او مرگی له یارانه گورم
دې لیونی سر له دمنلو افسانه گورم
ځان له بهانه زه دبیگا او صبا گورمه
خاورو کښې دې گل له دگلونو دنیا گورنه

نهرسویز ۱٤ نومر ۱۹٤٦ ع

ساز

ورکړه شرنگ دې ستار له یاره
نوې سپوږمۍ را ختلې ده
آه دزړه تار خانو ته دې
وی! د معمو دځیگر ته نن
ستړ گې مینې په غم ډ کې
سترگې پستې دشبنم ډ کې
او دې خاورو ستار کښې تا
او دیو شرنگ او ترنگ نه دې
تا د گلو نو رنگ نه
تا دسرورا او غور ځنگ نه
تا د تارونو دشرنگ نه
تا غمو نو د رنگ نه

نوی دمنی ماښام دی
نوی سرور کښې خیام دی
گوتې دساز ور ښکته کړې
ستر دې ایاز ور ښکته کړې
ډکې دسر او صنم ډکې
څنگه په ناز ور ښکته کړې
ځنگ دابد قصه جوړه کړه
ما له مستی نشه جوړه کړه
ما له دیار تصویر کړې جوړه
ما له بدر منیر کړې جوړه
ما له یو خوب او تعبیر کړې جوړه
ما له دغم اکسیر کړې جوړه

دوی کښې د مستۍ او بېخودۍ د خزانو قصې
دوی کښې د مرګونو د ژوندونو د ځوانۍ قصې

دا به تور چینجی شي او چینجی به توره خاوره شي
ډو به به ونو کی کښې دغرونو د سرواوره شي

څنګه به چینجی د ما ښام سوز ساز د صبا و خوری
څنګه به چینجی د سپرلی شپه دلمر رڼا و خوری

څه شوه د ایاز د زړه مستی د محمود سوی څه شو
څه شوه زلیخا د هغې ښکلی ګوډ ا ګی څه شو

زړه مې بې قراره بې ارامه مې دی خیال
عقل مې حیر ا نه او فکر و نه مې جنجال

۲۵ اکتوبر ۱۹٤٦

دنیا

ما د و ینځې پښو کښې شهزا د ه په ژړا و لید
ما د مرګی بت ته ژ و ندون تیتې په د عا و لید

دوه بې نیازه سترګې د مستۍ د بېخو دۍ د ګې
و چه ترې مستۍ شوه شوې د سپۍ به رنګې ګـلـکې

لا س د سکند ر مې غځو لی په سوا ل و لید
پروت د منات پښو کښې مې په ذ کر بلا ل ولید

ما د و ینځې پښو کښې شهزا د ه په ژړ اولید
دا مسنا ه زړه مې د د نیا په سو دا و لید

۲۵ اکتـوبر ۱۹٤٦

«ارنی»

ځا ن له بها نه ز ه د بېګا او صبا ګو ر مه
خاورو کښې د ې ګل له د ګلو نو د نیا ګو ر مه

سترګې مې لټی ، چېر ته صحرا کښې مناره یو ه
شو نډ ې مې لټې د عا له ښکلې ننداره یو ه

ګر ځم ما ښا مې کښې دز هری هلال شغلې لټوم
ز ه د شبنم څا څکی له خپلو ی او سلسلې لټو م

زما امیروې ، تالي شئ اوتو کړې خور شوې زما
زما سر داره ! ته مړئې وظیفه خور شوې زما

قسم په هغه رب ، چه ته ئې دخدمت د څرو ګیر
چه ئې د حورو و د غلمانو ، د جنت دعوه ګیر

توره راواخله ، خیټه هېره کړه میدان ته ځه
ستی پټی شه ، په مستیو کور د جانان ته ځه

ګټی ډوبیبزې ، پهبیتی کښې په حلوا ډنبې یاره
جنت دې بایلو ، د تېپر وپه سودا کښې یاره

دوسی ګرانه ده ، د لوزې نه کاکا جنتی !
تېپ زړی ښه دی ، له څر بې مبزې زما جنتی !

دسامری له زرو ښه ، ملنګی د دوسی
دزر پرست نه ، یار پرست ښه دی زما جنتی !

قسم دحورو په مستیو ، او په خندا د یار
قسم پهشرنګ او په نسیم ، او مشنولا دیار

قسم په سترګو په ښایست ، او په ځوانیو د دلبر
قسم په ساز او په سرود ، او په تنا د یار

ته سجدی زر وته کړې ، ما ته نوم د یار اخلې
شفق ګڼه کړې ، په بدل کښې د ګل خار اخلی

راځه چه زه درته ، جنون او مستی وښیمه
راځه چه زه درته ، محبوب پرستی وښیمه

سرداری نه کیږي د توري د مستیو نه بغیر
الله لیدی نه شي ، د حسن پرستیو نه بغیر

سکندری قلندری ، د واړه سر و رځواړی
دواړه مستی او ځوانمردی ، حندا غرور غواړي

ته خوجنت کښې ، مږی ددنیا ګوره
برهنه حوره ، اوترسکو په حلوا ګوره

تا د غرور او ارمان نه ما ته بهار و خزان کړ جوړ
تا د ژړا د آواز نه ما له تصویر د جانان کړ جوړ
تا د نرګس د دوه پا نو نه ما له بهار او ګل کړ جوړ
تا د نسیم د خبرو نه ما له فریاد د بلبل کړ جوړ
ور کړه شرنګ دې ستار له یاره! ور کړه رنګ دې خمار له یاره
ور کړه سلام ګلو نو له ور کړه دعا دې یار له یاره!
نیایست او ارمان و سپړه! ما له تري ګل او خزان کړه جوړ
او د نسیم د خبرو نه
ما له تصویر د جانان کړه جوړ

ژوندون

دا ژوندون دی دوه ورځې خلاص به شي او تېر به شي
دا غنی به حاوري شي ورك به شي او هېر به شي
دا شو نډې به دې خوږې دا د غم صنم قصې
دا کا روان روان روان
ځي به په مخ تېر به شي

جنتی ته

ته چه جنت کښې مزې د دنیا لټې،
د حورو ستر ګو کښې د ږ مو خند ا لټې،
ته په اسمان کښې و ږمې د ږیر ان لټې،
ته په سپوږمۍ کښې تیار و له مکان لټې،
ته دعاشقو عاشقی او مستیو نه پېژني
لیونی نه ئې دلر بارسی نه پېژني
تا د دنیاد بهاره، مینه د جانان ور کړه
مجنون حلوا کښې، بیخو دی دنیا بان ور کړه
لاس دې کړ اوږد، باد شاهی لاړه فقیر شو لې
یا زما خان،وې یا د کونډو ور نډو پیر شو لې
ټول خپه خپه شوې مستی او جا نان نه پېژني
ټول زیره ږیره شوې ـ مردی او میدان نه پېژني

. . .

دالړو ګښې تا دسپوږدمۍ مغ
نرګس ګښې پټ پټ دا یاز ګاته

دا مینه رنګینه داشان اوشرنګ
یوسوري دوخت د خیال او رنګ

دا ناچ داو لکو بهار او ګل
ماښام او خیام او ستار او ګل
ګلزار او چغار او خمار او ګل

داسر اوسر ور اوشان اوشرنګ
یوسوري دوخت دخیال او رنګ

شاعر:

نا مره! ته سترګې دیار نه وینې
دسترګو سره وینې خمار نه وینې

ته تسنګ او تکور او سرود وینې
مستي او جنون د دلدار نه وینې

داسوز او ساز داشان او شرنګ
یو تار د دلدار دخمار اورنګ

دا ښکلي کاته په نیاز کاته
داورو نازك په انداز کاته

دالړو کښې «تا» دسپوږمۍ دمخ
نرګس کښې پټ پټ دا یاز ګاته

دا مینه رنګینه داشان او شرنګ
یو تار د دلدار دا خمار او رنګ

دا ښکلي کاته په نیاز کاته
داورو نازك په انداز کاته

دا ناچ دلو لکو بهار او ګل
ګلزار او نسیم او ستار او دل

سرې شوندې د یار دسپرلي په شان
ژوندي کړي مستي او بهار او ګل

د شا تو نهر او کنډو ل د شرا بو ډ ک
نمکین غلیمان او ښانك د کبا بو ډ ك
یاره چه شوندې نیسی ، نوحورې به‌په څه ښکلوم ؟
چه کو لمې خاورې شی - گور گورې به‌په څه هضموم

واوره جنتی !

جنت یو حال دی ، د عشق د مستۍ یو رنگ
جنت یو شرنگ د ننګرو - د حو انی غو ر ځنگ
جنت نازك دی ، د گل دارمان هسې
جنت ښیسته دی ، ز ما د جا نان هسې
جنت دریاب یو ، د مینې او شان دی
هره قطره یې سپوږمۍ ـ هر څاڅکی جهان دی

شان او شرنگ

فلسفی

د اسو ز او ساز — د اشان او شرنگ
یو سوری د وخت — د اخیال او رنگ

دا اوښ کاروان — د ا سحر مانښا م
دا گوتې او شونډې — او می اوجا م
ا مید او خندا — او ژړا اوخیام

دا گل دا ساز — داشان داشرنگ
یوسوری دوخت — داخیال اورنگ

دا ز ور دا زر — د تو ر و برق
د عا او ژړ ا — او دحورو برق
دابرق: سر وشونډو — مغر ورو برق

دا چال او جمال — داخیال او رنگ
اړنگ دوړ نگ — سپا ری تنگ

دا ښکلی کاته — په نیاز کاته
دا ورو نازك — په ا ندا ز کا ته

زه سر او سرور صدقه ورکوم
د سترګو د نور صدقه ورکوم
زه ژوند او ځواني ما لا کومه نن
مستي او غرور صدقه ورکوم

ما سر خپل جانان ته بښلی دی
خمار مې رحمان ته بښلی دی
خدا په دلبر لوګی کومه زه
ما هوش بیانان ته بښلی دی

زه جوش او جنون لوګی کومه له یار
زه تنده او تکور صدقه ورکوم
زه نیست او مستي ستا په پښو زدمه
زه مینه او زور صدقه ورکوم

رهورک لیونی د منصور په شان
لیلی له په تیك کښې قمر زدم
زه مست د اسې مست ننګیالی
فقیر په کچکول کښې خپل سر زدم

خو به ما سره زر په مرجان شمه دی
په ما سره شته د لالونو ډار
جانانه! جانان د ملنګ بې ته
ملنګ سره وی د سوالونو ډار

شاعر او لیلی

شاعر: - د اوږو ندون او مستي او خندا زما
د ځواني او تاوده بو دوه ورځې
د امې سترګو کښې ستاد شو نه ورنګ
زور اد تور بلو دی یو دوه ورځې

اخر تلونکی هغو تیارو ته یم
چه د ګومو تیارو نه راغلی یم
اخر ځم به بیا هغو ګوتو له
ګومو ګوتو چه زه ټغولی یم

دا سر او سرور او شان او شرنګ
یو تار د دلدار د خمار او رنګ

سپې دل د ګلاب او خندا د یار
ګا ز ه ګا ته په رضا د یار

آند از د مستۍ او تول د غم
سرې ستر ګې اوشوندې ز ما د یار

دامست ما ښام ګښې د ژوندغور ځنګ
یو تار د دلدار اوخمار اورنګ

دا اوښ کاروان د اسحر ما ښام
دا ډوټې او شوندې او مې او جام

دا تله په امید په ایمان او زور
دا تله په مستۍ پر یو اته دخیام

دا ګل او ساز او شان او شرنګ
یو تار ددلدار دخمار او رنګ

ترانه

نه ما سره زر نه مر جان شته دی
نه ماسره شته د لا او نو ړ ; (۱)
جانانه ! جانان د ملنګ ئې ته
ملنګ سره وی د سوا لو نو ړ .

ما تاله ډالۍ ، راوړې ده
و طن ! مستی او ځوانی زما
سره وینه تو ده او زړ ګی نر
نر توب او پښتو او خانی زما

زه ځان او جهان په دلبر ز د مه
زه پښو ګښې جانان ته ځیګر ز د مه
زه مست دا سې مست ننګیالی یمه
فقیر ته کچکول ګښې خپل سر ز د مه

زه مست او سر شار او مجنون یم
زه ځوی ننګیالی د پښتون یم
لو ګی شه له تا دا ځوانی زما
نر توب او پښتو او خانی زما

(۱) د بری .

دا ستا دکو توجوړ ګلاب ستا د چشما نو مخمو روشا ن
تا خو جوړ کړی ؤمینې له ګل دي کا ته بیا با ن له
ته خو دمینې لیوا له وي تا حوعا شق کا ته ځا ن له
تا خو ببنلو ا و ر حم له ستر ګې نیسه د لید و کې
تا خو خما راوخوږ والی له شو نده ې د پېژ ند و کې
تا خو خپل شان او کمال له ور کړه مو قعه د کمال اوشان
ځکه دې ستر ګود یا ر ار ه ور کړه رڼا د هلا ل په شا ن
تاحو پسرلی دلو با کړه جوړ ستوري سپوږمۍ اوصبا کړه جوړ
تا ځو ا ې مستی و ر کړ ه تا خوشیرین ا و لیلی کړه جوړ
خوزه پرونداو کونشمکوریمه ګل او بها راو جا نا ن نه وینم
زه د غضب ا و سره او ره ړك رنګ اومستۍ اوخماره ویم
تا کړ جهان د خند انه ډ ك ما کړ دشو را و غوغانه ډك
تا کړ سرو راومستۍ له جوړ ما کړ وغم ا و ژ ړ ا نه ډ ك
ما کړد و رونو په وینو رنګ ما کړد خوا ر دآ زا ره ډ ك
ما کړ د ظلم او زو ر و طن ما کړ د مرګ د غراره ډ ك
تا کړ ځوانۍ او ولدار له جوړ تا کړ خندا او خماراه جوړ
تا کړسپو ږ مۍ او ستو رو له ماله پسر لی او یا ر له جوړ
خوما کړ دو ینو او چقو ډ ك ما کړد ور او ا رمانه ډ ك
تا کړ سروراو مستۍ له جو ړ ما کړ د غم ا و ژ ړ ا نه ډ ك
ای ما لیا ره د د ې چمن ! ا ی ما یکه د د ې جها ن !
دا دنیا ګډه دې سمبا له کړه دادنیا ګډه دې به ملو ده حان!
ګوره ! علم اوزور ئې خوري ګوره ! هنراوشعور ئې خوري

لځوی دآدم آدم خور شولو
وګوره اورور له وروراي خوري

دا ځواني لکه د سپرلي ماښام
يو لمحه د ساز يو قطره د نور
دا خندا مسا زه حيرانه ستا
يو جهان درنګ يوه ذره د نور

ستا د سترګو جانانو مسرورو خوند
ستا د شونډو حوږو او مغرورو خوند
ستا د ګوتو پستو او مخمورو خوند
کړ پيکه د شرابو او حورو خوند

دا د سترګو ښايست او د شونډو خوند
او دا سوز او ساز او ارمان زما
د نسيم چپه او د ګل غوټۍ
او مستانه حيرانه جانان زما

دا يو تلوسکي تلونکي کاروان دی
يوه قصه ده چه وشوه او تيره شوه
دا يو ښکلی تصوير د خيال
يوه تپه وه چه وشوه او هېره شوه

باقي يو هغه د تيارو جهان
باقي يو هغه د رڼا وطن
باقي يو هغه ، ځواني دا شان
د خوبو او د خندا وطن

ليلی :-

يوه لپه ترنه وا خله ډک درياب ده يني بيزی (۱)
دا نه ولي په ژړاوي ، چه پيا له يم د رياب نه يم ؟
ټول جهان د نوره ډک دی ، ګلمه ! ځان د نوره ډک کړه
دا نه ولي نه ملګووي چه سپوږمۍ او آفتاب نه يم؟

اي نايکه ! (۲)

اي ما ليا ره د دې چمن !
اي نايکه د دې جهان !
اي د نرګس او نسيم ربه !
اي سردار ره د دې مکان
دا خليفه او مجنون ستا
ستا د شرابو او حورو خان

(۱) بېبېزی . (۲) بادار ـ څښتن

ثنا

توره شپه دې کله لـه دغمونو انبار راوړی
کله شمع ساقی راشی اوخیام اوستارر اوړی
کله توره شپه لحدشی هرڅه ورک کړی په تیاره کښې
کله رنګ اوخمارراوړی کله شرنګ اودلد راوړی
کله ډوب اوبې قراره یودریاب داسو بلو شی
کله مست درنګ محل شی بې خودی اوخمارراوړی
دا زما بې خودی واړه یو نظر ستاد قرار د ی
دا زما دریاب دحسن ستایوڅاڅکی دخمـا ر دی

دجیل خانې خوب

خوب وینم عالمه! که ئې څوک راکړی مانه (۱)
پروت یم سرمې ایښی دخپل یارپـه زنګا نـه

خوب وینم چه پورته په هوا لکـه دباز شـو مـه
کینا ستم په بام دمحمود سترګې دایاز شـو مـه
پورته دخاموش زړګی نه خوږ دمینې سـا ز شومـه
څرڅه مې پـه حـورو کـړه دډمـو زمـانـه
خوب وینم عالمه که ئې څوک را کړ ی ما نه

(۲)

خوب وینم چه ناست یم دجینډی(۲) په یخه غاړه
شاه مې سو بلو کښې لکه سره شمع و لا ړه
سرې شونډې مسکی، شوه ماته وې چه ژاړه ژاړه
څښه دې د ز ړ ه وینې داشـراب دی مستا نه
خوب وینم عالمه که ئې څوک را کړ ی ما نه

(۳)

خوب وینم چه باغ دی دګلونو او مابنام د ی
سر ې سترګې ساقی دساقی سرو ګوتو کښې جام دی

(۱) معنی(۲) «جینډی» دهشننر دمینځ هغه سیندری چه زمونږ زانه واړه کلی لی به غاړه پراته دی (غنی)

له دې ځایه د پنجرې چغار شروع کيږي ، د يکښې اکثر شعرونه خان د ۱۹۴۸ نه تر ۱۹۵۳ پورې د پاکستان په مختلفو جيلونو کښې ليکلي دي .

پنجرې چغار د پېښور يونيورسټۍ بک ايجنسۍ له خوا چاپ هم شوی دی .

قيد

د سحر تېل او دال　د ماښام دال او تېل
د کو ټکوړ په کوټ کښې　(۱)قولپې د عطر او فليل

د سحر دوه چپا تې　لکه زړې چيتړې
د اسې خوزه او پاسته　لکه د خرو ټغرې

چاې لکه يخه ښوروا　په ترو کوړې توره
پيا له د زېړو ډولچه　اوس راشه خوندې گوره

ستر د برګ تر پرې　سوزنۍ تور کمبل
او يارانې له د شپې　سار به سار به کټمل

محفل د ښکلو خلکو　ټول بزرگان شريفان
يا مېژک ګڼکپان　يا اجرتي قاتلان

چه لمر زېړ شي هيله　ماپه پنجره کښې کړې بند
لکه مې ز په قطار　په ولاړه کښې کړې بند

تمامه شپه ګرځي　دم په دم کړي نفنيش
ته وی (۱)چړګيمه زه　يو به مې سي پنا پيش

د بنديد و سره　همه د نيا د بهر
بوه توره نړه شي　کښېنی مې آن په ځيګر

د جهان ټول غمونه　لکه سيلوړ را شي
د زړګي سرله به دي　لکه ګو لې را شي

اوچه ارمانونه پکښې　لا د او بهر را شي
لکه د مړي په کور　چه سره ډولړ را شي.

او چه د باغ د ګلو　ماښام را ياد شي
لاچه دي ډک د مستۍ　سور جام را ياد شي

بيا خو مزې کوه　هيله به سر کښې شي
ډوب لکه وزې ملا　به په قر قر کښې شي

(۱) د جيل چکيړ کښې د بولو لوبې هم پروت وي-(۱)وائي

لاس په ستار پروت لیو نی مست لکه خیام دی
اړ ی پر ې نر ی نر ی د مینې افسانه
حوب وینم عالمه که ئې شوک را کړی مانه

(٤)

خوب وینم چه سپینه سپوږمۍ پاس په خندا راغله
مالم(۱) محبوبه په شرم شرم ترخو اراغلله
شونډو کښې شراب او په کو کې کښې قضا راغلله
سر خمار ئې دا کړ پیمانه په پیمانه
خوب وینم عالمه که ئې شوک را کړی مانه

(٥)

خوب وینم چه پټ شوم په نسم کښې بهر لاړمه
خواله دجانان لکه د مینې نظر لاړمه
ستر کود د لداړله لکه خوب دصحرا لاړمه
یو شرنګ کښې مې لوټ کړه دعمر و نو خزانه
حوب وینم عالمه که ئې شوک را کړی مانه

(٦)

خوب وینم چه زه لکه او لکه په سل وو تم
پورته دنرګس نه شوم په خوادرا میل وو تم
تاو دسپینې غاړې د لیلی په امیل و و تم
پټ مې ورته ووې سلامونه جانانه
خوب وینم عالمه که ئې شوک را کړی مانه

(٧)

خوب وینم چه پورته لکه چغه دمنصور شومه
یا یو موټی خاوره وم یالوی دریاب دنور شومه
(خو): بانګ دسحر و شوزه راویښ شوم کړو کور شومه
خوب یووړه خوبونه را ژوندی شوه زمانه
وي پریوځه لیو ینه اتېر وه دجیلخانه

حیدرآباد جیل ۱۹٤۸ع

م(۱) ما لا هم

جام ئې مات شو میخانه کښې لیونی ترې غلی با شید
زړه ئې ډك د رنګه بوږنږ دې روان کوشې دیارله
ساقی نوی جام راواخست په روښونه کښې موسکی شو
بل عاشق ورته لاس وینو شکرانه تولی (۱) دلدار له
لاله بې سره سزوره تش کندول ؤ مرګی یو وړ
خاورې و خاورو لهلامړ کنده و کنوی خوار له

حیدر آباد جیل
۱۹۴۸

ای باد صبا

ته څه خبرئې ای بادصبا! څه د نیا ګنا نې تالا کړی مونږ
هیریم (۱) کړی زلفې خورې ورې شونږې جانانې تالا کړې مونږ
هیرم کړ هغه د نور صبا، هیر مسما نه لیونی ما نبام
هیریم کو کړه میږه ما کې کړی پروت دی اړولی د مړو جام
ږکې ږکې څو لیږ دنور څه په خندا مونږ نوستلې دی
سری صرا حیږ د رنیا او سار مونږ به صحرا اړ ولې دی
سترګې چه وې د خمار ږکې مست د ژو ندږ شرنګار ږکې
پور د شرا بو پیالې د ناز ښکلې د سرا و سنګار ږکې
ورکې شوې هېرې شوې خاورې شوې یاد او ارمان ئې هم خاورې شو
پانې ګلاب او غوټې څه غم د خزان ئې هم خاورې شو
ته څه خبرئې ای بادصبا! څه دنیا ګنا نې تالا کړې مونږ
هیریم کړې زلفې خورې ورې شونډې جانانې تالا کړې مونږ
حیدر آباد جیل

سوداګر

عجیبه داسودا ګر دی	په لاس تیغ په سر قرآن
شنه قبائې د امام ده	کللکې سترګې د شیطان
په ځیګر لکه چنګیز دی	چاولی لکه ماهان

(۱) ، والوی (۱) هېرې مو

که دا خدمت وی د قام زمو نبز تو به ده
دا دا ل او تیل هضمو ل گر انه قصه ده
او لا به دې کښې هم غنی غزلې وائی
دعشق اوږدې مزې په بلې بلې وائی (۱)
ولې به تشو او بو شاعری گرانه ده
چه تاودا ورنه وی زرگری گرانه ده
قاضی(۱)صاحب وئی قران سحر ، ما ښام ، ماز یگر
خان له ئې آوار تپ کړ او ما له ئې خوږ که سر
که هیله عبث کړو اوس راتسه وائی آیات
قهر په مست او سرشار رحم په صوم و صلوات
شه وکړ و صبر به شو دا دا الله جا نه ده
ولې به تشو او بو شا عری گرانه ده
حیدر آباد ۱۹٤۸ع

خاورې

نه منم نه منم یاره ،مرگ انجام دهستی نه دی
خلاصی دل شراب په جام کښې، اختتام دمستی نه دی

چه ماښام د کومې شپې وی، نودهغې سباهم وی
چه رڼا وی تیاره هم وی ،چه تیاره وی رڼاهم وی

که یونه وی ل هم نه وی، او چه وی نووی به دو اړه
دې د ر ما ب له چرته شته دی ارې بله یو غا ړه

زر سحره دبهاردی یو ما ښا م کښې د خزا ن
شال خمو نه ړ ک دعطرو یود ا نه کښې در یحان

چه یو غوټی رشی خاورې تخم وکړی روغ گلزار له
دخپل رنگ او بوی پنه ونه شکرانه ،وسی بهار له

دا جهان د نور او سوز ،ولې ور ک شی چه ساز چوپ شی؟
چه جانان په مستو سترگو گوتې وروړی ستار له ؟

با قبرونو کښې پرتې دی لاس او پښې شونډې او گوتې
شو ک شی قبر جوړولی ددې سرو سترگو خمار له

(۱) وهی ۲ قاضی عطاالله وزیر تعلیم رمایوالخی دحیدر آباد سند دجیل ملگری دی .

د قصاب د چیچې و مینه — ځنګه و ښیم خیام ته؟
ځنګ د بل د تا لی پاتې — کړم چو که د مستۍ جام ته؟
ځنګ دلدار په دنیا ورکړم — رقیب وخېږ و م بام ته؟
د جانان ښه پسته سر ځنګه — د فرعون په پښو کښېږدم؟
د کارغه د در مهر و نه — د عقاب په پښو کښېږدم!

نه دی لید لی سودا ګره ! — تاد سرې وینې غورزنګ
په ټیټ سر باندې نه ښائی — د ازما شمله د ننګ
د سر و زرو تخت قربان شه — په آزاد کند د ملنګ
ټیټ وستر ګو کښې و چیبږی — د سر و راو مستۍ رنګ
سنا شراب د زهرو ګوټ دی — خلا صول کړی دا یمانه
ستا ساقی د چکاې ړمه — په دوه نیمو پیسو ګرانه

ځه ورکیږه سودا ګره — لیونی مونږ د دلدار یو
نه ئې وږی د لالو نو — مونږه وږی د خمار یو
نه ئې دم نه ئې دا روښته — مونږ په داسې رنځ بیمار یو
ته مغروره په خپل زور ئې — مونږ په مینه کښې سرشار یو

راشه وګوره فرعونه داد وهـه د ملنګانو!

په دې خاورو کښې خورې دی کپرې د بادشاهانو

هری پور جیل ۱۹۳۷ ع

ژوند

چه حمار مستی ترې وځی — شراب شی ترخې او به وی
چه سرور غر ورئې نه وی — داژوندون ژوندون د څه وی
چه د مینې زړه شی پاتې — لکه ګل وی ر ژ بدلی
یا شغله یوه د نور وه — یا یو موتی د خزلی
چه په ژوند کښې سخه نه وی — لکه بې ما لګی طعام
چه په خوله کښې خندانه وی — لکه ډك د خاورو جام
چه ځوانی کښې تکلیف نه وی — لکه پټه میان کښې توره
نه ئې برق شی نه ئې شرنګ شی — په زنګو نو شی رنځوره

به خله خوږ د ګلو باغ دی — په زړه سخا لکه ډېران
غړمبیده لکه زمری کا — غریده لکه حیوان
پنجې ډوبې په سرو وینو — سرې بره په آسمان

ماته وئې چه ځوانه راکړه — ستا پښتو توره او ننګ
راته وائې غیرت دې پرېږده — شه زما د ر ملنګ
وئې سر ټیټ کړه ګټې کړم به — په تا ملک د الله تنګ
وئې هوښیار لکه ابلیس یم — زه خو نخوار لکه پلنګ
ته را کوز شه ښکته کښېنه — ماله را دیار پالنګ
یاما خدائی کړه سجده وکړه — یا زما او ستا دی جنګ

وی د اتوره زما لاس کښې — ستا د ژوند اختیار زما دی
ستا خمار غیرت او مینه — ددې ګوتو ښکار زما دی
د اشمله د ننګ کړه ټیټه — ډېر تېره ګوزار زما دی
د فرعون چنګیز وار تېر شو — اوس راغلی وار زما دی
شه غلام د دې غلام — په ده ډېر اتبار زما دی
خاورو خټو کښې پراته دی — چه خوړلی وار زما دی

که زما شوی زما ځوانه! — ګوره داد زرو تخت
پاس به دې د پاسه کښېنه — خو شحالېږه په خپل بخت
د اجامونه د شراو — مسند و به د زر بفت
دا پسرلی دا پیغلې مستې — ستا د سینې ځوانۍ وخت
دا جنت د عیش او زور — بلخو اا ور د اوره سخت
ځوانه څه ساعې له ور شه! — کړه دا سره سینه بالخت

ربه شنګه سودا ګردی! — شنګ ژوندور کړم بېهان وا خلم؟
شنګ نظر دسترګوور کړم! — او چشمې د مرجان و اخلم؟
شنګ بهار اوسپوږ مېهرور کړم! — د لالونو ډیران وا خلم؟
د دې سرو د طوق بدل کښې! — شنګه دین او ایمان ورکړم؟
دربیار د ویرې. شنګه! — بې خودی او جانان ورکړم؟

داد نور او مستۍ ډک سر — په سجده کېږدم غلام ته؟

دې کښې دو مره شجاعت دی
یو نظر کښې تار په تار کړی
چه په ویره باندې راشی
د اسې ربې د اسې تښتی
او چه کلك شی د اسې کلك شی
نه پرې زرتورې اثر که
دې گوگل کښې مې د ننه
د اهم لار هم کاروان دی
پروت په دې کښې تول داستان دی
خور په دې کښې لوی جهان دی
د اهم باغ دی هم خزان دی
دې کښې ره نیاز بین گلونه
د اهم زهر هم زقوم دی
د اهم تور د مرگ خادر دی
ده کښې پروت د اسې شراب دی
به بد مستــه او سرشاره
دی چه ځی په برهه د روومی
چه په بدو بانـدې راشی
عجیبه دې یم جوړ کړی
بې د تا به نــور د هر څه
دا د اورا و نور د دریاب
دومره وړوکی لکه څاڅکی
د اقصه د سوز او ساز
شبیست او غم راز او نیاز

چه د گل جهان مرگونه
لکه باد و پړ ی بوسونه
زړه ترې غټ دی د منزلك
داو بو څاڅکی ترې کلك
لکه کانی د فولاد
نه پرې زر کاله فریاد
هم د نیاده هم قیامت
هم تدبیر دی هم قسمت
د جزا او د سزا
د وصال او د وفا
هم سلبیل دی هم بهار
او د شنو او بو شرار
هم گښین دی هم نامبات
هم چینه د ده د حیات
چه یو څاڅکی د هغې
کړی داواړه فرښتې
شی جمر بل ورته حیران
اما ن وغواړی شیطان
ای زما خدایه عجبه!
د همه یم مرکبه!
دومره لوی لکه آسمان
دومره اندو لکه یو آن
ولې ولې څه له څه له؟
ولې ولې څه له څه له؟
حیدرآباد جیل خانه

٤٨/٨/٠٣

جناب شیخ

زړه د ې ډک دی د خپل ځانه
د اسې ډک تې د نیکوږنه

په کښې ځای نشته د یار
لکه ډک د مړو ښار

چه آرام وي او سمسام وي اوياري په جسا پـداد وي
خو با نو هم شير يـخوروي هر تر و پر و فرها دوي

چه پوسر په خند ادا و شي هاهخوزر از ونيا ز شي
چه د سپينوتور و جنگ شي ښکاره‌هلته کښېاياز شي

ژوند که تش فيرنیشتالوي داخو سپي هم شي شـتلي
که تش نسل زيا تول وي دا غوئيهم شي کولي

ژوند په خيټه نه‌ما نيي دي نه په يريـ دسر ولالو نو
نه‌يا را ن نـه معشوقـي دي نـه باغو نـه‌د گلو نـو

ژو ند خو تله دي‌په يو مخه
غو ر ځيد ل او پا څيد ل دي

تـکي سوز ا و تـکي ساز دي
څه خند ل دي څه ژ ړ ل دي

ژوند پهستر گو دعاشق کښې
پـلـو شـه د ه د خـما ر

په صحر ا کښي لټو ل دي
دآ شـنـا د کـو څې لا ر

حيد ر آ با د جيل
۱۱ / ۸ / ۱۹٤۷ ع

کو گل

دي کو گل کښې مې د ننه هم د و ز خ د ی هم جنت
د ي کښې قهر ا وغضب د ی دي کښې ر حم ا و ر ا حت
دي کښې پروت يو سمندر د ی د نشي ا و د خما ر
دي کښې پروت‌يوتهتر ين د ی د لمبو ا و د آ ز ا ر
دي کښې پروت‌دی‌دومره‌ر نګ د سپر لی ا و د خند ا
چه‌يوبرق ې يورجهان کـړ ی د مستيو ا و د ر نا
دي کښې پروت‌دی‌دومره‌درنګ د تيـا ر ی ا و د ژ ړ ا
چه يوا‌ف ئې تورلحد کـړ ی د خندا د کـه د نـيـا

ساز

شو نه و له خو ند | ا و ستر گو له ر نگ
پو ز ې له بو ی | د نر گس د لو نگ
ز ړ ه له ا ميدا و: | مستی ا و ا ر ما ن
غو ږ له سر و د ا و: | شها ا و شر نگ

ماله سر و ر ا و ژوند ونـاونور
دا شو آ و ا زه د ژوند درنگ

ټـق ټـق د ا و ر | ټپ ټپ د با ر ان
ا خ ا خ د و صا ل | ا ف ا ف د ا رمان
و ی و ی د جنو ن | و خ و خ د صنم
نـا نـا ـ ا و ا و | هر و خ د صنم
کـټ کـټ د خندا | پړ ق پړ ق دمستيه
شرنگ شرنگ پيزيب | چڼ چڼ دلبتيه
شـړ شـړ د ا و بـو | شـغ شـغ د نسيم
بـس بـس د د امر | بـړ بـړ د غـيلم
هـين هيـن د هـنده و | شنگ شنگ دگوا يه
قـړ قـړ د چـلم | پـر پـر د الـو لـيه
دم دم د دو بړ ې | ټنگ ټنگ د ر باب
غـړ غـړ د پيـالې | سخ سخ د کبا ب
چپ چپ د کـو کـ ی | پس پس د دلبـر
چړ چـق د تا ر و | گو گو د کو تـر
بس بس کړه آ شنا ! | بد بد ئې ر و ا ن

ايـش ايش دا قلـم
هنگ هنگ دابيا ن

حيدر آباد جيل

۱۹٤۸

دوا ړه سترګې دې ړندې دی
تل اینه کښې ځان ته ګوری
شوندې ستا وزګارې نه دی
د خپل نور قصیدې وابې
د ریا ښه در نه تاؤ دی
چه په بل کښې بدی وینې
د بل ښیست در ته غلا ښکاری
د اشکو ر ړانده چه وینې
داهم ستا په شان روان دی
داچه ته ور پورې خاندې
ستا قبا د شنو ر ښمو
داهم ځوی دی د آدم
څه که ډوب دی په تیارو کښې
دی هم ځی په چغو چغو
ته چه ئې ګوم په طمعو
ای چه ډوب په فضل ډوب ئې
دده شور چغې هم واوره
داچه دی پرې پر مخ پریو ځی
دادې دی سرماتی ولید
شیخ چلو ! د نیکۍ ډکه
ستا دعا د ځان د پاره
ستا د ښو ډ یوه بلیبږی
دده سرې لمبې داوردی
دی تصویر دی د آدم
او په سوو وزرونو

د ال بد د ځان ښه وینې
د یار نه وینې سنګار
چه صفت د آشنا وکه
په کوڅه کښې د دلدار
لکه لوی واو تور حصار
شومره زړه دې شی خوشحاله
ستا د تورتاریک جماله
چه د غرې وئی غورځیږی
داچه پریوځی او پاڅیږی
د امجنون او د املنګ
او ددوی شلید لی انګ
د الله د ګوتو جوړ دی
په شرابو کښې شړ پو پړ دی
دئی هم هغه روان دی
هم هغه د ده مکان دی
ای چه پره ځی خوشحاله
داهم ځان له وئی هم تاله
ما ته ښیې تیندک د لاری
ځکه ته روان هوښیاری
ګنهګار دی ستا استاد
تا له دئی دده فریاد
په سینه کښې ځان د پاره
د همه جهان د پاره
د ختو او پریوتو
د پتنګ د الوتو

حیدر آباد جیل

١٩٤٨

دروغجن یم دروغجن یم داله قصده کرم فریاد
نه یم تنګ زه ددې اوره زه په دې یمه اباد

زه به ده له خاشاک ګورم که باغچه که بیابان وي
زه به ده ته لوګی ګومه که ځواني وي که ځانان وي

دا دده په لمبو ګوره زه سپوږمۍ او ګلزار وینم
دا دده په شړ او ګو کښې زه اور نه د دلدار وینم

دي زما په وینه پائی زه دده په لمبو پایم
دي زما وجود او ساده زه دده په لمبو پائیم

چه دده پرق او شهار وي هلته ژوند هلته انسان وي
چه دې نیي دخاوروتوپ وي پنه خر له دویران وي

لیونی یم لیونی یم نه مې سر شته نه سامان
نه په مینه مستېدې یوه شوم نه په سوداونه په زیان

عجیبه بې روه لارده عجیبه‌یې ځی کاروان
که قدم احام غورځېږم که ودریږمه تاوان

عجیبه غوندې شراب دی چه ئې څښم لا تېږی کیږم
عجیبه من او سلوای سا چه ئې خورم لا وږی کیږم

دا په زړه دننه اورمې که ئې وژنمه ور کیږم
که ئې وژنم سو ځیږم اوګی کیږم اېرې کیږم

لکه شمع بد نصیبه لا به سوځم لا به مرمه
لا به ځان تالا کوومه لا به نور دریاب له‌ځمه

بس دی بس کړه لیونه! دا د ولې لې باب
جام کړه ک ترګې کړه پټې تنګوودې حوږ رباب

ورته دی شه‌ور ټږدی شه چه دیدار شونه‌ې شکري
رو په مینه مینه وکړي دوه حوږې حوږې خبري

توري سترګې ئې بلیږی لکه شمع دمعراج
دغه سرو شونډو کښې اوردی اوردی هم داور علاج

په سرو ګوتو کښې جنت دی که دوزخ دی که یتماده
(والي) سوځه وځه خانانه حانده!! ژاړه ژاړه دا دمماده

حیدر اباد جیل ۱۹۴۸ ع

اور

ګنهګا ر یم ګنهګا ریم هم د خدای هم د دلدا ریم
بې و فا په محبت کښې نفس پرست او بې اختیاریم
مینه مینه په خوله وایم مینه نه لرم حیوان یم
نه مې لوظ نه مې قسم شته نه مې مین په یو جانان یم
چه کوم ځای د ځوانی اور نګ وی چه کوم ځای د ګو ګروشر نګ وی
چه د چاد تمبـل تنګـ وی نو زما ورته غورځنګ وی
یو مکـه د مسلمـان وی د کافر یو بت خانه
هره ورځ زه بدلومه نوی نـوی میخانـه
هـم مـې مینـه ده بې پتـه هـم ګنـاه مـې بې وفـا ده
چه مـې کومـه مخـامـخ وی زه ویم دازمـا لیلی ده
که لاړ شمه جومات ته په سجدې به زاری پر یوزم
شل سجدې مې کړی نه وی بیاد چا په یاری پریوځم
یو سور او رمې دی ګو ګل کښې مـا سـوزی د نـه بهـر
نـه دی یخ شـونـه دی کم شـو چه داور دی که سقر
که ساقی د کوه قاف دی که شراب دی د شیراز
سبیکه مې ترې زړ ګی شی چه معلوم نې کړ ته راز
که ماښام وی که سپوږ مـیـه وی کـه وی زار او کـه سـاز
روح مـې تنګـ لکـه احد کـه که وی سوز او کـه وی سـاز
دا زه څه پسې حیرانه سرګردان پریشان ګرځم؟
دازه کوم خواته روانه په باغچه بیابان ګرځم
ګنهګـا ریـم ګنهګـا ریـم آدم خور به خپل ځان خورم
خپل شبا یست خا و رې کومه اژدهایم خپل جانان خورم
دی به زړه دننه اورمې روروتن او ګی او ګی که
دی ایرې کړه سره ګلونه شین چمن او ګی او ګی که
دی د اور هسې خوراك که نوی نوی امبار غواړی
اوی رنګ نوی محفل کښې نوی نوی خمار غواړی

په غوږونو کښې شرهار د ساز
د ګونګرو پیزیب او خندا آواز

ږوب مې زړه لټوی بل چه نوی ساز
بل شه نوی سوز بل شه نوی راز

څکه خیال کښې مې د باغونو رنګ
او نصیب کښې لاره د غرونو

ما د تورو هیرو جوړ کړی دی
ځان له بنګلی تخت د خوبونو

هری بوری

تش جام

هغه شه ساقی وی چه ئې تش شراب وی جام کښې
نه ور کښی خمار د ستر ګرو رنګ د سر لبانو
داد دوزخ اور وی چه تش، سوی وی رنهانه وی
دا هغه کافر دی چه خطبې اولی مابنا کښې
داد از غو جاړه د ګلاب خو ګلاب نلری
دا لو ګوو هلی سیخ تیکه او کباب نلری
زهر زهر زهر دی شراب چه خمار و نلری
کفر کفر کفر ده مستی چه قرار نلری
شه هغه بنده وتی چه جنون اودلدار نلری
هغه د شه سیند وی چه غولیږ او آبشار نلری
هغه شه مومن وی چه مستی د کافر نلری
شه ورږ هغه ستر ګې چه د مینې نظر نلری
هغه د عاشه وی چه شرنګا راوشهارنه لری

زهر زهر زهر دی
شراب چه خمار نلري

ګواه

بو تکی د رنګ کښې در یاب رنګار نګ
بو څاڅکی د ساز کښې هم سوز و هم شرنګ

دژوند یوه لمحه کښې سر و نه عمر و نه
یو چونګ کښې د خاورې مستی او غم و نه

په لپه ایرو کښې خار و نه د نور
دهر ګل په شونډو راز و نه د طور

خاورینه څرمن کښې خندا او غرور
تیاری د شهرت اور نې او سرور

دې بت کښې د خاورو داتال دا بد
د څاڅکی په مخ کښې جمال دا بد

ثبوت مانه لوی ستاد ځان کوم دی ګواه مانه نه ستا د شان کوم دی

خانپور

څومره؟

څومره مینه مستي در کړم ادب څومره؟ څومره تاد اسرار جانان کړه مرب څومره؟
نه زستا په حد و ځان په حساب پوه شوم ستا پوره دي پخپل هنګ او طرب څومره؟
تورانی په سازسرود تر کومې رسي ګلاب پوه دې دنیا یست په مطلب څومره؟
داسې وزمې په چه ګل جهان حیران حیران کړې دا پوه په زې د خپل نور به سبب څومره؟
رنګ رنګ د خپل ځیګر برې خورو مه دومره نیست وې چه زما او ی مطلب څومره؟
دا سرې شونډې ئې اور سرور و نیان کړې معشوق پوه وې دعا شق په مطلب څومره؟

زما مینه ده اد ب د پنجرې ولی
وایه څومره دې جانان کړه مرب څومره؟

خانپور

بلڅه

په نظر کښې مې دباغو نو خیال
په نصیب کښې مې لاره د غرو نو

عجیبه اچار مې اچولی دی!
د ګلو نو او د غمو نو

دا غم نه د طاقت د حکومت نه د شوکت دی
دا غم د تېر یدو دی بې مطلبه د ژوندون

لیلی مخمل صحرا همه بیاردی خو افسوس
د ځان لیونی کو او همت و نکړ و مجنون

په پیرول ۱۹۵۰

هوش

شراب هله شي شراب چه څوک ئې وڅښي — څانگې سیندشي چه چپه شي یا ابشار شي
گل چه خور کړي په سادین درنگ بوکان جپل — په تیارو کښې جوړ عجب د ښیست بازار شي
چه آواز د سره وځي بد ئې رنگ شي — چه خو دی د خوده وځي نو خمار شي
چه فولاد د مینې مستې او به واخلي — و حیران او پریشان تار د ستار شي
سړی توب چه لوړ او چت شي لیونتوب شي — چه صحرا په رنگ مین شي نو گلزار شي
چه اسمان مالک د حسن او سرور شي — او راو گوروته گاو نه لاله زار شي
د سپوږمۍ حسن روښان شي په شبنم کښې — د شاتو ل او گیډولو نه د ښامار شي
دژوندون مطلب کمال دی د اظهار — پوله او ښکې پوله ,, اح ,, پوله شې نګارشي
مل څه نشته ځان او ژوند پوره کول دی — مستي هغه څو بو نه چه بهار شي

بس بنده دی که مجنون دی که مدهوش دی
حر څو ښکي اخستونکی د ده هوش دی

که جومات کښې س الله الله الله دی — میخانه کښې یو آواز د هوش «بېهوش» دی
دغه حوند کړی چه یو یار شي یو ربیارشي — د غه خیال گله جانان گله بهار شي
تول دهوش کفر که مینه که سرور دی — د ده ستر گې دی په شمع ده نه نور دی
عجیبه و اکدار کړ جوړ رب د جهان — چه د عقل تور کمند و ته فانون وائي
دی د حسن ښکار ی ته لیو نی و ائی — او د حال و روسودا گر ته قارون وائي
د ژوندون احساس ته حبط او سوداوائي — عاشقی ته د بد بختو جنون وائي

دده هوش دده د مینې تور ښامار شي
د اعیسی غریب پخپل بستر په دار شې

هوش محل یو د سو و نو منار و دی — لوی وطن د در یا بو نو د درو دی
ده کښې یښې تار حا نې د طور د گتو — دې کښې حور یوتور دریاب تور په تیا رو دی
دی کښې سپین لوی محلونه درنیا دی — دې کښې خور خاموش ارمان د مقبرو دی

«آدم»

عجیبه مې وجود لا عجب مې ځیګر / څه بې تو که بې توله د استرګې او سر
یا په بام د حرم د مستۍ ترانه / یا په شپه د وصال د نغلو نو بانه
یا موسی ته قیصې د فرعون د محال / یا فرعون ته بیان د ابد د اجل
یاد غم د بې بې نه سرور غو ښتل / ستخانه کښې پر قونه د طور غوښتل
کله روح د مجنون او ساقي او پیاله / کله سر د خیام او ژړا او صحرا
کله خوب د منصور د رنړا دوصال / کله شوق د حبشي د کوکې او د خال
کله ډوب بې پایانه کوهي وي د غم / کله هره بیا له کښې صنم او صنم
یا د ژوند کاکه کښې د مرګ تصویر / یاد مرګ سلګو کښې د ژوند تعبیر
یا پیغام د فراق په خندا کښې دیار / یا امید د وصال په ژړا کښې دیار
یاد جیل کو تګي کښې خوبونه د کور / او ایرو کښې ارمان د رڼا او د اور
دا بیخوده د ماغ بې کماله وجود / پېچارې (۱) د منډر او شوقي د درود
هم غلام د دنیا یست هم مرتې د وفا / هم دریاب د تیارې هم مستي او رڼا
بې آرامه ارمان بې قراره نظر / څه بې تو که بې توله د استرګې او سر

یا په بام د حرم د مستۍ ترانه
یا په شپه د وصال د نغلو نو بانه

خان پور

غم

پنسن مې «بخ ی» ورك کړ قلم تش د سیاهۍ نه
کوته کښې یخ اتر یخ اوګي با هر یخه سیلۍ نه
د ماغ مې پریشان زړګی پریوتی د مستۍ نه
خیالات مې ورك شو ستلی غنم والی په ژړا
د نیا مسی د امید د رڼا تشه تکه توره
د غم د قیصو په که ره خندا آوازې هېر
هر لمحه د ساه تر خه بې خوندو او چه سپوره
محمود خان لیوني کړ شوکت شته آیا زې هېر

(۱) همسایه ـ ګاونډی، منجور.

هر نظر ئې شراب دی مستی ده داد روح لیونی میخانه ده
د ننده او آقاویز په رازدی دژوندون او حنت افسانه ده

خـا پور ۱۹۵۰

نه کیبږي په عقل

سپین وښیته دی تاو کړه ستو کبډ شنه سري جوړه کړه
قرض رنګ پرې توی کړه قـالین جوړ دچپله پوړه کړه

نه کیبزي په عقل تو کل غواړي د چرسیا نو
ننننه دي ګـلـو نـه په کـو څه کښې د ملیا نـو

د لـه ښا نکـو نـه دی تالی دی ر کیـبډ دی
د لـه شراب نشته پیکوړي او ز لو بډ دی

عقل له سرور کښې سرلـه عقل کیـې کـور ننـتـه
دا خبرې ماته مې ورو ورو کړی ا ښه دی

مینه (۰۰۰۰) (۱) یو مینه وی نه دسود وی او نه ریان
دلته په کچکول کښې خورې شوې نوا بډ دی

لاره دهو ښیار په کډو کډو په درو ده
منځ دهسکې تیټې دی او ډکه دا سرو ده

دا سی آواز کوری چه نه زیروی او نه بم وی
خو ښه ئې رباب کښې خاموشی دمعبر و ده

اوښ خوارله یالوزه او صحراوه یا مهاروه
خر دهو سډ روړ دی خو مین دی په جوارو

کور دنمې څه دی تور محل دملا ګانو دی
روح ناوې کول په ډولګډ کښې دپیریا نو دی

تش دکباب خوند له اسمعیل حلالول دی دا
مادا آوریدلی په محل کښې درندا نو دی

(۱) دلته یوه کلمه په چاپ کښې مغشوشه شوی وه ـ وموږنه اوسـی شوه ـ د (جمډ ژوند) څوندې کلمې شک پرې کیدی شو.

کله کله دمستۍ سره خمار و نه | کله کله تش کچکول د ک د آ سر و د ی
دا دی شکر چه دغم په تور محل کښې | رانښکاره کله یا مینه یا د لدار شی
دادی شکر چه دمرګ په بادشاهی کښې | کله کله شاخکی اوخاوندی آ بشار شی
دانعمت دی چه په لو زه کا نه شوی | خط وخال تا لا په سر وشو نه و دیار شی

هوش چه ور ک شی د خپل هو شه نو مستی شی
چه خودی د خوده وځی نو خمار شی

ګر سر

تضمین

او ه تپوس د حسن مکړه | سمندر شی څوك تللي
څوك سپوږمۍ شي راښکولی | څوك ځهراشی ښکلو لي

حسن پلار دمینې او مور دعشق
پکښې پټه دی قول سپین اوتور دعشق
ده د خیال نظر همه زور د عشق
په سر و شو نه و ملوی ښکلې اور دعشق
دا بیابا د سرا و سرور دی
دا تعمیر د خلال او نور دی
دا مکه د سر ګو خندا کښې ده
دا په هر کو څه کښې طور دی

دا آدم د بوم سبب دی | د بهار سبب د رنا سبب
د حوا د ژوند او زمان قصه | د سرود د رقص او ژړا سبب
دا ځواب دلکو سوالو نو دی | نشته هیڅ دژوندون بل ځواب
داصوفی ته محراب اومنبر نبی | لیونی ته کباب او شراب
دي دخیال اورنګ دنیا کښې دا | پلو شه د مینې د یار ده
دادرحم پیغام او وعده دوصال | را لیږلې غلام له دلدار ده
دا د مرګ سبب | دا د ژوند ضرور
د ګناه نمر یف | او معنی د نور
دا د عشق وجود | دا د مینی راز
دا د سوز خوند | دا مستی د ساز

رحم نه انصاف دی یو تدبیر دی د دوام
هر څوك ئې پکار دی که خیټو دی که خیام

شرنګ وې (۱) دنګ دې نه او ډو لکی دلرې لرې
دواړو غبږ ئې یو شانې او یو رنګې خبرې

ډك د ظلمه زوره د طاقته د باز پرې
جو ړې دمهین او رنګین بوی د ګل وزرې

کومه لار چه احلی خو مقام ئې بس دا یو دی
دلته زر جو ماته دی امام ئې بس دا یو دی

څکه لیونی دی مرورشی الله دله
بل خواته ورتاو کړی داد هوش ټټه (۱) شله

پریو ځی په براو کړی بتخانه کښې ډیوه بله
پښې سپینې یو لیره طمعې (۲) تاقسی ، له مز له

تا نه اور سروردی یوما ولې وژنې اور کښې
اې دسپین او تور مالکه څه مزه ده تور کښې

ولې زمالال وی پروت په خوله کښې د شا ماد
ولې دې ګلاب له نه اوزل او نه بهار
ولې دې سندی کړ شاخکی تن کښې دړ نه وکی
غواړې ترې چپې د سینه سازو نه دا بشار

ماله مرګ اوژوند دی تا له تش دښنې ول دی
اور کښې دې بل کړی ولې حسن الوول دی

اورته دې نیولی یم فولاد جوړ وې له مانه ؟
ښه ! چه زه فولاد شمه نو څه زما چا نه ؟
جسو له فولا دو له جوهر وله کمال له
بس خاورې کیده دی ور کیده دی دد نیانه

ولې دې ورانواوله جوړ کړی سور محل دی
اور کښې دې بل کړی ولې حسن الودل دی ؟

ډیره اسمعیل خان

۱۹۵۰

(۱) وهې (۲) ټټوه ـ بیانګی ، (۲) مایوسه ـ له ښو پریوتې ،

زور او غرور نه لري عشق صبر او ارمان دی
سر او سرور نه لري سر ځان دی او جهان دی
هیڅ ترې نه جوړېږي خانه شه بانه خو جوړه کړه
تاو د خپله سره در امیل په ځای کروړه کړه
شرق ور کړه اچل له د مستي کروړه پور ته کړه
جوړ عرب نیلی دار مانو د خره زوړه کړه
بره دې دا سر دار مانو نو د خزانه کړه
بره دې نظر لبز شانتې بره د صبانه کړه
زړه کړه د خلیل نو تول ګلونه دی اور نشته
عقل له سرور کښې سر له عقل کښې کور نشته
شه مین دربار درنګ پیدا د فکره سوړه کړه
سپین وینسته دې تاو کړه څټو کېږ شنه ترې جوړه کړه

ډیره اسمعیل خان «ګرمل»

۱۹۵۰ ء

اور ګښې

ډول د لرې خوږ دی د هندکیانو دامتل دی
هره فلسفه د لرې ښه او پوره ښکاری
زړه دبنده نه دی عجیبه بې چلـه چل دی
ډو به په ارمان کښې چواړېږ هم حوره ښکاری
عقل له دهو که ور کوی حسن که دلدار دی
ځان نه تبنیدل دی عادت دی که حمار دی
دامسته رنا د امینه حوري او ما ښام
شه رنګین سراب دی دلیدلو پوهیدلو
داچه ور نه ګوري بل شه نه ویې نه ګوري
دا عجیبه دام چا دی جوړ کړی دلیدلو
دا یوه قصه ده د ډک جام د توئیدلو
د غه فلسفه ده د دریاب د ډبهیدلو

ځان مستو ل مينه او خمار زيا تول
دي د ژ و ند تنو ر کښې سورا نګار زيا تول
يو ديار د خولې و ږ ی او بل ئې د دولت
يو د « ځان » په سترګوورك ا و بل ئې پهشوکت
يو ئې مست په شرنګ او په خندا او په سرور
بل ئې په غضب د غور ځنګو نو د شهوت
يو ئې په تيار و د غم په لړو د ماښام
بل ئې په سيلۍ او په باران او په قوت
يو ئې په پستو پستو سوا لو نو دا رمان
بل ئې په د تاو او په جلال او په شوکت
يو له تيز نيلی ، سترګې سرې ، سره نو ر ه پهلاس
بل له تنها ئی ، رنګين ملکو نه د حير ت
يو له دا لما سو محل ، سپين ، او رو ن او پاك
. . . . (۱)
د وی سره حساب خو لبز څه ګران شان وی
سا په هر جنت کښې لبز عذا ب شان وی
ډيره اسمعيل خان

غزل

هله يار ورته نژدې شوم چه د يارہ شو مه لرې
هلی پوی شوم په خبرو چه ئې نه او رم خبرې

چه ملنګ شومه جانانه خزانه مې و مونده
په زړګی کښېمې برتېوی ښکلې ښکلې ملغلرې

چهمې ګلستان قربان کړ نود ګل بستان مالک شوم
چل مې هله د پرزده کړ چهمې وسولې وزرې

چه په جام کښې دساقی مې دځوانی وينه کړه ګډه
هله پو رته شومحفل کښې د خمار خمار بخرې

چه په شوق او په مستۍمې دواړه سترګې ورلوګی کړې
هله هله راته او کړې دسافی سترګو خبرې

چه پرې مستهځوانیداد کړی چهپرې ښکلې سر کړی خاورې
دهغه وي ه دی ليونيه! دجانان شونډې شکرې
حيدر آباد جمل

(۱) يوفرد کم ښکاری .

حساب

یو خوا لیوانی دی دتیکر وجام په لاس
غواړې د عطارنه روح د ګل خمار د ګل

بلخوا ,, هوښیار شاه،، دی پوه په ګټه په لباس
بوخ ئې کړ خوراک له هم ,,پیخی،، او هم بلبل

تله په لاس ناست دی خرڅوی مینه خمار
بس د ده ایمان د غه جنت دی نشته بل

بې خماره مینه لکه بې نشې شراب
زهر ئې شکل حرام حرام ورته کمال

بې مستی ژوندون دی لکه بې سره ستار
تنګ تري له ونښکل د جنت حو روته کنځل

ورکه کړه مجنون لیلی محل کښې دایران
ده نه سر محل شو د غمونو بیابان

ټول جهان ته اور ژړده ته مینه دجانان
وه دده خندا په ټه ژړا کښې د جهان

ده ته د ړ داوچغو کښې وناست مستی ژوندون
ده له وی دوه لارې بومرګی او یوجنون

ښه — یو خوا خو د غه بلخوا بله تماشه ده
ناست خان له «نمرود» دی او دبل درد ئې نشه ده

دا څه عجیبه شاشې اتصاف دی د فطرت
ګل له ښکلی نوی دی او ونبر خوار له اشه ده

دا څه عجیبه ښیسست پرستی ده د رحمن
مړه پرته بلبله ده او نښتې پرې باښه ده

څه وکړې شاه باز یا به ور کیږی یا به زور کړی
څه دوی ء جرس چه وی ژوندی هله چغو ر کړی

د غه دی جهان ، د غه ئې چل ، د غه ئې رازدی
د غه دی ساقی ، د غه محمود ، د غه ایاز دی

د غه « وائی » ، د غم او د غه « وخ » د همه ساز دی
د غه د « خیام » او د « بلال » د خولې آواز دی

د غم لور

لنګه تیاره شوه رڼا ئې را وړه — آدم چه مست شو د حوا ئې راوړه
مرګ چه د خپل ژوند تالاش کښې ووت — ژوندون ئې را د ړاوسائې راوړه
تورې چه چغه د کفر و کړه — ډال ئې پیدا کړ قلا ئې راوړه
چه او ښکې سرې شوې شراب ترې جوړ شو
چه غم با باشو خندا ئې را وړه

قسمت

چه شوک سوال د پلاؤ وکړی ور کړی دال
اکثر خور کړی په ښکاری د ښکاری جال

چا ته جام کښې د سر و خاورې شګې وا چوئی
چا له ور کړی د ایرو ډیرۍ کښې لال

هو وبال چه شوک به صبر صبر تیر کړی
ورله را ولی د هغې لوی وبال

خو مره مار چه وړی شی شوک دو مره وراچوئی
د زمری خطرې نه سیر وی شغال

چه کوم کال حلق زاری د باران وکړی
په باران پسې ړانده کړی هغه کال

لیونی نه خفه مشې د ر قربان شم
اکثر وراغی د خره په ځای ئې کلال

مـد آباد جیل

د فریدون د مور خط

زمادواده په دولسم کال په ۱۵۱ / تاریخ د جون د میاشتې ۱۹۵۱ زما صرف او یوا ې ځوی فریدو
« رستم جنګ » پیدا شو - د هغه مورد پینور په هسپتال کښې وه - اوزه لرې په هزاره کښې ناجوړه پرو
وم - هر وخت به مې د کوټې د دروازې په څنګ کښې یو تور بدرنګه توک او سنګین په لاس ولس ولاړ و - ټول جها
تور او تاریک و د وجود ناجوړتیا سره مې روح هم د مایوسی آخری مقام ته رسیدلی و چه ناګهانه خبر راغی چه ځو
دې وشو - ماوې ښه د هغې ورته خوبې جو میرات خو نه یې -
د دغې ورځې د دړدا و د خوشحالی بیان زه شم کولی - خو دړدا و خوشحال دواړه انسان ډیر ستو ما
کوی او چه آخر مې سترګې د هوش دنیا ته یې کړې - نو غه وینم چه د فریدون مور راغله او ما ته ئې یو خ
په لاس کښې کښېښود دا هغه خط دی -

اوږه

چه شي خوله دخوږو سپوره — د دنیا خوږه همه
ئې مدام مدام یادیږی — غونزانبی او قتلمه

چه شي خیټه ډیره وږي — ددنیا ال خوراکونه
ئې په سترګو ښکښې غږیږی — سیخکی او کبابونه

چه شي سترګي ډیري وږي — د دنیا ګلونه واړه
ورته مخکښې ښکېږی — توري زلفې سپینه غاړه

چه شي شونډې ډیري وږي — د جهان همه خوبانې
ورته وړاندې وړاندې کیږی — سپیني توري سمې ورانې

چه زړګی د مینې سپور شي — تیرې تولې خوشحالۍ
یکښې نه ربی رببی — لکه ناوې په ډولۍ

یمه وږی داسې وږی — په یوه کوکه ور کومه
دا جهان او جنت دواړه — په دووسروشونډو خرڅومه

ښکښې نه ښکښې لیونیه — دال شته هوهه کوکاري
دا مزې دې دې نصیب ښکې — چه ته څوی داسې پلار ئې؟

آخر خوله بدې خوږه شي — ښکښه وایه ګوره ګوره
د قسمت غانباوري ګرځی — راغو رځی ښکدې ته لوړه

که بهار ښکښې دی ګلونه — هوی دی په خزان ښکښې
صبا دغه دی راو خوت — ستوری ښکاری په اسمان ښکښې

سرو ګلو نو شنو او وله — بیا به لاړ شې هشتغر ته
په نر هوب عزت به ګوري — خوږ و ستر کو د دلبر ته

بیا به غاړه د تالا وه — دسرو میو ډک کړي جام
بیابه درځي په مالتو کې — د سحر او د ماښام

بیا به او ترې په یوه — برګ او مست هند کس غوایان
بیابه یسې په ډینډی ښکښې — مار مهد او سره کبان

بیابه شور شغرب دژو نه وی — د یار انو و شتې مستې
چوپ شه چوپ شه ښکښې هخه — ژړا راشله بستې (۲) بستې

حیدرآباد جیل

(۱) غانبوري (۲) بس دی- بس دی

ما کړد او پهیو ارمان ستاخپل ژو ندون تمام تمام
ماخپل هوش کولال لهور کړ چه ترې تاله جوړ کړی جام

چه ته تول مجنون مجنون شوې زه همه لیلالیلا شوم
چه ته رنګ شوی او خیام شوې زه شراب زه ګل اندام

چه ته طورشوې او موسی شوې زه دنور برق اور نیاشوم
چه ته شورشوې او ارمان شوې زه دوصال ګل سمام

ته چه شوې د اور بحری زه هم سره لمبه داورشوم
چه ستاز ړه په تـا لا ش سرشو زه شوم لارهزه امام

د اچه سا شونډې شوې تبز ی دمستی دسروشرا بو
د ا خو ځکه زه جا نا نه هم شرا ب شو مه هم جام

نا چه سوا ل در نهاو کـړ دبها ر صبح صا دق شوم
ته مین چه په تیا ره شوی زه د ژمـی شو م مابنا م

چه نانو م د ,,عزا،،(۱) واخسـ ما کړه مرګ ته ږ یوه بله
چه تا بیت د طوا ف و کـړ نو ما و تـا ړه ا حرا م

ما د دو و لپو خا و ر و تا له نو ر ا و بستا ن جو ړ کړ
خپلې مینې د ا سې یو ړ م بلهې تا له جا نا ن جو ړ کړ

بهګنوتر ۱۹۵۱

دې

د ا شونډې سرې د ګل غو ټۍ
دا شو نډې سر ې ور ې و ړ ې
د اشونډې سر ې قطر ې د نا ز
د ا مجسم مکمل نیا ز

تشو ا و ژ چوز ړ ګو ته د ا
رنګ او مستی او ارمان خوری
مابا ندې نبې او خوږې لګی
ما ته نقشې دجبا نان خور ئي

(۱) ،،عزا،، دمکې دعر بودجنګ بیت

ماد دوړلېوخاورې تاله جوند او جهان جوړ کړ
خپلې مینې داسې یو پړم بل مې تاله جانان جوړ کړ

دا چه زه د وفا ړکه د جنون جهان له لاړم
دا مې لال هغلته وموند د همه لالو نو ښکلی

داز ما د غرور نښه د هغو ګیلوځواب دی
چه به تا په ما ښامی کښې ما ته کړلې غاې غلې

دا ثبوت زما د مینې د ایمان او د وفا دی
داز ماروح چه روښان شوددمستر ګې یې کړې بلې

دا تصویر زما د ژوند دی څه خندا ده څه ژړا ده
د شهبا ز د وزر شغ دی یو ست سر و نه د بلبلې

دا ثبوت د شاه د مینې د ازا ري ده د غلام
دا انعام د ټولو ښکلي د همه ؤر نګین جام

دا تعبیر ستاد خوبونو او زما مخ د ارمان دی
ماجوړ کړی دخپل ځانه ښکلی عکس ستاد ځان دی

په صحرامې ؤ خور کړی سور ځادر د ګلستان دی
هر ساه کښې مې لیکلی نوم د مینې د جانان دی

دا چه زه ستاد خوبونو دجنون تالاش کښې لاړم
ستاخانی له مې جوړ کړی ستانه ښه غوندې یو ځان دی

دا چه ماستاپه وزرونو کښې ارمان د عقاب ولید
دا عقاب مې ستانه جوړ کړ هم عقاب هم یې ارمان دی

داسرې سرې د ساقي شونډې څه مستي او څه خیام
دا په سوز کښې رنګ د ساز دې دممبر د پاسه جام

دا د «نیست» په شاملات کښې ما اجل ته کیښود ځلی
دا خو ما د بقا طمعې کړې پرون سره بدلې

داچه زه یور نګین خوب شم د تالاش او د ارمان
ستاپه تورتاریك محل کښې سپینې شمې شو اې لمې

ماد دوو لپو خاورو تا له ژوند او جهان جوړ کړ
خپلې مینې د اسې یو پړم بل مې تاله جانان جوړ کړ

لکه زر که د پسرلی وم په چړ چقو — خبر نه وم د ښکاری سره دام هم شته
د نیاز بینې ښاپیری په بستر پروت وم — خبر نه وم چه رقیب مې په بام هم شته
د ساقی په سخاوت باندې مدهوش وم
خبر نه وم تشیده ئې د جام هم شته
سپینه شمع د محل په خندا وائی — در نها سره د سو لو سمام هم شته
داویل لیونی ډ ګ د رباب له لاړه — آورو بل چرته یو ښکلی مقام هم شته
څوړ رڅو چه د ملا دروغ معلوم کړو
د ی و ئی هلته مستوړ انتظام هم شته

حیدر آباد جیل سند

ډنډ ګښې

ګوره بلبل په پنجره کښې جوړ
لوی یو جهان د ګلو نو کړ
مست شو صحرا او په خوب کښې ئې
ډ ک ټول جهان د سیند و نو کړ
دا روحانی کار خانه زما — زور او ستم نه، خمار جوړ وی
دالیونی شان څیګر زما — او ښې پیبی تر ینه هار جوړوی
دا مصور په خپل رنګ مسرور — ټول جهان مست او سرشار وینی
ډنډ کښې چپې او خنداد سیند — ښاخکی کښې مخ د آ بشار وینی
ګوره بلبل پنجره کښې جوړ
لوی یو جهان د ګلو نو کړ
مست شو صحرا او په خوب کښې ئې
ډ ك ګل جهان د سیند و نو کړ
ورته پسرلی او ځوانی شو مخکښې — لیونۍ ورخ او رنګین ماښام
خوا کښې ګلاب ئې په مستې تیر شو — شوندو کښې رنګ او ګوتو کښې جام
وړه چینه شوه چرته روانه — دژوندا و مرګ ئې شروع کړ ساز
ژوندون ژوندن تو عشق راز رغون شو — نبیست بې کړشال کښې د مینې راز
بیا خزان راغې ګلونه لاړل — ستار شو غلې او شراب کم
ځوانی رخصت شوه خندا نایابه — دعا او ژ ده شوه او رباب تم

د ا خوژوندون مست شویدی
مرګ پوري مسخري کوي
دا خو ګلاب خندانه دی
بل پسر لی ته اسري کوي

دا خود تورمرګي په مخ
رنګ ا وامید ددنیا خور وی
دا خود مجنون ستر ګو ته
ښیست اوسنګار دالله خوروی

بوه دی دوی د آدم په راز
بوه په تلود سوزاو ساز
تو لې قیصې ئې یادې دی
تو لې قیصې د راز و نیاز

داد عیسې د لاس په شان
ژوندا و امید اوخنداخوروی
«ربت» ور ته څنګه و وایمه ؟
ما ته چه نورا و رنا خوروی

ټوټه

مـابـه شمـع شمـع کـړله تاکړ جوړ رانـه پتنګ
تلمـه ښکار لـه د کېوړو تاور پیښ کړم په نهنګ
ماد قصته وې ملنګ یـم تـار ښتیـا کړمـه ملنګ
مـا پیـښې کړې د تورز تو تا مې کـورله راوړ جنګ
زه خوغـبر کولې نـه شم په ګیلوته خفـه کیـږې
(خونـ)حقـه د اده لویه خدا یه ته پـه توقونـه پـو هیـږې

حیدرآباد جیل

غزل

مینه مینه مې کـوله حېرنه وم
چه دورځې مازیګر او ماښام هم شته

چا په سرد صليب و ليد — چاپه سور ر ښمين ما لښت
دموسی په شان شوك سې(۱) كړی — په مر ه بت كښې مخ ديار
شوك ترې جوړ ويره ژړا كړی — شوك تر ي حسن اوخمار
شوك د گل د ما شوم مخ نه — د آشنا شونډې كړی جوړې
چاپه خو اد نرگس و موند — چا از غو كښې د كر و ړې
خوش نصيبه شوك وو لاړه — په خندا غوټي د يا ر له
چا د نا و ې د جوړ ې نه
كفن و شلا و ه د لدار له

ر بـه ر بـه ز مـا ر سـه — ليو نی شو م په فكر و نو
ځنگه خور قهر اوغضب كړم — په پسر لی او سر و گلو نو
ځنگه غو ږ كيږد م ملا ته — تـو را نـی ملبه هـير ه
ځنگه ستادنور او ښيست نه — بد ر نگی تيا ر ه چا پير ه
د خندا د سپين صبا نه — تورمانبام اولحدجوړ كړم ؟
دا نسا ن د ما يو سی نه — سر سرور داند جوړ كړ م ؟
د ففير د ملو سو نـه — دباد شا ه خما ر كړ م جوړ
ددوزخ د اور او ز و ر نه — ستاښايست سنگار كړم جوړ
ځنگه و منم نا جو ړ كړ — دا جهان او آسما ن دې له
چه خيام روان په زور كړی — طوا فو نو د كعبې لـه
دمستی داد ومره ډك زړه — بس پيد ا ؤ و سو سې له
جوړ د ې حسن يا ر ا نه كړه
د جـز ا سـز ا قـصـې لـه

تا كړه جوړ دخپل ښايست نه — يـو حـسين يـا نـا ز نين
ستا د ښكته ښو سو ر ی — هر مانبا م پوست او ر نگين
تاخندل چه د گـلاب ر نگ — د او لـكې و ز ر يو و ړ
ستاپه لاس د خيام په جام كښې — بې خو د ی او د لبر يو و ړ
ځنگه غم غنی له ور ړم
دقيامت او حسا بو نـو
كر كه زړه كښې د بلبلې
د پسر لی ا و د گـلـو نو

(۱) عوامی اصطلاح ده يعنی وگوری او كشف كړ ی .

زړه‌خپل تخت ور کړه سره اوسوداړه له وحت‌شو باد شاه اوژوندون مرئی‌شو
مستوړ جنګ با یله توره ئې کېښوه سرور غلام شو جنون مرئی‌شو
واړه‌ر نګونه تیاري کښې‌ړوب‌شو صبار خصت شو او ما ښام راغی
او میخانه شوه دژړا ډکه ساقی رخصت شو او امام راغی

حسونا ګهانه وړه لولکه
په‌خوب‌ویده‌شوه‌اوحوب‌ئې‌ولیده

نوی پسرلی واو سره ګلونه
دعشق ایمان اونر ،وب‌ئې ولید

دخپلې مینې خواب ئې ولید نوي لولکې نوی ګلونه
روښان‌ئې‌ولیدیونوی رنګ کښې خپل ارمانونه خپل امیدونه

مصور په خپل رنګ مسرور ټول جهان مست اوسرشار ولید
ډنډ کښې چپې او خنداد سیند شاخکی کښې مخ دآبشار ولید

ګوره بلبل په پنجره کښې جوړ
لوي یو جهان دګلو سودې
مست شو صحرا اوبه خوب کښې‌ئې
ډک ټول جهان دسیندو نوکړ

تهندیبا نی‌جیل

دوزخ

دا نسان د نظر ټول دی که دا تور دی که داسپین
داسان د ژ بې‌حیال دی دا سپلمې او انګبین
دا آواز زما د ګونو پوست مې وند نګی مهین
دا زما د ځیګر لوبې ګل اند امه اوشیر یس
دا ګناه زما د زړه ده دا ګلونه نا زین

دا زما حو د ئې حوړ کړی
چا له بحر د شرابو

چا له بحر د زمزم دی یو غمګین ما ښام د غم
چا ته وړ و لې سپینه شمع له سپوږمۍ لره رو ښا به
شوك پینام دجیبر یل‌واوری له سرو شو نډ و د جا نا به
چاته سو ر به وینو تاج شو چا ته تور به تیار و تخت

ځکه په چغو زه له جوماته لاړم په لوري د میخانې
دې خپلو سترګو ډوب کړم تالا کړم هم شرابي کړم هم لیونې

څو چه په بدو او بدرنګو خپل الکه د سکور لوګي او اور شمه
چه سر او تال مې تباره فنا کړي دې وسي د ریاد ژړا او شور شمه

زوځان به وایم او تا نه واوروم داد مجبوره زړګی بهانه
ستا ښیست او مینه څوک شي منلی ای بې حسابه ای بې بهانه !

خانپور جیل

زه

زه یم زه یم رنګ سرود او شرنګار زه یم
د جانان سترګو کسې مې اوی خمار زه یم

دا تعبیر زما مست زړه د تلاش دی
یار زما د زړه ارمان دی دلدار زه یم

دا زما زړه چه د ښیست اورنګ شي وږی
سپرلی سره ګلونه راشي بهار زه یم

دا چه زه شم د مسکو شونډو لیواله
لیلی جوړه کړم د حسن معمار زه یم

دا خو زه د ځیګر سوز په هوا سور کړم
روح، مطلب، معنی، اواز، د ستار زه یم

چه زه نه یم بې معنی جنت آسمان دی
د جهان د سوز او مینې محار زه یم

دومره پوی شوم په دې دړو کې عوندې ژوند کښې
یار زما کمال، کمال د دلدار زه یم

خانپور جیل

شنگه شال دوینځي څو ر کړم د لیلی په سپین جبین ؟
د حبش د عشق لیو ا له ښـاپیرۍ کړم د مـا چین ؟
شنگه لاس کښې محبو با له خنجر و ر کړم د غمـا ز ؟
شنگ دوپري کوټې کښې ډوب کړم دمینو ستـر گـو ر ا ز ؟
شنگ جهان دحسن ډ و ب کړ م په یو شا څکی دتیار و کښې ؟
ا و د شمع ر نـا شنگه .کړ م بدله په ا یر و کښې ؟

ر بـه ر بـه ز مـا ر بـه
لیونی شو م په فکر ونو
شنگه خورقهروغضب کړم
په پسر لی او سر و گلونو

خانپورجیـل

جنت (۱)

ستادرحمت څه حدهم شته دی اې بې! حسابه ! اې بې پایانه !
ستاښیست او مینه څوك شی تللی دستر گـو ښه! روك دارمانه !

دملا ستر گې دقهر ه ډ کې را ته قیصې کوی دد ې داوزور
دجانان شونډې د کو کوزې وې راشه او گوره جنت کښې اور

مر گ بلې ستر گې او خورې پنجې راته خوځنې لحد نیشت او عدم
شیطان او مـلادواړه په یو آواز وئې ستا گناه ډیره ده او رحمت کم

مشرك ولاړ همسایه لاس ، قبا په و لی دستار په سر
لا ټو ه زر ې دبلبل ایښې ښیڅی شهباز ته دا ملم سر

ښا پیرك مشر دی د کا ږوان د رښاښیست اوسنگار لټوی
سامر ی ژاړی دزروبت کښې ژوندون مستی اوخـمار لټوی

گو نگټ دسوتو په ډیرې ـ بورته زیړې لولکې ته د نوربیان کوی
چنجی دخا ورې په ممبر بره ،قیصې دحورو اودآسمان کوی

(۱) په جنت ما نور همدوه دري اوږده اوږده نظمونه لیکلی دی مخکښې به راشی دا نسان به دماغ کښې دجنت تصوردیرعجیبه او لطیف دی څوعامو انسا نان دیوتصو ردپاره هم دومره دې د نه دی هضم کړ ی لکه د جنت دپاره

پسرلی څه دی جانان مست شوی دی
هره ساه او ذره کښې خپل نور خوروی
په ګلونو کښې خپله رنها خوروی
په نسیم کښې رنګونه د طور خوروی

چه تر شو یوه نظاره د رنګ
د غورځنګ د مستۍ په انسان کښې وی
تر هغې به دا زه و نه منم
چه اورونه په هغې جهان کښې وی

زه جوړ کړی نه یم سزا له یار
زه ئې جوړ کړی یارانې له یم
ما نه مینه، خندا او مستی غواړی
که جومات که بتخانې کښې یم

بیا پسرلی راغی بیا ئې پیغام راوړه
د رنګونو ـ ګلونو او رنها
بیا ساقی راغی ډک ئې جام راوړ
د مستۍ ځوانۍ او خندا

بیا ئې سرو ګوتو کښې ونیوه
لیونی ته جام د غمونو ډک
د ژوندونه ډک د فراق نه ډک
د وصال د رنګینو خوبونو ډک

ژوندون

لکه کال کښې پسرلی او خزان
لکه سیند کښې چپې او غولې شته
لکه تله، خلاصیده د مستۍ شته
ژوندون څه دی یو سیند دی روان
بیاتش شړشی چپې ئې وړې شی
اول هر یو غرځنګ کښې ورانی کوی
اول هر شوک ور کوی بوره کوی ځان

لکه ورځ کښې صبا او ماښام
لکه ژوند د مرګی دی غلام
تشیده، ماتیده، د هر جام
اول لوی لوی موجونه ګټونه
غولې لبزې شی ډبرشی ډبونه
ورانوی غورځوی لوی لوی غرونه
بیا د بل شی روان کړی نهرونه

پسرلی

بیا پسرلی راغی بیا یې پیغام راوړ
د رنګونو، ګلونو او رڼا
شو ساقي موسکی ډک ئې جام راوړ
د مستۍ، خوښۍ او خندا

بو صبا راغی، بوه شپه لاړه
د تیارو وو بربادو، او ارمان
بوزیړی ګل مې ما ښام ولید
سلامونه ئې، کول د جانان

داد ماغ زما چړی نه منی
چه د ګل خالق به سفر کړی جوړ
څنګ خوږې بړې زما کړیکې لګی؟
چاچه ماله نرګس او دلبر کړه جوړ

دا شینکی چمن، دا ګلونه سره
دا مست مست شانې مستانه ما ښام
دا ثبوت د ساقي د مینې دی
داد سرو شرابو بر پوره جام

د ساقي چه ستر ګې خمارې دی
دا خمارئې ما ته جوړې کړی دی
دجانان چه شوندې دلداري دی
دا سنګارې ماته جوړې کړی دی

داسپوږ مۍ اوستوري اومست ما ښام
مشغو لا زما د غمونو ده
دا په ما مین دی مالك زما
ځکه ړکه دنیا د ګلونو ده

دعجیبه ژوندون عجب کاروان دی
یوناست محل کښې غمګین حیران دی
داورک کاروان کوم خوا روان دې
ظالم، جابر ته سجده د عا ده
د زورآور یې بت ته نسکور دی
د بلدو ینو یې پلاس کښې جام دی
خوزه شه و کړم چه وینم په تیارو کښې رنګ دیار
دتاوان قلا کښې پټ دجنون ناوې مستانه
ماله غم ماتم دیار نه دی غم د غم تعویذ دی
هغه غم چه مستول کړی دنامبانو نه لـذین دی
ماله بله لاره نشته د جنون او د جانانه

دې کوز دوکان کښې ګټه کښې زیان دی
بل ته ایرو کښې و یې پروتا یران دی
ړوند ئې، نظر دې وچ ئې ایمان دی
هیر ئې. عمره رحیم رحمان دی
ورک تر یې د سینې د نور مکان دی
تنګ ئې جومات دی ړوند ئې امام دی
د ګلو نور ژبـد و کښې امید و نه د بهار
رنګ محل ته نه شم تللی د صحرا نه د جانانه
ماله بل ګل ته کتنه بې شرمی ده شوق د یزدی
زلیخې ته تور ځنګل دی سور محل که د عزیز دی
کښې خو شبه مې حنده اده ویره ویره د ژړا نه

دغرسر د پېره اسمعیل خان

قسمت

زه نر مه خته یم لاس د کولال کښې
یا به د میو جام شم او یا کوزه د جمات
یا ډیو ګی د زیارت د میخانې فانوس
یا د ویران تیکری سوی او مات
څوانی مستی ژوندون د دل د لاسه دی
زما نه وس شته او نه مې واک
شیخه! په باغ کښې د یار د کور
کوم ګل پلیت کړه او کوم پاك

څنګ ملامته زه په ګناه شم؟
څنګه ستو ما نه زه په خندا شم؟
دا مې ګناه ده مین په ګل یم
نه مې د واک دی خمارې ستر ګې
ما نه دی اینبی دیار نظر کښې
ما د خپله نوره نه دی جوړ کړی

چه وس قسمت او تدبیر د بل دی
خوب دی د بل او تعبیر د بل دی
نه زه د ګل آقا نه د نظر
نه او زې شونډې مد هوشه سر
پسر لی ګلو نه او سور خمار
شرنګ او شور ځنګ او رنګ دیار

دریابونه لوټ لوټ کړی فنا کړی	غور ځنګونه لښتی کړی تالا کړی
یائې مرشو که د پښو لاندې دلوی	یامرئې شی خدمت د هرچا کړی
ځان کړی ورک خو ګلاب او نرګس ګڼې
په ررګو د سیند و به پیدا کړی

ژوند ون شه دی ؟ یو باعدی لوئیبزی	ور کید لدی د جنیست ریا تید وله
حیا ژوندون خپل سنګار ورکول دی	سوځیدل دی ژوندون حو ر ید وله
د انګور په شان ورک او فنا شه	چه خمار شې د چا ستر ګو سر وله
د منصور په شان وشه پژه د ار سه	سها نه لټوه ر سید وله
ژوندون شه دی یو حوب دی لید ی شی	د خندا او ژړ او اک د بلدی
یو دو ر ان د سحر او ماښام دی	د ماښام او صبا واک د بل دی
یو رنګین شان محل د هوا دی	د هر ګوټ د هوا واک د بل دی
ما ع د ل په ګلو و ز ه یم
غم ر ماد خند او ا ک د بل دی

ژوندون شه دی یوساز د غبز ېږی	کله پوست ، کله ز یر ، کله بم
کله ا ورسو ځیده شو ر غوغاشی	کله غلی ، ولا ر ، شو مه دم
کله شرنګ د ګو ګروشی خمارشی	کله یخ ا سو یلی ا و ما تم
کله تا ل مسا نه د خیا م شی	کله سپو ر ما ښا مو سه د غم
که و ی تر یخ که و ی حوږ تېرید ی شی
ژوندون شه دی یو خوب دی لید ی شی

دارالامان
په پیرو ل (۱)

بله لار

ر حم وقیر له رو ا باد شاه له حرام دی	شاعر له ګوټ د رمزم د میو جام دی
بخل د مینې کمال خون د انصاف دی	سخاوت شان د خان مر ګ د صراف دی
رقیب له شور او ما نم یار له وصال دی	یوله دومینې شاشکی او بل له تـه لال دی
ما له د ګند ګنده لا له ته ما م دی	یوله د مر ګ پیغام بل ته دوام دی

(۱) تفریحې رخصت دجیل نه.

کارغان
مارغان

ما د صبا په پسته رڼا کښې   نه دی خور کړی د جادو ساز
چا شیرین وه فرهاد ته ښولې   چا جوړ محمود د کړ خان د ایاز

زه نه پوهیږم چه چا روښانه
د زهرا نور کړ په مخ د لال کښې
زه یو تصویر یم د بل د ګوتو
بې زبانه خته لاس د کولال کښې

یا به قسمت وی یا به دوزخ وی   او که وی دواړه نو ته رحمن یې؟
نه شم زغملی، نه شم منلی   چه ته جلادی او هم جانان یې!

خانپور

ښکلې نه ښکلي، د مستۍ نه مست، د سور نه سور ګل آخر خپلې حيرانۍ او غمجنۍ سترګې د خزان ښخوا و بې رحمو باد و نو ته پورته کړې، او د خپل ژوند د شروع او خلاصيدو تپوس ترې وکړی، او دغې ته وايو مونږ فلسفه، زه مرګ يو ورځ په مخه کړم او د خپلې مور د سينې نه د خاورو هغه ډيرۍ له بوتلم کوم ځای چه په يو دښت او بيابان کښې د هغې هډو کې پراته وو، ماچا رچا پيره و کتل ستوغ درب، سره خاوره او شنه ګانې وو دلته نه د ګلو نو چمن وو، نه د بلبلو باغ، دې د بدر نګی په سمندر کښې د حسن يوه قطره هم نه وه، زه د خاورې ديو ډيرۍ خوا کښې ودريدم يوه ما ته شنه خازه وه. شل د يرش ګانې ښکته پراته وو، نو رې تو لې وچې وزې تېزې خاورې وې، مرګ هم راو رسيد او شاته مې د آسمان نه اوچت ولاړ ؤ خو ما سر او چت کړ خالق ته مې وويل:

زه د هغې لال زه د هغې د سترګو تو رومه
زه به د هغې په سينه تل و يده نسکورومه
او س ئې ښکته ښکته د مزار ګانو ته ګورمه

خاو رو کښې هغه د چه ئې زه د ژړه هلال ومه
هغه لا ل شو خاورې چه ئې زه وړو کی لال ومه

لاړ مه آسمان ته ما وې اې د جهان مور سپوږمۍ!
زور د مرګی زيات دی که دی زيات د مينې زور سپوږمۍ؟
اوری به لحد کښې شو ک د سوی زړ ګی شور سپوږمۍ؟

مو تې خاورې ښنګه پټ د حسن يو جهان کړی؟
يو بو کی د با د دا چمن ښنګه بيابان کړی؟

خو له مې نه جوړ يږ ی چه ظا لم و و يم ر حمن ته
(خو) :- مرګ چه د جهان بادشاه کړم څه و وايم ځان ته؟
و لې د ر و ا ز ه د علم ار نشو ه ا نسا ن تـه؟
سيا ل ئې د ځان ولې کړ م چه ز ه د خا ورو سيا ل و؟مه
هغه لا ل مې څه شو چه ئې ز ه و ړ و کی لا ل و مه

خوږ ژوند ښائست بادی، چه تول عمر انسان سره د ده د خلا صيد فکر نه وی، کله کله ئې دا ټولې غټې غټې خبرې هيرې شی، او په خپل ماحول کښې د وړو وړو شيزونو په تما شه شی او د وړو وړو شمعو په تالاش کښې ځا ن د هغې لوئې تاريکۍ نه وتښتوی،

د حيدر آباد سند په جيل کښې زما د تو تې تو تې مستقبل نه علاوه ډير نورڅه هم وو، د چکۍ د دروازې په خوا کښې د ميز و جالې وی کله، نا کله به زمونږ د احاطې په کيکر کښې کوترې کيناستې، کله به مونيمه شپه کښې د تارو، چرچق واوريد. کله به تور کار غه لکه ديو جمهوری

ترا وسه پورې موږ وندرنې درنې مسئلې وا پرولې را وا ړو اې
د کومې ورځې نه چه ادم له قدرت هوش ور کړی دی -داسوالونه دهغې
ورځې نه را روان دی ،هرسړی ورله د خپل طاقت او پوهې په منا سبت
ځوابونه ګوري ، انسان سره د هر سوال ځواب شته ولې د مرګ ځواب
نه لري د جهان اکثرې فلسفې او ټول مذهبونه دغو راګیل د شاهنشاهیت
برخلاف بغاوت دی ټول د دغې تورې کمدې نه تښتي ځوک یو ګنز
ځوک یو میل او ځوک زرملیه ځوک د غصې چغه وهي لکه ما چه په
ځوانې لیدلې یوه ورځ وهلی وه

خاورې

چغې وهی اجل،ملا ته آورې که نه آورې
تشه خاوره نه دی غنی شه ګه به شی خاورې
او یا یوه بله ورځ چه د لحد په تور در زمی د مستی نورشال و برکړی وو

مرګی

مرګی دې راشی چه کله ئې وس وی
ګل به مې لاس کښې وی او یا به اس وی
یا به ټو یک وی یا به قلم وی
ډوب به خند ا کښې د دنیا غم وی
چه شه مو بخت وی دو مره به بس وی
مرګی دې راشی چه کله ئې وس وی

☆ ☆ ☆ ☆ ☆ ☆

چه جام کښې ګوټ ګوټ شراب ګمیږی
پسر لی خلاصیږی ګلاب ګمیږی
رڼا د شمع کښې د سحر نور راغی
کور د بلبلو ته نوم د باتور راغی
ستار کښې شرنګ مغه دماښام نشته دی
سرور په ستر ګو کښې دخیام نشته دی

په خېټه دې ځان ور کړ ځکه ړوب سپک او دووس شوې
مین په پیکوړې شوی ځکه پاتې د جلوس شوې
جنون خندا دې ورکړه دخوځا نو په بدل کښې
دحسن بادشاهۍ کښې دژوندون وړې جاسوس شوې

تا ښیست د ارمان ورکړ، بدرنګۍ کښې دژوندون
تا ورکړه په تېپرو، فلسفه د افلاطون

ته روړ شوې دخره پرې دې ښوه ورورې دز مرې
تا غر د موسی ور کړ په کوشه د سامرې
تا لی د یزید وینې وینې نه مرګ د حسین
په ژبه دې شراب ترخه، خواږه لګی ترې

ته نن په صبا نه ورکوې ته نه ئې جوار ګړ
دا ځکه مهار تیټ کړ، ستا د تولو اوچت سر

اې او ښه، غټه او ښه! ته ئې وړه وکې د مېږې نه
اس چنده که زمرې شې، خو وېرېږې د لرګې نه
تر هغې به وېرېږې، او ژړېږې او ګړېږې
تر کومه چه ونه باسې دې طمع د زړګې نه

دې طمع ستا نه ړیرا اوچت سر ونه کړل را ښکته
د سپینې شهزادګۍ په سر خوروې دړمې کته

دا طمع مړې او یخې کاندې سترګې نرمې نرمې
دا طمع حر شوی بازار کښې شوندې ګرمې ګرمې
دا طمع شهزاده کاندې غلام د کور دوینځې
دا طمع د جنت حورې له سترګې کړی بې شرمې

دا طمع شهزادګۍ کړی د مرئې سره نوکره
دا ړیر غمې ایرې کړی، کړی کونجکه ترې نه بره

دا جوړه د عدا به کړی د تور ګوهې کوتره
دا لړه نه غم راځو نه کړی او خندا ځوانی د سره

وزیراعظم دشور او چل نه ډک په دیوال کیناست، دبمبې خواله به مابنام کښې چیند خه راغله، ددیوال دپاسه بهداوښ بربر راغی، او په دغو ورځو کښې زه ډیر وزی‌تبزی او‌یوالځېو م‌نو مابه دې تولو سره‌خبرې کولې‌میېزوته‌به‌مې‌خپل‌دتیلوبوخ‌ساګ غور ځاوه او کو تر وته به مې خپله دباجرې‌ډودۍ چورې کوله، داروان شعرونه‌مادهغوی په‌مجلس کښې‌لیکلی‌دی که‌زه دهغوی په طبیعت نه یم پوه شوی نو معا فی غواړم زه دانسان هغوکی ارم اودچیندخ پهځرمن کښې نه شم ننو تی -

اوښ

الکې دې دخرچوکې اوغړا نکه دې د بتې
کوز وزاووران‌ویجاړاودو‌لس‌نیم‌گزداوچتې(١)

پهغو زو کښې عرب ئې‌اوپه شونډو کښې‌حبشې
که پاؤ همځو ک دراچوی ور تهته شغې اپلتې

ډیر زیات‌بې نوره‌ښکارې ستا په پوز ه کښې مهار
د دې و مر ه او چت‌سر کښې‌دپستي‌نیستي‌رز نار

نصیب کښې‌دې چڼه شنه نه اوربشې نه شلتې
بس لو ی درا نه بارونه کیجاوې ټغرې کتې
ستا ستر گې دشا عر د ی، تله دلچک د نو اب
په‌شکال معتبر معقو ل ملك ئې د نیستې (٢)

خندادې‌زړه کښې ښته په ښېرو دې تل‌خوله تو ره
بوډا په هغه و رځ شوې چه پید اشوې ته د دوره

مستی وچه بې‌نوره او ځوانی دبې سروره
غو زو نه د نیلی تش د نیلی دخیال‌غروره
اوزدې‌پښې‌دی‌دډینګ‌لهټوپ‌اوتو له‌بې‌خبره
دقبر په شان‌ملا دې دمر کی‌په‌شان‌مجبوره

ته ټول نا کام نا کام ئې نه رنګ ویې نه خمار
همت او جوش‌دې نشته ګوځه وزی تبزی‌خوار

---

(١) اوچت ئې (٢) نیسته دهشتنر آ خرکلی

غونډې سترګې دې معصومې د رڼا انباره ډکې
پیمانې د سرو شرابو د خندا د یاره ډکې
کاش چه زه هم ستا په شان اې کوترې! مستانه وای
چه نه غم وی نه ارمان وی بس خندا او یارانه وی

چینڼخ

مخ دې د شیخانو په شانې نه خاندی هوښیار دی
ښکلی دې آواز لکه د ژرندې دغرار دی

سترګې بټې بټې نغې تشې
څڼه دوه منګړ غریبه توره دوه اوربشې

حوله کبزه وزه لویه اوږده اووازه ویته
زردې زړ ګې خورشی د نګاچه کړې را پلیته

خپڼه دې چاتیړ لویه او پلنه دلالا په شان
ا..بې دې بابیدار نې سړ پزمې د نتولا په شان

توپ وهې تولنه کړې څه بدرنګه دې رفتار دی
ښکلی دې آوار لکه دژرندې دغرار دی

اوسې په اوبو کښې د ښخار د ملیړ په شان
کښې دې دسړی هسې کانه د مار مهیړ په شان

ګرځې په پټو کښې د نولی او دلومبړ هسې
توپ دې د ملخ په شان غوټې دنا کوکړ هسې

څه او به په خاوره شوې څه مېږه څه کوړې
کله دې به سترګو کښې چپ وی کله دوړې

رنګ دې بې نمکه نه دخزان نه د بهار دی
ښکلی دې آواز لکه دژرندې دغرار دی

شړپ کله نبانګ کښې کله شړپ دلبني غاړه کښې
مچ ماشې چه پېښ شی خیل خانه ورلاوېچاړه کې (۱)

خوب کوې په خاورو خو مستې یاری او بو کښې کوې
اوسې په تیرا کښې خو چېړ راوړل پېو (۲) کښې کړې

(۱) کړې (۲) د پېښور خوا کښې کلی دی پکښې مشهور زیارت دی

دا جوړه د کعبې نه کړی منډه د سودا او زیان
دا ګل خاورې ایرې کړی مستی بوسی د عنبره

دا جوړه پری د عیسی نه مقتدی د سامری
دمې په ښو خور کړی نظر و نه د لبری

ای او ښه حواره او ښه بې ښا یسته بې جماله
ای وزیه د خو ځا نو بې خبره د کماله
ته ئې لوزه او تنده نه سرور ئې او نه ساز
هم دغه دی داوښ او د آدم د فرق راز

ګونګره

د جنت مرغه کوترې !
که پسرلی وی که خزان
شپه اوورځ په « ققو ر » ئې
د یارې مستی قیصې کړې
دوه دانې کړې چر ته پورته
د پیر یانو په کوهی کښې
ای د مینې لیو نیه !
د محراب د پاسه تاخ کښې
ښې دې هره ورځې سرې وی
تل نشه ئې بې شراب وو
خوش قسمته بې خبره
د نیکو د ثوابو نو
د ګوکو له جوړه شوې
سا سره سره نری نو کونه
نه دې جنګ نه دې غصه شته
نه دې چل د هوکه شته
او ته دې هم د سیل دی
که بوراشې هم ښېښې کړې

د غم دړده بې خبرې
ستا وی مستې با زیګرې
د آشنا په ښدا ره
د جومات په منا ره
بیامستی غویمې شر(۱) و کړې
امغړی د ښا پیرو کړې
بې ګناه او بې ازاره
کو کیه احلی د دلداره
هره ورځ په تاا ختر دی
مدام حواکښې دې دلبر دی
د دوزخ نه ، د ملا نه
د شر مو نو د ګناه نه
ستا مینو که بې آزاره
ډک د بیست او د سنګاره
سو چه مینه بې نفر ته
یا ری پا که بې علته
د مستۍ د با زیګرو
د وړو کو تو تکرو

(۱) شروع ·

یو قدم نه اخلې   ته بې غرضه
رب دې مونږ وساتی   د دې مرضه

بس دخوراک له غمه   لیونی ګرځې مدام
ته ئې د حرص بنده   ته ئې د خیټې غلام

ستا طبیعت د قارون   د خزانو شوقی
مین په هره میوه   د هندوانو شوقی

د اسې په دوړه زغلې   لکه بګوه
اچوې د چرګې هسې   سپینې هګیه

د پراست کارګې ته   خو لا مبو کښ نه وی
په مرزمرې ورځې   ژوندی ملخ نه وی

د کال جهان صفائی   ستا په ټپکه ده
ستانو کړی په ماچین   په امریکه ده

اوړی اوژمی   هر پشکال
ستا دغه لاروی   اودغه خیال

د پیدایش نه واخله   تر د مرګی
تل د غټ بنه لاندې   کوې زوریګی

نه دې پوره کړه   او نه ته موړ شوې
وزی پیدا وې   او وزی زوړ شوې

تا کښې خبرې ډیرې   دی زما خو ښې
خو هیڅ مستی نه کوې   په زړګی یخې

بس منډه منډه ګې   تول او ګډا نه کوې
بې د خوړلو څښلو   بله سودا نه کوې

خو زما خوښ ئې په دې   تر بها در ئې ته
په دې وړوکی وجود   بو شیر ببر ئې ته

په ما چک مه لګوه   که زما یار ئې
الله دې در کړې   دانې بسیار ئې

پنجې دې دبېږ او لینګی د چرګوتی په شان
چیت او لنداوېلن راغوند و جود دمرهتی په شان
تنغ دې د دله دی رنګ روغن دې دښامار دی
ښکلې دې آواز لکه دږرندې دغرار دی

هېبزی

اوږده کاروان ستا — ګرم روان وی
سم په قطار قطار — لکه اوښان وی
پــه هلــه هلــه — پــه منــډه منــډه
نمر درلـه وســوه — انــده بــسرېنــډه
لکه د سپی هسې — پهخوله کښې وږل کړې
او دېلتنې په شان — په پریښ تلل کړې
د مرهتی په شان — هم غل هم نرئې
په حکم کملک روان — د خپل افسرئې
د خپل نظام تابع — لکه انګریز ئې
په زړه مضبوط مړنی — لکه چنګیز ئې
ملا لچکه اره نری — لکه انبتهر لرې
خوله دګلدانګ هسې — پښې پټ پتهر لرې
وجود دې دری بنده — او شپږ دې پښې دی
نری نرو چکې دی — کښېږې وزې دی
او لاس دې یو نشته — دا عجیبــــه ده
شه بې تولې غوندې — دی معا ملــه ده
د پیدا کړ لو آفت — د جمع کړ لو بلا
لکه د شوم خنبوې — څکه کښې وارهدنیا
پههیڅ ایله نه کوی — لږم خورې مار خورې
تـه دمچـو ږ نبرو — تر سکون اچارخورې
د صبا فکر کوئې — لو یو فلسفی ئې
مستی خندا نه کړې — پخې و صوفی ئې

ته پرې شغ شي داسې پربوځې — لکه باز کښېني په زرکې
هله ئې پر یېږدې په قلاره — چه جدا ترې نه استرکې (۱)

بندیان لوی وړوکی څه کړې — هر څه ستا نه په آزاردی
غوان سنده گان مېښې اسونه — دلکو وا او بېزار دی

وړوکی څاځکی دد وزخ ئې — که دشر آفت بخرې
خوله زماپه وینو سره کړې — بیا پرې وې را ته سندرې

وئی ملا باباچه ستا یو — قرنیکه په پابو شل
دنمر و د سپینږ مه کسې لاړ — غلی غلی په چل و ل

هغه اورغړ ید په مخکه — کلک ئې ونیول خپل تشی
چه شروع ئې په یوځك کړل — هم تیزونه هم انځو شی (۲)

خو گوړی د ننه ناست و — پر قول به ئې و زور
هله ئې پر ینبو د چه ئې وښله — د غریب نه کچو مر (۲)

حرامتوب کښې دې شک څه شو؟ — چه د دغې باباخوی ئې
چلولی لکه لو مبړ ئې — وزې سترگې لکه سپی ئې

لا یوه بله نخره دې — د همهٔ و د ه عجبه
ځان سره گر ځوی په بده — ښه تو د ه د منی تبه

داد عادلیو نی ده پا که ربه که قبلوله!
کړه را ښکې په واړ وماشو، تیږه سره د هر سیاڼی

اس

(بــدو)

ترپ ئې د هو سهر په شان — زړه ئې د زمري ؤ
رنگ ئې د غمی په شان — خیال د ښاپیری ؤ
سترگې د کور کو ړی — غو نډې غو نډې ښکلې
تلـه ئې د نـرانـو — طبیعت ئې د بلبلې

تن ئې د طاقت او د مستېدو او د نرانې ډک
روح ئې د همته او ځیگر ئې د مړا نې ډک

(۱) کړېږ (۲) پرنجی، عطسه، (۲) هندی او اردو اصطلاح ده، دزیاتوو هلو او مغلو ولو په وخت کې ځای ستما لیږی.

ماشی

د ما ښنا مه تر صبا   سرینده ګله سرنا
پینیه پینیه پنګه پنګه   همخوړل کړي هم وینا
سپک به وخېژي په تول   دووڅانو سره دغو ښتو
خو ها تی ستا د ګوزاره   ځان کړی پټ په ختو بو ختو
پیچکاری دي وی تل ډکه   کړي هر چا له انجکشن
ته به وې ستا باباجي ؤ   د نو ښار سول سرجن
دمېږی هومره کوږېږ کښې   دي همخوله شته همخو تم
او زدې ښې دي د جولا دي   نرچوکۍ وزر د ډم
او زده ډونګه د ډنبرې   بد دي نشته په لاشه کښې
واړه زهر دراغونه دی   دوکیل په شان پهخوله کښې
نور همه غله د جهان   وی د مال د فصل غله
ته زما دژوندون غل ئې   زما وینه ستا خواړه
په زړه سخت ئې د یزیده   د ګلاب په شان وړوکې
سرترپښو سوری سوری کړې   هرسوری کښې آفت پوکې
چه زه راشمه ستومانه   په کټ پر یوځم بې اختیاره
ته به وې تاته غوري چا   د پولاؤ کېښوه تیاره
تک مې او باسې د غوزه   پوست بالښت نه رسیدو کښې
بیاه‌تمری(۱) خپله شروع کړې   په نرو نرو پردو کښې
ستا په طمع ګوزارو کړم   ځان له خټې او سوځومه
ته مې شا ته سر ینده وې   زه غوزونه ګروړمه
که ریښمین شانې ما ښام وی   سیر ګلزار اوشین چمن وی
چه یاران ویده په ویښه   نشه شوی په دیدن وی
په سرو پښو دلیلی کیږ دې   پلیت وزې د سپی داړه
لیلی وخ اوویش شروع کړی   خوار مجنون پرېږدی ولاړه
که شوک پټ شی په څادر کښې   ته پرې پاس کړې بنګه بنګه
چه آخر ئې پوزه راوځی   لکه شکون دخپل سرنګه

(۱) هندی‌غزل.

کارغه

تور دې مخ دی غلچکیه! تور دې زړه تور دی آواز دی
سپی ئې خیټه ډکول بس ستا انجام او ستا آغاز دی

چاتوری که د مستو وی، که د یکچې د کچالانو
که پولاو د خانانو وی، وظیفه د ملایانو

ستا په هر څه کښې حصه ده، تول جائداد دی ستا د پلار
یا تو نکی وی یا تخیږی نه آرام کړې نه قرار

غل هم غل ئې بې غیرته، د پوتی چرګوتی غله
نه دې پړک شته نه دې لته ډک د شورې د چلوله

موتې خیټه کښې دې پروت، ډک نه د حرص د تهترین دی
نه ډکیږی نه یخیږی، عجیبه در کښې مشین دی

که د سوتو سخا ډېران وی، که هګۍ وی د کرګوړی
که بچی د تورانی وی، که وی سخا مرداړ کبوړی

که غریب وی که ماشوم وی، که حلال وی که حرام
ورته ستا ګیډه کښې دردوی، که سحر وی که ماښام

بل مارغه کښې دومره پوهه، دومره چل او هنر نشته
خو افسوس قارغه! په تا کښې د عقاب سره وزر نشته

تش په چل سرداری نشی، د سړو، نه د مارغانو
دا په مینه مسیږ کیږی، په موږ زړه د لیونیانو

ستا تغار د سپی کو نګار دی، یوه چغه ده د لوږی
د بلبل په شانې نه ئې، د شبنم د څاڅکی تږی

په هنر که سامری شی، په حکمت باندې لقمان
تل به خوری چینړی او سوځې، ای چوړیه د آسمان!

سره ګلو نه د «لولیږ» دی، شنې کمرې دی د «کرې»
یخ سحر «د تورانیږ» دی، «ماز یګرد» تو تپکری»

ستا حصه ده دغه سوتی، دغه شورا او د غمنۍ
دا کنځل د خدمتګارو، دغه چغې دغه غونډۍ

څه که تیز اکه وکیل ئې، خپله وائې د بل ناوړې
په مارغانو کښې چوړی ئې، که وزرې دې ربخلورې

پښو کښې ئې ګډ ا و ه د ساقی د سپینو پښو په شان
ستر ګو کښې غمو نه ا مید و نه د هو سو په شان

زړه ئې د پښتون ؤ نه په ګنده نه په غر ایسار
جوش ئې دغازی ؤنه په ځان اونه په سر ایسار

چو په خوله آشنا ز ما ! لا ړې چر ته لاړې ته ؟
چر ته دچا کو ر کښې ئې ، چا نه ؤ کې غو ا ړې ته ؟

شته هغه د نیا کښې و ا ښه شنه د هشنغر په شان ؟
شته هغه د نیا کښې ښه نوکر دد لاو ر په شا ن ؟

چو په خوله آ شنا زما ! چو په خوله وې تو ل عمر
اوه ! چه زه ز لمی و ی ال اوه چه ته و ی تـول عمر

د غه ؤ آ شنا ز ما د غه وه دژ و ند قصه
د غه د آ د م و جو د د غه د سمند قصه

تر پ شو ا و تو پو نه شو
خو ب شو ا و خو بو نه شو
د و ه د مستیو ر ځې شوې
د و ه د غ ګلو نه شو
نه ئې د ر ا تلو سبب
نه ئې شته د تلو علا ج
نه ئې د ژ ړ یدو د و ا
نه ئې د و اړ او علا ج

نه ئې د ګو او بند
نه ئې د هیر و لو تا ب
نه ئې د سلګو تپو س
نه ئې د پر و ن سبب
ا ې مسه آ شنا ز ما !
چر ته د چا کو ر کښې ئې ؟
شو ک به نوا لې د ر کوی
کو م جها ن کښې ا لو ځې

نه ئې د ز یا تو لو شا ن
نه ئې د لید لو شا ن
نه ئې د خند ا و جه
نه ئې د صبا و جه
لا ړې ته او لا ړې ته ؟
چا نه و کې غو ا ړې ته ؟
شو ک به کو ی ستا مد ا ر ؟
ستا د مستو پښو غبا ر ؟

بد و :- زما عربی اس وو چه زما په غیر حاضری کښې مړ شو - دلاور ئې سایس و ،

اوسې چه کوم کور کښې حرامخوره همه کورلو نې
داسې حرامې ئې خپل نا با او خپله مور او تې

(خوا) ورشې چه پیشوله نو بولا ؤ یې دې هیره شي
پیش پ حیث موړ مې پ نا کیاره با ره تیره شي

بازیګره ګوټره

چاله لوزه، چا له تند ه   چاله ور ما له نظر
شو ک بندې د خپل زړ ګی وی   شو ل ملامن خمل ځیګر

یو جو ړ کړ ی د سقر نه   سر ه ګلو نه ما ز یګر
ل د حو ر و د علما و   نه حو ړ کړ ی د ی سقر

په تیکر ی پسې ژ ا ړ ی،   یو حوا ماسب په بحث فار ون
بل خوازرر نګه وصال دی   ا و ا ګهپا دسمه ملتو ن

چر ته سپی ته خپله لو زه   سم ی ی م جنو ن
کله حر نه حپل خرتوب شي   مست جا دو ر ګیں افسو ن

دانه ر نګ بدر نګی دواړه   د احساس د نول نو جام دی
ز ما ستر ګو پیدا کړ ی   سپین سا قی او تورامام دی

شپه او ورځ ز ما نظر دی   پرو ند له سراو ماښام نشته
زه عا شق ځکه درب یم   چه انسان له دو ا م نشته

ر ب د ی هر شه، او هغه چه ز ما هو ش بر ي نه پو هیږ ی
ر ب ز ما د و ر کید و نه ر ه، لر ي، سپین مقا م
ر ب ز ما د هو ش صحر اله یو محل د ی د کما ل
ر ب ز ما د ي ستړ ی سر له د مستۍ سر پو ر ه جا م
داد و ر کو په و طن کښې یو ار ما ن د ی د دو ا م
د ا په تو ر ه تو ر ه شپه کښې محبو با ما ه تما م

چه ا میـد د هو ش با غی شو
چه مد هو شه شو نـظر
خپل طا قت و ر ته سر و ر شو
په سیل و و ت با ز یګر

هېره

اوسې په کندو کښې يا ره غلې پلار دې غل وُو
مور دې غلچکې وه ستا نيکه د بدو مل وُو

قام دې حرام خوردی قبیله دې حرام خوره ده
مړ شوې په غوړو پسې لکه توره دې سپوره ده

سترګې دې کاسيرې دی چلباز يې دی بې شرمې دی
کلک دې دی غاښونه او پاپوړ دې نرمی نرمې دی

خيټه دې کوپړه ده د کدو يا د شناز هسې
سر دې د نولی او بريتو کې د تره باز هسې

غلا کړې له غريبه غلاخانه له بنيا نه کړې
سيد او ملا نه پيژنې بو ته د هر چا نه کړې

ستا داوړه خيټه دې همه جهان مړه نه کړه
ستا کاسيره تنده نه عمر و نو غلا سړه نه کړه

ذات دې څناوردی خو خوراک کړې د انسان هسې
اوسې په سخسوړی کښې فيرنی شتې د خان هسې

زړه دې د يزيد دی طبيعت دی د شيطان هسې
چين (۱) دی د منت دی حو همت د پهلوان هسې

(خوږ) ورشې چه پيشوله نو پولاوُ پيتی دې هېر شی
پيش په خيټه موړ شی په ناکيا ره باره تيره شی

غل تر هغې غل وی چه تری بره غل پيدا نه وی
چل تر هغې چل وی چه ترې بره چل پيدا نه وی

دوه دانې ترې وخوړې دوه دړی خاورې ايرې کړې
وزې خوله دې خاورې شه انبار ذړې ذرې کړې

خوی دې د خنزير دی او فطرت دې د ښامار دی
خوله کښې د آفت دی او په شونډو کښې آزار دی

(خوږ) غوته چه شی سخته آخر ببنه برې چاره شی
ته شې په جوار و پيشوګان په تا ماړه شی

(۱) يعنې اواز او چونګار دې د زاری دی

څنګه خوب د ځوانۍ کړم بندي د خاورې | په څه وتلم رنګونه د وصال
څنګه نور د يار دسترګو لاس کښېږوا حلم | څرنګ ونړم پنډ وګي کښېږي هلال
ديده غلام د رياب کښېږي د سلطان | داسې زه ولاړ ستا حسن ته حيران
داده بس چه مجبوري مې خپله ونبوه | تورانۍ نه شم کولی ستا بيان

څو چه ستا پيغام دنوی صبا واورم
لکه ګل چه دېسرلي واوري پيغام

تياره هيره کړم په طمع درناشم
په احد کښېږي وڅکم د مستۍ جام

اميد وينې شي ژوندته بلښيسته مشال کړي
دمرګي د مخه ناردژوندون شال کړي

ملاچړ جنګ

زيږدي ګميس دی | خړدي خشک دی
شمله دي نيغه ده | او ګوتړدي ترګ دی

ټوله ورځ کښې کښې | په ځان مينه !
چه خوار چينجی پسې | ګنده ګوينه

نمايشي شان ئې | کړی د نخروا لواته
د مشروتو نه ړک | ستاقدمونه کاته

ښخې ښځې دې سترګې | دي د «پښتو»(۱) په شان
په درينجه د رينجه تله | دي د ټټو په شان

د سليمان د لال ئې ؟ | نوم او صافه دامام
يوخوا قبا او تسپې ؟ | بل خوا پياله او جام؟

يوخوا سپين روبي ملک | مريې د رسم او قانون؟
بل خوا د مښې دلال | بندی د رسم او افسون !

يوخوا تنګی تاريکی | د زړه د خيال سودا
د بال او بچ سودا | د ځان او مال سودا

(۱) پښتو، زمامعزز او محترم دوست مهردل خان دهوتی خان خيل قد ئې وړوکې دی- خو دماغ ئې ډېر اوچت دی- او مونږ ورته دقهر او محبة «پښتو» وايو .

کوچۍ (۱)

زما کوچۍ زما کوچۍ ! ته خو سپي نه يې زما آشنا وې
په تنه نر وې تر زمري نه قصه د ميني نوم د وفا وې

چه زه اوچتوم د کل جهانه (په) لکها سرومي دا سر ؤ ره
ستا ستر کي ځرځي د ميني ډ کي تيري وى دژو نده د ځان او سره

چه زه آسمان نه خاورو له راغلم تاج مي را کوز کړ او کچکول مي واخست
شال او دستار او خلعت مي ور کړ کند مي په سر کړ او جهول مي وا خست

تا ته زه هغه شان د ملک بادشاه وم هم هغه ستر ګي هم هغه مينه
چه ټول جهان غيال د اړ ل کړ ل ما خو ځو له لکه مهينه

ته خو آشنا وې زما د ستر ګو
نه مي د ه زور وى او نه د زرو
د هغه تون که در وند که سپک شو
ستا بس نو نو ل ؤ او يو نظر ؤ

ته زما يار وې د نه وور ځو د نه و رځو يار نه هير ېږى
چه ټول جهان يو تور صحراشى د سرو ګلو نو خار نه هير ېږى

هائى چه دژوند په رنا بلې
ستر ګي روښانه ستا د وفاوې
زما کوچيه زما کوچيه !
ته خو سپي نه وى زما آشناوى

«تهنديانى»

تورانۍ

دا سې تکى په پښتو ژ به کښې نشته تورانۍ ! چه پرې زه و وايم ثنا ستا
دې د خاورو جوړ و شو نه و کښې ښکلا ى کړم حوشحالى ، مستى ـ ځو انى او خنداستا ؟
دغمو پرق ښکلا په لوڅو کښې ښکاره کړم ښکلا کيره کړم سپوږمۍ دژ بې دام کښې ؟
ښکلا و نيسم په کوڅو کښې سر و ر ستا ښکلا واچوم دنور دريا ب په جام کښې ؟

---

(۱) کوچۍ ،، زما يو ډېر ز ړه ور د ستر ګو تور سپي و ـ ما قسم قسم سپي ـ ماتاى د ى ا نګريزى جرمنى ـ لغړ او بېرـ ولي د کو چى په شان بهادر بنيسته او هوښيار سپي نه پيدا شوى دى او نه به پيداشى زما د بند په دوران کښې مړ شو

بورا

توره بوراتوره! ته ومند ئې که خټکې؟ (۱)
زړه کښې دکونګټه دارمانو نه ډک لوکی؟

مورد ې ګل اندامه ده باباد ې تورا (۲) بابان
رنګ دې د شا حیل او طبیعت د شاهجهان

ښکلې دې د ې مبردی فلسفه دې د خیام ده
تور ګونګټه تاکوم ځای شکلې خو اد جام ده؟

تا د رنګ او حسن ساز د چا په ستار واوروېده؟
تا د چا د خولې داستان د مینې او یاروا ورېده

ی توره ډیچکیه! تا کښې مې د شیرازولې؟
ای حپه ماښامه،تا کښې نور او ګداز ولې؟

حو یاره تا کښې مې! یو صفت بدې شی
ستا کوشه ډېر شانې! مې عادت بدې شی

اې هر جائی عاشقه! د یو ګل یار نه ئې
د مینې نوم دې سپک کړ د یو دلدار نه ئې

هره لمحه لحظه کښې نوی خمار لټوې
او په مذهب د مینې ته بې وفائې پرون د بل وی اونن زمائې

په رنګ او بوی مینه! جانان دې هیر دی
ځوانی مستی ښکلوی خزان دې هیر دی

د فراق تور غمونه ژړا افسوس او ماتم
هیر دې دی وچ سیندونه زړه ځوانی، نوی غم

د زیړو ګلو شان کښې مرګ او کیده دې دی هیر
د نن په شوق مسته! صبا راتلمه دې دی هیر

داسې بې تو له ته ئې ځنک بې پایان چه زه یم
ته د هغه ئې بورا د چا انسان چه زه یم

تا کښې رڼا او تیاره سپین شته او تور شته
چه ته ښکاره شې وایم زما هم ورور شته

(۱) خټک ئې - (۲) تراجان هغه دیوودوچه په ګل اندامه ښاپیرۍ مین وو -

بل خوا د بل په مینه
خان او ناموس ور کول
پټ‌شا باشي له دزره
د ښار جلوس ور کول
يو خوا د بل ستر دو کښې
د د رنید و تا لاش
بل خوا د باتو ځانګو
دا لو تو تا لاش
زبرګ او معقول پخنیه !
پګه په سر ملا !
تا کښې ښکاري بېزي امانه
دژ و ند عجیب قصه
چې شه نه وا لو ځي
د ملکه صبا و وینم
او سلیما ن نه حاوري
تو له د نیا و وینم
د بحر و بر با د شا ه
ور ې شا ن جو ښې ته
قربانوي خو شحا لی
د غم میر منې ته
د ګل خندا و وینم
دا لو لګوه پر وا ز
د محمود وزې ستر ګې
معصو مه خو له دا یاز
زه د آد م د جو ړ ښت
په و جه زا ر پو ه شم
په حپل ا نجام پوه شم
په حپل آ غاز پو هشم

چړګ

خورا ک کوې دسپې
او مسئلې د ملا یا نو
با نګو نه د بلا ل
اولنګوټې دچنګړیانو
پرتوک دې یاره ! نشته
او شمله نیغه د خا ن ؟
شل ښځې دې سا تلې
خو سحر وائې اذ ا ن
په جنګ کښې بها در
اومستانه لکه چنګیز
په مینه کښې بې‌شر مه
بې پر وا لکه ا نګر یز
اور بوزدې دقا ضې دی
طبیعت د ې د هټلر
اواز دې د ...هو دی
او ا ند ا ز د منسټر
ا نجا م د ې تبخـی د ی
ای مجنـو نه د ې یـر ان
یوورځ به روستی بانګـو کړې
دو ډې به و کـړ ی خـا ن

تول جهان خاموش شو دخپل زړه آوازئې واوریده
زیړ سکه غلام ، د باد شاها نورازئې واوریده
تول جهان خاموش ؤ بوادمو چه ګو یا نه شو
مینې د اسې یوؤړ بې خبره د خپل ځا نه شـو
(وی) : زړ لکه اسوالونه ژوند خواب یمږه د تولو
زه یوه قصه نه یم ، خوباب یمه دوو
زه ګله مراد ، ګله ارمان ، ګله غرور یمه
زه تنګ او تکور یم ، زه شراب یمه د تولو
زه یمه مخلوق خود خالق د رنګه ډك یمه
زه ګامل کمال زه سرباب یمه د تولو
زه یم توري پنجې د باز سترګې د تنخرو
مه دي پټ ارمان د حسن زړ ردی د وزرو
پهاړ پور

ګور ګوړه

خو مره ښکلي تصویر دي ستا !
خو مره دي ښکلي آواز دی
ستا په نظر کښې سپوږ مۍ پټه
ستا په پا پو کښې ایاز دی
مخ دي نازك د ماشوم په شان
خوی د ښیسته نازنین هسې
خیال مستانه د خیام په شان
تله د مخمور ماه جبین هسې
مینه کړي لوبې کړې ستر ګې وهې
نازاو نخرې د دلدار کوي
ته د ګلاب او نرګس په شان
ما ته قصې د ګلزار کوي
ښکلي ثبوت د خالق د ښیست
ماله قیصه د جنت ئې ته
ما ته داستان د کرم کوی
ماله دلیل د رحمت ئې ته
ستا د ګوګوه ښیسته آواز
ماله اذان د بلال دی
ستا د خندا رناو چسود
ماله پیغام د وصال دی

تارو

وګوره یورو ځي تور تارو په سجده پر یوت
وئي کړ له رب ته عجیبه غوندې دعا
وې توروالي تنخری دی او خره ولې زانه؟
ولې یو، باتور، یوه ګنجوره، او یوه هما؟

زه به تل حسین یم او ښکاري به تل یزید وی؟
لاس کښې کله دام، کله توپک، کله لینده؟
پرد بورا یوسی تور بورا د ګلو مینځ له
پرې ړی ګنجېره غریبه بوی له او ړیران له

پر وړی لو لکه، لکه باد د ګلو باغې
پروړی پتنګ رنها له، سو زله، او تاوان له
پر وړی میږی د توا رنوره ښا ورمښو کې له
پروړی کور کوره دشهباز او شیکری نو کې له

پر قارغه په ګند، پتنګ وَر واچوی په اور
پر عقاب له فخر او تپوس له شی پیغور
پر یو په باغچه کښې د صحرا درد لیوا له کړی
بل له جام د ژوند شی، جام دزهرو د منګور

پرد عقاب لړی شور په ولې د تنخرو!
ولې هره ارغه کښې نشته تله د تو تکرو
ولی هنه ملک دي دشهباز دشکری کور کړ؟
کوم ځای چه درانه ګرځي سیلونه د کوترو

یو تنخرې بس ؤستا کمال ښکاره کولو له
ښکلی له طاؤسه خوش ژبان له کوترو
بس چه یو مارغه وی، یوې پروی او یو ته وی
بس چه تل باجره وی، ځاورې دوړې وی واښه وی

بس چه تل پسرلی وی، زیر ګلو نه وی، صبا وی
بس چه بس یو ته وي، بوا ړمان وی، اوبوز موي

تو له ور لځې « چپه ! چپه ! » ستا د ا خوله وز ګاره نه شی
د دنیا ګندو نه خلاص شی ستا کو لمه قلاره نه شی
خیر دی ژمی را روان دی • تور ور بوز به دې چیچر شی
چینګه خوله به چرته پروت ئې دا کو لمه به دې پاپړ شی

زه به خورمه په قلاره
تود شربت او خوږې ګوړې
دا بـودې نیا بـه دې مړه وی
تو ره مچو ته بم مړې

حیدر آباد جیل

مچ

شغ شی چای کښې راغوته شې | دادې څه خر بیشی رنځ دی ؟
پکښې داسې چورلك وخورې | ته به وی د « بنګړې » منځ دی

وزې ژبه دې شه خاورې
نه دې خوب شته نه قرار
په تر و سوتو مینه ،
والی (۱) ئې د چا آزار ؟

د هر چا کره میلمه ئې | نا بللی بې عزته ،
نه په شرپباندې جارو ځی | نه په سوك او نه په لته

تور دې مخ بې شرمه سترګې
تیار خورئې موردار خورئې
بد دې خوی سخا دې دوی ده
په هر شی د پاسه سورئې

که ښورو اوی ته پرې مړ ئې | که غوړی وی ستا پکار وی
ستا پرې بې صبره غوټې وی | که خرشنه وی که انار وی

بې غیرته خو ئې دومره
د مړ و ورو ینه څټې
ای شهیده د کبا بو !
ای غازی د پراټې !

که پنځوس خپلوان دې مړه شی | ته د خپله خوبه ناوړې
وائې « سر د خیټې ځار شه » | شرپشی زیړه خیټه واوړی

بدې بدې دې با بهر دی
د لینګو بورې امر لې
خوله دې زیړه به لاون ده
چه پرون دې وژ خوړا لی

سخا میوه لیقړې بدبویه | ستا پولاو فیرنی حلوا ده
ستا دې خیټه کښې دوزخ دی | ستا دې شوند و کښې بلا ده

(۱) وهلی.

غاښ دغریب نښته کښې خوښ ئې دی چر ګان
هره ورځ کړو خوری ورکړی خوارله دلاسه
نن ئې د چنچڼي دی خوعمال دلقمان
خیال کښې انتشاروی او زړګی کښې تلوسه
حرص د دنیا ته لګوی د ښنګ کوری
دلته کښې پنجره ده پکښې شپېز دی زمری

(۳)
پل سر کښې یوسف (۱) دی هاضمه دغریب ورانه ده
هر وخت ئې قصه داړر قو، پوکور وانه ده
دال ئې هوابند کړی الوګان ئې اینه سیځی
غوړئي زړه له بد دی مصاله ئې په ګر دوګرانه ده
مالګه ئې ستر ګې زیږې کړې بنوروالې شونډې وچې کړې
دی جیل ته حیران دی جیلخانه ده نه حیرانه ده
چای چه ډېره وخښی لګی اتکی پرې سری
دلته کښې پنجره ده پکښې شپېز دی زمری

(٤)
خوا کښې ئې دی پیر شاکر الله رمونږه حان
هرچا ته رسوی تبېر او ګوړه الوګان
دی خواته سپی ګل احوا غوړی، اخوا صاو ن
تله په لاس ناست دی دچلونو کړی بیان
ځان دلوزې مړ کړی خوآشنا له ډاېر ولېږی
کاش چه وی دده په شان ټول رمونږ پیران
ماله ګوړه را کړی یار له ولېږی نری
دلته کښې پنجره ده پکښې شپېز دی زمری

(۵)
دیخوا ترې مهردل دی، دې زمو نږوړو کی ور ور
چرته چه دی ناست وی هلته وی خندا او شور
یوموتی وجود کښې ئې یو غرد نر توب پروت دی
سل مرګه به وا خلی وا به نخلی یو پیغور

(۱) یوسف خان آخر معافی اوغوښته اوکلی ته لاړ انالله وانا الیه الراجعون ط

شپږ زمري

په کال ۱۹٤۹ کښې زه په دریم ځل دهري پور جیل ته راورسېدم، دا زما د بندید و دوهم کال و، په دې دوران کښې ما د پېښور او د حیدرآباد سنده جیلونو کښې ډېري بدې ورځې تېرې کړې وې، مونږ ټول یاران دوستان خپل خپلوان د پاکستان په ټولو صوبو کښې ځواره بندوو، خو دهري پور جیل ماته د کور په شان ښکارېده، ځکه چه دې کښې زما بابا ډېر کلونه تېر کړي وو، د هغه د لاس ډېرې ونې دلته شنې ولاړې وې، زه د حیدرآباد د جهنم نه دلته په کال پس راغلم او په ډېره موده پس مې یو وړوکی د زېړو ګلونو نه ډک وتی ولید، هر سحر چه به زه پاڅېدم نو د هغه سلام له به لاړم، زه په انګلستان، یورپ او امریکه کښې ډېر ګرځېدلی یم، او ډېر لوی لوی باغونه مې لیدلي دي، ولې دومره ښایست او رڼیا په یو بوټي کښې هم نه وه، څومره چه دغې غریب او ارزان ګل د خوادا او سپې توري پنجرې او چاپېر تور ماحول ورکړې وه، دې پنجره کښې ما سره نور شپږ ملګري وو، (۱) پیر شاکرالله د ګوجرو ګړی (۲) خان خېل مهردل خان د هوتي د نواب ورار (۳) جهان زیب خان درزړو، زما د ترور ځوی (٤) فردوس د مایيري چه مونږ ورته د میني نه ګوګوا او، (۵) زرین خان د ماسي دپارلمنټ ممبر (٦) یوسف خان باو خېل، یو ماښام مې د ماغ و تېښنید، دا د ټولو شعر مې او لیکه او د ړوډې نه پس مې واورا وه،

د لته کښې پنجره ده پکښې شپږ دي زمري
څوک غټ دي څوک اوږده دي، څوک ښار به دي څوک نري
ورور پاکستان عجب جوړ کړی چړیا ګر دی
بند پکښې دیوان، پیریان، ازوږي، ښاپیری
ورته محامخ وړه پنجره ده د کوکو

(۱)
مخ ئې وچ یو بد ئې دی په مثال د ماکو
رنګ ئې د فیر ګ دی حو ئې زړه دی د پښتون
تن ئې د بلبلي خو همت د هلاکو
وائي اوګنه، اوګنه، هن ګنه هن هن ګنه
یاره که رب زه کړم د دې ټولو لواکو
زه به داشعار به څه وه کړم یو ځل نري
دلته کښې پنجره ده پکښې شپږ دي زمري

اخوا تري زرین دی د وطن نوم ئې میاسه

(۲)
هر ماښام و باسي د خبر و نو حلا ده

پوی په سوداوپوی په زیان په دماغ لکه اتمان
دیو خیال او خوب د پار ه په خندا خوښوی زیان
که پروند پر بوګی سورانګارته همت نه دی حماقت دی
چه هم سوګی هم روان وی دامردی دا شجاعت دی
درستم نه بهادردی،دمیا سي،ورو کی نانا
دترخوچایو پیاله او کښېني کړه،دو به جیلخانه

(۲): وربوري دی فردوس(۱) خان په مخ سپین په زړه نازک
دپښتو په نوم او ننګ ګښې دفولاد دګتی ګلک
لاوروکی شان هلک ورچه پریي وشو امتحان
دلیلي په عبادت کښې درقیب شو بند بوان
د دنیا په وار و نر مو په پستو په حوز وبو یږی
چه پښتو ن په تیاږ ر و سرشی دي ئي لار کښې و غورځیږي
خپله ګټه خانی پریږدي ګند را واخلي د ملنګ
خان په ننګ خاوري ایري کړي چه پښتون ته واچوی ننګ
رب دي بوګی مایره ته چه کړی یاداوي سیل
داو وګلو جوړ کړی آزادي که چا امیل

(۳) وريږي زما چکه ده چه لبز سم یمه ډېروران
په میراث مي ررګی ده خو په فکر کښي شیطان
م پیدا اله اشنغر ه خو په فکر اتمان خیل
یو کیږه وراره، ویجاړه غوند يځانه دد ي ميل
قسمت جوړ بدر ننګه ځوی کړ دهو ښکلی پلار له
نصیب شپول دازغوور کړ د پښتو ګلو ګلزار له
خو دبچه تیښته نشته زه پري تنګ یم دهرچانه
ماته دي غم او تکلیف کښي دي دژوند تیرول ګرانه
و لي شه و کرم و ر کیږم، که مد ا ځمه د سیل
داو و ګلو جوړ کړی آزادي له چا امیل

(۱) فردوس خان د۱۳ کالو په عمر اول جیلخانې ته داخلی وو.

تل به بل-سورلي کړي په فطرت پيدا ينبت خا ن دی
توري ئې جوړ کړی دی غرور کښې څان له کور
حيال ئې د مو سی او خا ندا ن دسامری
دلته کښې پنجر ه د ه پکښې شپېز دی زمری

خوا دښې ئې لالي (۱) دی زمو نبز کشر ز ما رور
(٦) قيد ئې کړ په د ې چه دی دی څوی ز ما د ترور

دی په زړه باتور ؤ څکه کو ر له دغم را غی
شته ځلمي ځلمي څما د خپلو بچي نو ر

داوړو کی زړه شنکه دوطن مينې تا لا کړ
دا خودې له جوړؤ چه کړی خاورې دعشق اور

داوړو کی زړ ه شنگه د و که نه کړ سامری
دلته کښې پنجر ه د ه پکښې شپېز د ی ز مری

او ه گلو نه

چه د ا شعر مې وا و راو ه نو تو ل ملګر ی مې چوپ شو ل يو سف خا ن-حو ر ا سر ه
خبري بندې کړ ې ، ز ر ين کا کا مهر د ل خا ن ته خپل زړه-پک کړ ، مهردل
خان هم خفه شوې ير بد ر د ئې راته و ويل ، زه ړ يرخفه-خپلې-چکوړ ته-روان شوم ، ناګهانه
مې هغه-وړو کی-دز-ېړو ګلو بوټي-وليدو-رسره-خوا کښې کينا ستم هغه-وې-وا-ې-خان-نن-خو-ډير-خفه
ئې ؟ ماوې تو ل-دوستان مې-خفه کړي-دي-څکه خفه-يم ماخوتو قه کو له خو هغوی تر ې بو قه
جوړه کړه ، وې-خان-ادا-خپله-خوله-دې هم-قلاده-هم بلا ، دنګلې-نه-دنګلې ، بل-شعر-وليکه-نو-به-دغه-ماښام
مادخپل ژوندا و له-قصيد ه و ليکله اود تجر بې په-طور مې-خپلو-ملګر وته واور وله ، اوهو ا
هغه-ما ښام زه-په تو له دنيا-ښه دوست-اوا و ی شاعر-شوم-او کوم-شعر-چه زما داتول-مرور-دوستان
ز ماميـنه-نا کـ ياران کړ ل هغه ليکم ..

يوه و ړ ه غو ند ې پنجر ه کښې
دا و و ګلو جو ړ کړ ی
به يو کو ټ کښې د د ې جيل
آ ز ا د ی لـه چا ا ميـل

(۱) : ا و ل ګل ئې ز ر ين خا ن دی
د ا الله سو ر ې و ئې
چه به ما ت ا و کو ړ و جو د
به تنو ر کښې د نـمـر و د

(۱) جهان زيب-ته مونږ لالي وايو .

پسې شو ګوزاره کړی یار د عطرو د پلېل
داوو ګلو جوړ کړی آزادي له چا امېل

(۷): آخر دی یوسف خان د غني نه مرور
هم ئې مال په شمله داغ شو هم نالا ئې شو ځیګر
پلار ئې غرق د سدم ننګیالی او توره ناز
یو په ننګ او په پښتو د جنون په ښیسته راز
لکه باغ په ګل ښیسته وی داسې ؤ په دغه سدم
ژوندی ګاؤد پښتون زړه ئې د ژوندو سترګو په نم
ئې ښیسته په نامه ښکاری تول جانان د نا بو خیال
داوو ګلو جوړ کړی آزادي له چا امېل

درې څلور مونو کړان دی پښتانه دي شو کسهند کیان
یو چاچا یو میرمدم دی اسرافی او اکرم خان
اکرم خان د نعرو دی، کړی کد وسه د پولاؤ
وی مدام ئې بادې کړی، نو داو وربخ شانې تالاؤ
چاچا ښه پوره میره دی منز کر سعر لګوی چسته
خو روژو غرب خراب کړ نو کړی ئې شو له سسته
اسرافی او میرمدم پښتانه دی په ست
خواران کړی زموږ خدمت سره په چونه ښه په درب
دا ما لمان دی او هاچوی، په شنو بو نو دامېل
داوو ګلو جوړ کړی، آزادي له چا امېل.

هری پور ۱۹۴۹

پلوشه

که سترګې ښکلې نشته ښکلې یاد خو ئې شته
که تخت د باد شاه لرې دی جلا د خو ئې شته

او وزدې شپې د فراق شوې په جانان یادو لونېږي
که وصل نشته شکر دی مر یاد خو ئې شته

(٤): تا پسې وړ کی لا لی دی   پاکستان ترې وبرېږي
چه تاریخ انګریزي وائي   نو جناح صاحب قاریږی

د کالج نه ئې راو ښکه، د ژوندون توري کوشې ته
او د مرګ د کوردئې راوست د ژوندو نومد رسې ته

د لته هغه تعلیم مومی   چه په ګل جهان کښې نشته
جیل چه ښځي هغه ښوونه   د تعلیم امکان کښې نشته

درد او غم هغه استاد دی چه لقمان او افلاطون
ارسطو، سقراط، بقراط ئې ټول په مخ کښې وی زبون

دی بندی دانصاف نه دی   دی بندی د چا د ځېل
دی او وګلو جوړ کړی   آزادی له چا امیل

(٥) ورپورې چه ستر کښې پروت زما بار د هوتی خان
په وجود یو موتی غوښه په ځیګر لوی پهلوان

که عیشونه که حسدا وی   که وی حوری که غلمان
هیڅ ئې ټینګ نکړ چه جوړ شی   د مستۍ توري میدان

کاش! چه وی حالانو راوړی، یو شو دار نګی خانان
حو افسوس د اسې ئې ل سمه، په هوتی او په مردان

چه بل شو که محفل کښې خاندی   یو مشال، یوه رنړا کړی
چه مهر دل کړی ګو ډی پورې   ټول محفل شی چراغان

وړو کی ګال او په پرسرور دی په دې ګال کښې درامیل
داو و ګلو جوړ کړی آزادی له چا امیل

(٦) ورپسې شاکرالله دی   د همه ؤ په هو ښیاره
په خند اخندا پوره کړی   د هر چا د کړ ر بیګار

د اسې پیر دی چا لیدلی، چه ځان و ښی مرید ته
په خندا د حسین سفر کړې، سر سا یه یو سی یزید ته

که د عقل په حساب ئې   وی د زر و خزانې
دی با و یا سکندر   یا دارا د زمانې

حو افسوس چه لاس ئې نشته د رړ ګی په پیمانه
ځکه تش ژوندون ته و ائی د ګلو نوا فسانه

څوک په اډیله باندې پرې د ماچین واخلي
څوک په چواړ یې پسې، دنیا کاندي نمامه

چا له ښه ښار به، خو زه بوجي لکه د ګوړې
چا له یخه بچه شیخړو کیږدا بو مړي

چا له د لو لکې په شان چسته او رنګینه
چا له د ګو نګتې په شان توره او مهینه

چا له فتقیږ کو کاري، کوړ که زړه چرګه
چا له عو ندره مو نده مسته نکه سپینه ګرګه

چا له د اسې ستوغه، لکه وي وچه نکیا نه
چا له ړو به مسته لکه نوې د وکه بیا نه

چا کره صابره کور و د ا یې د ره میینه
چا کره سیمه کو ري، په هر چا چه شوه پینبه

چا کره چلی د چلی لو ر نده مکاره
چا کره کو تره چه هم ښځه وي هم یاره

چا له زړه خره بې خو نده یې نوره بواړه
چا ته لکه سر وې د حندا ډ که و لاړه

چا له ښه ترسکو نه چا له ښه خوږه حلوا
یو له د نیمبو ا چار او بل له مر با

یو له خمیره ډو ډۍ پړ سمنه پسته نرمه
بل له د مسو ر و پیتۍ ګرمه ګرمه

ورکړه د قسمت ده چا له ډېره چا له کمه
خدای دې هغه درکړي چه وي ستا په شونډو سمه

حیدر آباد جیل

کاروان

ژوند او قرار اور او او به د ی، نه به یو ځای شي نه یو ځای کیږي
تیاره او نو ر یو د بل جو ړ د ی، دا سې به تیره شي دا چه تیر یږ ي
لکه د سیند دږ و ندهم لا ر ده، کله په غره کښې کله میدا نکښې
بنده عجب عجب پیدا دی، کور یې په خا ورو کښې ځای یې آسمانکښې

دا غم د مینې غم د خوشحالۍ په شان خوږ دی
د غم مالک هم خان دی جدا په د خوښې شته

دا زه چه موسکې شوندې دې تیاره شپه کښې ولاړیم
د یار مړوند که نه وي خو امداد خو لې شته

زما د لالی راج هم بادشاهي د پاکستان ده!
آبادي که یو نوی ډیر برباد خوړلې شته

چه احلی لیوني ربه په مینه کښې ئې ډوب کړي
رایو داسې مرګی دی چه څه مراد خو ئې شته

هری پور جیل

یو خط

زما خوازه د دوست حکیم سید الابرار فاضل د یو بند ته

یا حکیم جي!

ته څه خبر ئې د دې مزې نه؟! — پیاله کښې شوې د یار پرتې دی
داسې خوږې دی داسې پستې دي — ډکې د سرو او خمار پرتې دي
تماشه لیدلې دی صوفي بې مینې — سترګې مد هوشه سینې مهینې
ته څه خبر ئې د اشه غضب دی — حورې پرې زلفې تار تار پرتې دی

ما ته معلوم دي کال مسئلې ستا
د سودا وزیان او زدې قصې ستا
ګوره چشمانو کښې د جانانې
د جنت حورې قطار پرتې دی

د خدای د پاره ساقي ګلرنګه! — **ډکې پیالې را په شرنګا شرنګ**
او، شبنم به شبنم به چه لیوني شم — **تاورانه لیچې د یار پرتې دی**
ګوره آسمان کښې سپوږمۍ رو بنانه — ما ته وی واخله خو له له جانانه
دوه ورځې ژوندی لیوني خانه — د مستۍ ورځې د شمار پرتې دي

حیدر آباد جیل

ښځې

چا له شراب ورکړي، چا له سرې وینې له جامه
چا له خربانو ده یاره! چا له ګل اندامه

سینه در وړی سنا سینې له — د بخمل هسې ر ینبمینه
دا رمان ا و میبې ړ که — د ر گسو نه نیا ز ینه
ستا و جو د یو سمد ر شی — د طا قت او د سر و ر
ر ړه دې واخلی همه ا و ر — چه هم اور وی ا و هم نو ر

ته چه دغه وخت اوچت شی
شې جومات کبنې په ژړا
لیونی و ا ئی قسم دی
یا خوغوث ئې یا هیجړا

حیدر آبا د جبل

بې وفا

حسن حسن لټو مه — که په غر و ی که په سمه
ز ه په مینه مینه پا یم — بې د مینې مر مه مر مه
بې و فا که د جا نا ن یم — بې و فا نه یم د مینې
چر ته ر نګ ځان له لټومه — چه پرې ستر ګې کړم رنګینې
چه یو خم د میو تش شی — تش تیکر ی شی بې ر و حه
بلې ړ کې میخا نې لـه — سینه یو سمه مجر وحه
تـش کړې څښلی نه شم — چه خوند نه وی د کبا ب و
ز ه مین په پیا له نه یم — زه مین یم په شرا بو
پتنګ نه څټی مو مو نـه — چه د شمع رنیا نـه و ی
تور انګور نه وئې سندر ې — چه مستی د صبا نـه و ی
بی وفـا که دیـو یا ر یـم — و فا دا ر د مینې یمـه

حسن حسن لټو مه
که په غروی که په سمه

حید ر آبا د جبل

بند

نن چه څو مر ه بند کړی حرص او هوا بند
صبا غـوا ړ ې د هغـې نـه ســو ا بـند
دتو یو قلا کبنې مینه نه ګیر ېږی — څنګ به بند کاندی سیلاب د هوا بند
تو ل غمونه یو نظر د نیا ز یو ړ ل — لکه وا چوی تیا ر ې ته ر نیا بند

جا نا نه ما ته یې کړه راپورته، داو ښکو چې کې د استرګې توري
د ما ښام لړې تیرې کړه هیرې، وا وره د لبره اوس قیصې نوري
ګوره داسپینه سپوږمۍ روښانه، داموږ ته حال دی دا مونږ ته وائې
وئې ساعت خوانی ده ای عاشقانو، کوی هغه چه ځوانۍ کښې ښائې

جامونه ډك كړیء زړونه مستانه
كاروان روان دی جرس غږیږي
شونډې وله شونډې دمینې یوسیء
سبا راتلونكی دی مجلس خوریږي

حیدر آبادجیل

زیرګ

چه دې وس د دوه وی — څه به ته څه به دې دښه وی
تو به هله د شراتو — چه شراب در ته پرا ته وی
چه تو واشې خوله کړ شپه — بیا توبه توبه د څه کړې؟
هغه شپه د دو سدوی — د ناکسا مه چه ته سبه کړې
ملا ناست د تکړو شکورته — وئې رسدانو ته خراب
غریب څه وکړی جو مات کښې — نه معشوق شته نه شراب

دا چه باغ د ګلو ډك وی
مستانه غوندې ماښام وی
داچه سرې شونډې ساقی وی
په سور لاس نیولی جام وی

دا چه تا ته رنې سترګې — غلی و و نی سلام
په میکیزدې زړه کښې ځل کړی — د مستۍ دوزخ تمام
او وئې راشه یار ره — وخت دی لږ خبرې پیرې
بیا دې ورو شان داوږ ونه — پستې لیچې کړی چاپیرې
خوله دې خولې ته کړی دربورته — شونډې سرې تو دې پیه و شه
لکه بله یو ربی — د ځوانۍ مستۍ د جوشه

ستا وعدې او زړې د حورو
د لته سرې سه لمې شکرې

تاله قرض ژوندون در کړم — دا را کوی پرې ملغلرې
ما شوم نیم چه جنت پریبژدم — ستا د سرو د و زخله یرې

جانانه میخانه ورکړم
وا خلم ستا کندې کپرې

ملا تا شکلې نه دی — نرګه سرې شونډې کافرې
ستا په غیبز کښې ناستې نه دی — د کالوډ کې کوترې

دجومات په چار چوبې کښې
یا ده وه پرده کښې

ډک ګلزار کښې ته ولاړ — په ډیران لکه د حرې
وزې ستر ګې وزې خیته — بد قسمته به رضیه

بنیسم او مینې ته شکوره
او به زړه به روح غریبه

را شه را شه لیموی لـه — جام او چت کړه مسلمان شه
د رندا او په مذهب شه — جمی په دې جهان شه

حیدر آباد جیل

خمار

چه نشه شمه د حیله ځانه و ځم — لکه وځی چه نځری د ږبرې نه
مست زړ ګی دغمه دارنګه او چت شی — لکه پورته سر کړی ګل دهدیری نه
د روندوجود، مجبوره تن مکان کښې پریبژدم — او دخیال په بنا پیری بابدې شم سپور
دا ږوم آسمان په سیل ئې کړم روان — اټوم دژ و بد چینه در نیا کور
د ساقی خمار سرور مې پکار نه دی — دازه ګورم د خپل خیال نیلی له لار
دادې ده درګینه و جود خوراك دی — دامستی مینه او حسن او دلدار
دا چه زه د جانان ستر ګې ښکلو مه — داچمکی ده لهور کومه درفتار
د شفق د سر وږ کوم ځان له جامو نه — داچه ستر ګې سرې کومه په خمار
شه په عیش دې ژوندون تیر که ملا جنانه — د تالاش د سوځید و نه خبرنه شوې

دې له ئې نه شبنم چه نښته ليو نی شمه
جام کښې کوره پروت دی نوم د آشنا بند

به دمونو تعويذ وبو نه جوړېږي چه بوځل زړه کړی دمينې بلا بند
دفولادوزنځير به دی چه ئې بري کړم کړم جانان به نازمکيز به خندا بند

به جومات کښې داسې وچې شونډې ناست وم
لکه وی به بت خانه کښې ملا بند

ددنيا آزادی واړه مې قربان کړې چه کړم زړه دمحبوبا به قلا بند
ددې بنده د وتو بندونه ښتـه چه ترڅووی دوجود او د سا بند

ليو نی وا و ړيد به داسې شو د ګنا نو
به پنجره انبنې ده به شان د مينا بند

حيدر آباد جيل

ګاړې ودې

راشه راشه ساقی راشه !
لرې لرې ملا درې

به ما نه دې بدې لګی ستا پټې پټې خبرې
غټه پګه دې شه خاورې عجيبه ته څنا ورې

ته د مينې بې خبره !
ته د حسن نه منکرې

دا محفل دی د رندانو اخوا، اخوا، لرې لرې
د شرابو د ښبنو نه دی ستاترڅې شونډې ببرې

ورشه دغلته خيرات دی
تالوږ تول اينبې دی لرې

د ګنجوږ به شان خورې کړه به سر داره دې وزرې
ساقی ستر ګو کښې مسکوږ شوه بيائې دخيال کښېښنبوې وزرې

به تول مسته مسته راغله
سرې پابوه ئې دکوترې

ستا اوره واړه جنته ددې يو د ناز بڅرې
ستا ځلو ينبت زره کتابه ددې دوه خوږې خبرې

صنوبر

لاس مې بنده، ژبه مې بنده
داسې ناست يمه بې خبر
لکه ناسته وي وزر ماتې
په ماښام کښې مازيګر

چو په خوله او ټيټې سترګې
دګل حوا کښې ګونګې ناست دی
د خپل غم په ننداره کښې
ډوب مشغول دی صنوبر

د سرهم درياب په غاړه
نشه ليه او چې شو بې
ليونی د تندې مړ شو
د مستۍ ئې تش شو سر

د ځوانۍ د غم ماښام
د پيرۍ سهار د اختر
به دې چا برابر کړي
نه به ئې څوک کړي برابر

راته ښکاري چه بوډا شوي
رقص او شرنګ دې شته خيال کښې
ګډا نه کوي نظر ستا
غورځنګ نه لري په چال کښې

د زوال استاذ ئې ناست وي
تل په څوکه د کمال کښې
وخت او ژوند، هغه ښکاريان دي
چه هما هم نيسي جال کښې

په وينتو کښې دې ښکاره شو
د مرګي استا څې سپين
قسمت ليک د ابد وکړ
ستا د سترګو په جبين

نيشت کړ ډک د لوېو کندو
د مستۍ جهان مهين
د خزان جامې اغوستې
دي نرګس او نسترين

د صبا رنا پيکه کړ
ډک د شبنمو ګور رنګين
اوس دې خوږ به ژبه لګي
د شرابو نه ګبين.

هغه سره ګلو نه څه شو؟
چه تو کول به دې صحرا کښې
هغه او ئې مجلي څه شوې؟
پر قيد دې به چه هوا کښې

هغه مست سرور دې څه شو؟
چه په شبنم دې هره سا کښې
هغه سپين مشال چا يوړ
چه لخو به دې بيد يا کښې

عبادت سره تلې حورې غلمان
دارمان خاورې کېدو نه حبرنه‌شوې
لکه شمع‌ویلې نه شوې دحېلې اوره
خوږه‌وسکه‌شوې‌شراب‌اوخمارنه‌شوې
مست زړګی دې واك وانخست دشعوره
دبهار خزان زېلی ګلزار نه شوې
ژوندئې‌خلاص‌تالاش‌ئې‌خلاص‌شوایونی‌هم
ستړی سر ګورله په خپلو پاېو یوړې
لکه‌ګل ئې‌ساعت رنك جهان‌ته وښود
لکه سیند دریاب له‌خپلوچپویووړ

حیدر اباد جیل

مدرسه

شه سبق را ته‌نبیې رسه ؛
ددې غم په مدرسه کښې
فکر کوم خواته روان کړې ؛
په کوشې دوسوسه کښې
ته حبر نه‌ئې د خپل زوره
زما ماتې شوې پوښتیه
په پولاو چه مې رده نه شوې
زده کوم ئې په پښتیه
دامنم نه سې پروائې
هر څه کړې زما د پاره
(خو) کاش چه دې ناز کوپسونه
تاوی ښولې لار هواره
داتقدیر مې سخت استاد دی
نه ئې ډب تریخ ئې آوار دی
دلو لیې سارك وزر سه
ګران دغره وسر پرواز دی
ژوندون سه دی جوشنده ده
پکښې سل قسمه حوند ونه
نه سم خوږ شو نه سم تریخ شو
هم صحرا او هم سیندونه
هیڅ په پته دی پوه نه شو
چه دارو جوړوې کوم رنځ له ؟
ولې ولې دګودر سه
ماوړې ددریاب میږځ له
زه په غاړه یم خوشحاله
زه باتور لامبوزن نه یم
زه د مینې تورباڼی یم
دجنګو د تورزن نه یم
غنی مړ په شکو شو
ورکه سپینه پټا سه
چو ئی ور کړه (۱) تلیه و وه
صیبه بد کړه مدرسه

سیدر آباد جیل

(۱) یعنی رخصت اعلان کړه اوزنك ووهه ۔

داد سو د ګټي قسي وي بندګي قربانی نه وه
د مجنون د زړه مستي له د ليلی څوك ثانی نه وه

(خو : ـ) ای د حسن فرښتي !
اي د نور او رنګ قصي
تا مستي بي خودی ورکړه
په ژړا او سو سي

ای مجو بي بت پر ستي ! زه يو بحر د تيار و يم
ای د سپينو ګلو لښتي ! عکس ستا د ولو لو يم

ای د غر د څوکي واوري
ستا د ښا ښکو زه پنه وکی
زما بحر د مستي دی
ستا نيا زبين زړګی وړ وکی

ته ئي حوره د فردوس څنا ورزه د جهان
ته ژوندون رڼا او شمع زه تيا ره غم او طوفان

ته تسکين د مسلمان ئي
زه يم مينه د کافر
ته په مينه تالا زړه ئي
زه په حسن تالا سر

ته بنيا د او روح د سينه ئي زه موجونه سر سری
ته سر ور طور او موسی ئي زه ارمان د سامری

ای د حسن فرښتي !
ته ئي حوره د رضوان
زه باد شاه يم د دوزخ
په لمبو د اور ونبان

زه يخ باد يم د حزان توري اوري د ما ښام
زه مين د بت په سترګو په ساقي يم او په جام

ستا ښينه مينې وفا زه
په معنی د مينې پوی کړم

دا تور ، تور ، سورې د چا دي ؟ چه روان دې دی په خوا کښې
بوشپېده دې و ر و ز و ز ده کړل تیتېدل د ې د ی په شا کښې

لا س د ې بند ژ به د ې بنده
نا ست یو ا ځې ا و د یګر
لکه نا ست و ی و ز ر ما تې
په ما ښا م کښې با ز یګر

چېه خو له او پټې سترګې دګال حوا کښې ګوشګی نا ست دی
د ځپل غم په ننډا ر ه کښې ډ و ب مشغو ل د ی ضنو بر

هر ی پو ر جیل

ته ا و ز ه

اې د مینې مر ښتې
اې د نو را و ر نګ قصې
ښاپیر ی ! ته چا بد ی کړې
د عمو یو د کو شې

چا و ړه لو لکه ګیر ه کړه تور تم سیلۍ با را ن کښې
چا تصو یر د صحرا جو ړ کړ دې د سر و ګلو بسما ن کښې

په مین چه شی مینه
یا را نه نه ده یو یا ر د ی
چه په غم ارما ن بد ل کړی
د غه مینه د غه یا ر د ی

که مجنو ن په لیلی ور ک و په مجنو ن و ر که لیلی و ه
چه فر ها د مسکی ا و مست و شیر ینۍ هم په خندا و ه

دا نه مینه نه و فا و ه
خوشحا لی مستی ګټل و
په چینجی کښې وز رو نه
دلو لکی تو کید ل و

صحرا

که په شګو کښې ژوندون وي
که سودا کښې نازاو شرنګ وي
که په ساکښې مستي نه وي
که هلال پیغام د نور
ماته غوره توره شپه ده
که د ژوند مطلب بل نشته
دا خپل جوش په بیرته واخله

زه پتنګ ستا په رڼا یم
که دا فر له مسلمان یم

زما واړه کمزوري دي
تیره څکه شوله توره

چه تا ورک کړمه حیوان شم

ته دریاب د شنو چینو ئې
چه تا ورک کړم بیابان شم

دا ګناه زما د څه ده
دا خو ستا د ښیست قصور دی
یا خو واک د بادشاه راکړه
یا خو شپه د نمرود راکړه

دژوندون دي رنګین خوب له
چه ستا حسن پري بندي کړم
که دا او ښلي ستا شراب وي

که زما ژړا د عمر
که زما همه مستي دا
که زما واړه خو دي دا
زه خوشحاله یم په هر څه چه کوي زما په ځان ته
هله زه د ځان مالک شم
هله مست خو بونه راشي

اې د ګل جهان مالکه!
ولې جوړ صحرا کښې باغ کړې؟

رببو مې څه صحرا له
مامري ور کړه سودا له
رببه مرګ راوله سا له
د خندا د رڼا نه وي
ډېره غوره له هلاله

بس ژړل دي سو څیدل دي
دا خپل هوش په بیرته واخله

مین ستا په تور و نه یم
یمه ستا د نور و نه یم

جوړې ستا، ستا د کماله
چه شوه ورده له هلاله

چه تا ووینم انسان شم

زه پټۍ د لوزوندو
چه تا ښکال کړمه بوستان شم

چه زه چغې شم جانان شم
چه زه غم شم بیابان شم

او یا صبر د فقیر را
او یا خپل ماه منیر را

یو ښیسته شاني تصویر را
د اسې لاس د اسې زنځیر را
ده دا چغې ستا رباب وي

یو لمحه ستا د شباب وي

یو حباب ستا د سرور وي
څاڅکې ستا د مست غرور وي
عجیبه زما جانان ئې عجیبه زما ارمان ته
چه خپل ځان درکړمه تاله
چه ګوټ ولړم ستا د خیاله
ځواب را ستا د جماله
قباب جوړ کړې د ګلاله

ستا غمګين روښان نظر زه
هم بنده کړم همسري کړم

ای د حسن فرښتې — ستا غم نه دی سور خمار دی
د خزانه تاجوړه کړی — یو رنګین غوندې بهار دی

تا کړه بره د سپوږمۍ نه
د خندا کو کې قصا
تا په سترګو د آذر کښې
عکس جوړ کړ د موسی

تا پتنګ له مستۍ راوړه — د نور رونو د زهرا
تا د سرو ګلو باغ جوړ کړ — په څیګر کښې د صحرا

تادژوند تر خوا اوبو له
د شرابو سرور ورکړ
وږو سترګو د ګونګټ له
د لوالکې غرور ورکړ

تا خندا اور کړه خوب اوار مان کښې — وینځه د مینې شوې د غم جهان کښې
تادیارشونډو کښې خوب ددلدار ولید — تا د فراق په مخ تصویر د یار ولید

تا د تیارې د رنګه د رڼا ښار کړ جوړ
تا دوړوکې ډنډه سیند او آبشار کړجوړ
تادشبنم څاڅکې کښې وړوکی تصویر د لمر
کړ د امید دریاب او د مستۍ سمندر

تا د فراق د لمبو — رنګ د وصال جوړ کړ
زما د تورو تیارو — د زنې خال جوړ کړ
ای د حسن فرښتې — سپینې حورې د رضوان
بس تا ورکړ لیونی له — امید و نه اوار مان

وي ئې شرعه ظاهر ګوري
دا د رب سره د مينې
ويره و پسره د قهرا رنه
د جنون او د جانان ستا
زړه دې کيږده په سينه کښې
ستا شراب د له حرام دي

✿ ✿ ✿ ✿ ✿ ✿

ما خپل تال پرك د خوبو
وړوکی لا لمې را اوچت کړ
ماوی ای د ښه وا وسدو
دا پالمی زما قبوله
قاضي کيناسه په تخت خپل
په بولاس ئې تو په کښېوه
تله ئې پورته د منطق کړه
بو خوا شو روکمزوری وي
بو خوا عقل ؤ د لبل ؤ
بل خوا پروت غونډي تالاش ؤ
ماوی د اليو توب وا خله
ماوي دا زما حمار
ماوي ای د انصاف ره؟!
ماوي اي دتول اميره!
قاضي سترګې کړلې پټې
وی افسوس زمانه ورك دی
زه خوزور يم د اسان
مادی سپين او تور اخستی
زه تور وينم او سپين وينم
دغه تول زما ميد دی

او ظاهر ته فاسق ئې
تار اخستې شه قصه ده
دا ايمان اصلي حصه ده
شه مهمله فلسفه ده
دلته رنګ او لباس راوړه
شربت راوړه ګلاس راوړه

✿ ✿ ✿ ✿ ✿ ✿

د قاضي در بار له بوو
تار خار ئې او مار له بوو
ای د تورو سپينو خانه
په نامه کړه د جانانه
په سپين سرئې د ستار کيښود
په بل لاس ئې حصار کيښود
يو خوا دی يو خوامې تال ؤ
بل خوا ژ مې ؤ کمال ؤ
نه مستي وه نه جلال ؤ
مستانه شاسي کولال ؤ
او خپل عقل پرې تاله(۱) کړه
دخپل علم کټاله کړه
دا د مينې غزل ګوره
دا يې نو له تلل ګوره
شونډي بندې مخ پريشانه
دا چه ته غواړې زمانه
زه سړ ور دآدم نه يم
د مستی له ګلستانه
بس زماد شه قصه ده
دا تلل مې فلسفه ده

(۱) تا لا.

ولې ولې ربه ولې؟ددې ولې څواب څه دی ؟
څنګه څنډه‌ای جانانه! اغزی څه‌دی مضراب څه‌دی؟

ای د لوږې تنده‌ې ربه! وک جام څه دی کباب څه‌دی؟
ای د مرګ اوږوند مالکه! مرګی څه دی شباب څه دی؟
اې د ژوند آخر جانانه! ژوندون څه‌دی حساب څه‌دی؟
اې د تور و تیارو خانه! څه معنی ستاد ر نیاده
اې د مرګ او ګور خاوند! څه رنګینه ستا خندا ده

څه و چه هیڅ نه و

څه وه چه هیڅ نه ؤ نه صباؤ نه ماښام ؤ
نه رب د چار ب ؤ نه ښده د چا غلام ؤ
بس یو سې پا یا نه عشق ورک په خپل خمار کښې
خوب دخپل وصال ؤ
په ښیسنه شوندو دیار کښې

عجبه فلسفه

په دې تال کښې چو تول زه یم خو دا تول کړلی جنون شی
څومره زه یم څومره سور دی دا قیصه کړلی مجنون شی
په دې ګوتو کښې مې‌ایښی تول خو بوه د صبا دی
دې غبار کښې د بوالوه دقلا د محبوبا دی
ماپه ندوته شروع کړې درنا اونور قیصه ده
د مجنون او د جانان دا څه عجبه فلسفه ده
زړه مې واچاوه په‌تال کښې دجومات کوشې له لاړم
د ملا په پښو مې کیښود ماوې دامې صدقه ده
دا چه څومره زه بوهیږم په ‌طه ‌او په یسین
داچه څومره ښکته تللی شی په سجده زما جبین
دا چه څومره خلق نور دازما خاکی وجود
د اچه څومره زما ژبه شی شکلی انګبین
ملا مخ زما نه واړاوو وې دا څه دی‌ستا نالی کښې؟
نه پولاو دی نه فرنی ده نه حلوا نه فالوده ده

دده هوش رغوی
هم ساقی هم خیام
دی نظر دی گلونه او نور دی د بل
دده سترگې خوښیست او سرور دی د بل

بهار پور

بس دی افلاطونه!

بس دې افلاطونه! فلسفه دې سنبال کېږده!
غونډې کړه دامونه خپل، او ښه دې جال کېږده
عقل عقل عقل څه دی کفر کفر کفر دی
عقل چه ئې گیر کړی دی غلام غلام زما
زه ئې چه را ونیسم نوو ړوکی دی زمانه
لاندې کړم له پښو شنګه د سر مقام زما
ړمه فرښته کړم وینځه کړم د بې بې هوش د کور
مرگ کړمه مالک د ښیست د مینې او د جوش د کور
ور کړم پرونه ښناله ټول اختیار د رنگ او هوش د کور
او زه د دلال شم او خندا د گال فروش د کور
بس دې افلاطونه! خپله ړول ډبلې پورته کړه
دا مندر د حسن دی ته مخ د عقل کور ته کړه
دلته ټول بیلات بیلات دی نشه دی گټل گټل
دلته ژوندور گول دی جمع گول راغونډول نه دی
دلته مینه تش یو ښکلی سیند کښېږدو بیدل نه دی
دلته ژوند داستان د غم، خندا گټل گټل نه دی
زر لکه معنی که د هلال د رنا وکړې ته
نشته دی په تا کښې د هلال ښخری یو
زر زره رازونه دې گوهی کښې ښکاره شوی دی
نه دې ښو لی تا ته د ارمان کوترې یو
دلته ړیر خوبونه د رنا لید لی شوی دی
نه دې ښو لی تا ته خپلې مرې د لبرې یو

ما خپل زړه لاس کښېړ اغونه کړ
د ما ښا م تیاره کښې ورك کړ
اوس بوزه يم بوارمان دى
وړوكى گل او لوى خزان دى
ما مرگى ته شروع كړې
د جنون او دجانان د ا

تو رې شپې او غم له بوړو
د صبا شبنم له بوړ و
د جا نان د شان قصه د ه
بوا ميد بو تلوسه د ه
د ژوندون دبنیت قصه د ه
شه عجبه فلسفه د ه

بهگنوتر (هزاره)

د توت ښاخ

که دى سر که سرور،نو دى با ئى په غم
دارحمت او بخل، ورورد زور اوستم
ما يوسى او مستى، دواړه شال د صنم
چه سرډك وى دشه واړه مال د صنم
د ا خند اد يقين او د ا شک دژړ ا
د اتياره د جانان داهلال د صنم

بنده شه دى ؟ بوستار دى
هنگ اوشرنگ اوتنگ ده دى
مجلسى چه په خند ا شى
غبرو نکى چه بلبل وى

د توت ښاخ د سيموتار دى
دبل لاس د بل خمار دى
دى س شوردى اوتقار دى
دى هم گل دى هم بهار دى

چه منصور پرې گوتې كيبز دى
همه د ار ، همه خمار دى

عطر تول د بل د خيال دى
دى روان كاروان د بل دى
دى مجبور شان مسافر دى

دى بوگل وى بهار نه دى
دى ارمان دى دلدارنه دى
منزل نه دى اولار نه دى

دى غلام دى درنگونو
خوبادشاه دخمارنه دى

دبل خيال ده تقدير
ناز او راز آ وازد بل دى

دى نه سپين دى اونه تور
ده شرنگ اوده شور

شپه او ورځ ده تول
دصبا او ماښام

که دا توري تيارې لا توري شي — او جهان د په قار ددوزخ په شان
او هر ځای ځلکې د رڼا د تيارو نه ورک — هره ساه د کبابو د سيخ په شان

زه به ستا زاو پر وازور نکړمه
او ملا لها يا زور نکړمه

نيت مې کړی د کور د جانان دی — شه خندق وي شه شپول، شه ديوال
داو مې ايښی په ګور د سرور دی — شه وي زر، شه وي سر، شه وي مال
يو خوا سپينه سپوږمۍ دريا د چل — بل خوا سر او سر و را و هلال

څنګ مين به په بل دلبر شي څوک؟
څنګه کيږدی به پوزه به خال سړی

لکه سرچه په خيته قربان کړي څوک — ياد لور په سر جمع کړي مال سړی
لکه خرڅ چې د بل چا په زور وکړي — خيال د جانان په مابنام د وصال سړی

داد ی زهر، دا زهر د روح دی
خو نامه ورله ورکړی د مال سړی

د هوښيار ولاړې مې ټولې زده — خو زما د شان دغه لار نه ده
زه د زړه و صبر ارمان يمه — زما بخت کښې کوشه د ګلزار نه ده
زه چينه د ژوندون د خوبونو يم — لا مې موندې سينه د دلدار نه ده
زه يم څاوره خو دېره بې تابه يم — ما موندلې لمحه د قرار نه ده

تا لا کړی مې ژوند هم غرور دی
داو مې ايښی په ګور د سرور دی

غوسر

جزا

خلق ولی را ته چه شته دی — زړه مې هم والي چه ئې!
خو جهان دې دا ستې ښکاري — لکه بې مالګه کور
ستا د عجيلې خولې د ښمن له — خوشحالي، مينه، آرام دي
ستا آشنا له تنهائی ده — تهمتونه او پيغور!

که دې زړه کښې هم څوک ياد کړي دربه درخاورې په سر شي
ستا د ښمن خان دخا نا نو، ستا آشنا زيرو زبر شي

ته نیو لی نه شی لیو نتو ب ته جلا ل پر یبږ د ه
کینه ا ـفلا طو نه ! فلسفه د ې سمبا ل کیږ د ه

تا سره د ه تله د سیر و نو د منو نو
د لته کښې بحر، نه د ی او تور اودر ا نه غرو نه

ته ئې بیو پا ر ی د عطر و ګوړ و د چر ګا نو
د لته کښې پر تې د ی و او لې او ا مید و نه

تا له یو قطر ه شر ا ب د ر یا ب د تو رو ز هر و
دلته کښې پر ا ته د ی په زر ګو نو ډ ک خمو نه

ای دنیا خویه د لته لږ ې ا و خو بو نه د ی !
ستا تله قطر ې تلی او دلته در یابو بونه د ی !

ته د أ د م لا س ئې د آ د م ستر ګې ا و سر
ته د ده پوشاك ، د ده لبـاس ، د ده بستر

ته د د ه و جود ، د د ه آ ر ا م د د ه بهبو د
ته د د ه فنا نو ن د د ه آ ها د د ه ا فسر

د لته تو ل تال د ی ستا د تلې ز ه ا و چت
غر و نه د عقاب د ی د بلبلې نه ا و چت

ستاستر ګې رو ښانه دی خوز ړه دې درو نداو توردی
نا کره روښنا نه سوری نه دی اور دی اور دی

دل ګا ته منطق کښې یو ساعت دوصال کیږده
خوی شه دمصور په تور ډیران کښې هلال کیږده

پهاړ پور

جوارګر

په همو ا ره لا ر کا روا نو نه ځی
او په غرو نو روا ن خط وخال سړ ی
خو همو ار ه لا ر ځنګ زه وا خلمه
شی ګا نه په کدو او په دال سړ ی

دبها ر غور ځنګونه او خوند اور ننګ په شکر و تی ډ یران قربا ن کړ مه
اینډ آرا م له د ځا ن د ر قیب سر ه زه ګانه بې خود ی اوجانا ن کړ مه

لیونـي تـه بس ارمان کښې شـی رنـې سـتـرګې مهینې
شومره ګران سر ک دې جوړ کړ؟ دعوه د ارله ستاد مینې
ستا ست داسې سپځل ګـړی
لکـه بـې مطـلبـه اور
ستا جهان داسې ورانیـږی
لکـه بې مالـکـه کـور
غرسر ډیره اسمعیل خان

خندا

ځان تخومه ډیرخو ډیر افسوس دی خندا نه راځی
دې غریب کښې (۱) کره سایه دهما نه راځی
ده ته ښا پیریـ: ه پری هله چه لیدی نه شی
غوږ په سبی حرام ، دخره ډیران له ګیا نه راځی
خدایږو که مجنون دځه مجنون وچه صحراله لاړ
بوه چه شو په دی چه په محل کښې لیلی نه راځی
لاړ ولیونی دې ورک شو تاچه حکم ور کړ او
چه کورته درنګونوبه څو کاله رڼا نه راځی
نن د سامری سره تهیکه د جوما تو نو ده
ځکه لیونی له غټ پټکی او قبا نه راځی
ځکه خوغنی لبز په ګیله شانې نصیب ته وائی
مه وایه یا مړه چه نن تیر شو صبا نه راځی
ستاعجب جهان څه بې اندا ز څه بې امکان دی
یودخندا مړشولو او بل له خندا نه راځی
یوځو ادې نیارو دښاپیرک حوله مړه نکړله
بلځوادې چرګمری په دې ارمان چه سبانه راځی
یوسیلی راو چت کړ د دریاب په مینځ ئې وو یشته
دیخوابل تړییږی چه یو ګوټ دهوانه راځی
لا ړمه ، بوډا شوم ژوندیو توقه نه ګنمه
ځان تخنومه ډیرخو ډیر افسوس دی خندانه راځی
پیاړ بور

(۱) د کښت ساتونکی ۰

ستا ر ښتیا ستاینه او مینه　　په همه وو کښې تاوان دی
ستا تالاش یو لیو نتوب دی　　ستا یاری دغم طوفان دی
امتحان څو مره سنګین دی　　ډیر کمزوری ستا اسان دی
د او ګی په بنیاد و نو　　جوړ دښنو ګټو مکان دی

ستا خلیل د پښو دلاندې دنمرو د دغلام و ینم
دخیام لاس کښې کچکول دی ددله لاس کښې جام وینم

خا ته امه مې جنګوه نور　　هسې نه چه بګډلی شم
چه خمار او سرور ور کړم　　دا سرې تمې مړ ئی شم

ستا ملا والې په څنو چه تش سخان اوز کوت غواړی
حوښ دې دغټ غټ حیرانو نه بوخ او سپین شان جومات غواړی

وئی قانون دی دمنات وی　　ته تش نوم دمنات غواړې
وائې به غواړې جنون ته　　تش رکوع او آیات غواړې

(خو): ستا جهان ملګرنګې ښیې ستاد پښتو ستر ګو خیال
عجبه دې جرم اینبی په حو بو نود وصال (۱)

ته په دیګ مې رضانه کړې　　نوم ارمان او عزت غواړې
دمالی نه زیږ ګلونه　　دفارون نه دولت غواړې
د میین نه تولـه میـه　　دمغرور نه غرور غواړې
او درند نه ښا نکونه　　د مستۍ او سرور غواړې
دغنی نه هشغر کښې　　او چت غرونه دطور غواړې
دګډوری نه حبل ځان له　　(د)وریتولو، تنور غواړې
ستاو کیال وائی په څنو　　چه خیرات اوز کوة غواړې
زړې میښې د پنجاب　　اوز دې ورځې دسوات غواړې
سپینه ګوړه دشوالګري　　تماک و دشوې غواړې
او مرید کړه غټ پیرله　　ښکلې ښځې نوې غواړې
سان څابون ګوره طالب له　　او ملا له روپۍ سپینې
په بدل کښې محلونه　　معشوقې فرمې مهینې
ډک جامونه دشراو　　په عوض دې کې پینې
دیزید خونی پالنګ کښې　　ډکې لیچې نرمې سپینې

(۱) (لن تنا لوا البر حتی تنفقوا مما تحبون) ته اشاره ده.

یاره دا ژوندنه دی پکښې خندا او ژړا
توره تیاره او رڼا ګلونه رنګ رنګ

خو بیا هم زه غواړمه ژوند د ځوانۍ او رڼا ؟
ډ ک د خوبونو خندا خندا او شرنګ شرنګ ؟
ولې دا زه شم ګولی دبښیست او نور آ قا ؟
چه دی‌سپی کښې ګیبږدی لا لونه رنګ رنګ ؟

بهار پور

ګټ ماله

(یوخط روښن‌ته)

لاس به‌مې ور کړی‌وی،او پښې به‌مې‌ور کړې وی
خو مینه،مینه، مینه ما در ګړې بس یوتا لـه ده
دي باز به په ډیروغرونو کندوپرواز کړی وی
خو جوړه بس‌ستا ستر ګو کښې دده‌دخمارجاله ده
سل‌ځله که ور کـ شی سا د ګوره ور کیدی‌نه‌شی
واړه رنګینـی دد ه چه جوړه ستاد خیاله ده
د ور که‌میخانه د ه‌جا م ساقی دی که خمار دی
د اواړه مستی خوتر ژوندونه دمشاله ده

سرې‌شونډې‌اوتورې‌توره‌شپه کښې‌دواړه تورې شی
ښیست دشال به دې دی چه لیلی ښیست‌له‌شاله ده
ته که لاړې رنګ‌سراو ځوانی به‌واړه‌خاورې‌شی
جام کښې د امستی واړه دمینې دکو لاله ده
چونګ خاوره کوزه شی باډیوه شی او یاجام‌شی
ړوکې غوندې سر کله قار ون کله خیام شی
شوم نصیب کړی جوړ تو ره پنجره‌د رنګ محله
مینه اوغرور کله ساقی کله امام شی
حسن اوو صال یوته بخمل شی او ګلونه شی
یوتـه سرددار بـل ته راښکلی ول دد ام شـی

رباعي

زړه مې لګیا دی سوځه مې ګپلکوي
ور له دهوکه ور کوي په اګو بکو
وائي پاسته ګلونه دي راروان
پرواه ئې مه کړه که اغزي ګلک وو

خان پور

سپېده

هغه ژوندون وایه / چه وي پو نور او رڼا
د ښکلو نو خندا / خندا او شرنګ شرنګ
هغه سرور وایه / چه وي دوخت بې پروا
خوار مه پسه سر دفقیر / شا او نه رنګ رنګ

هغه بهار وایا!
چه ئې مستي او سخا!
په زیړو ګلو باندې
مالیار کړي تنګ تنګ

خو وا نه شوې ده او نه به وشي / چه دومره نرم او ښیسته به ښه شي
جنت به نوم شي پوې مطلبه / شي به پیکه خوازه او ورک تراحه شي
سرور به ورب شي او خنداور که / ځکه چه غم او ژړا به نه وي
رنګ به او کي شي او ځواني خاورې / واړه به سود وي سودا به نه وي

چه ځیګر مو ړه نو ارمان ورکشي
چه ارمان ورکشي نو ژوندون ورکشي.

چه صحرا نه وي په سترګو رپ کښې
لیلی فنا شي، او مجنون ورک شي
په شپه او ورځ کښې، وخت او نظر دی
واړه لیده د بنده هم سپین هم تور
د دنیا رو کښې خبرې د نور دی
شته ځکه تنګ او شرنګ چه شته دي شور

جلال

چه زه غواړم دا يرو نه مستي سره ګلونه جوړ کړمه
دسر و او ښکونه سرې شونډې دژړ ا سرو نه جوړ کړمه

زه خزان تياره کړم ږو به دا ميد په سمند ر کښې
د کو نجکو نه لا لو نه د غو لو پلو نه جو ړ کړ مه

چه داروح مې په ښکا ر و ځي د ر نګونو د خو بو نو
که نور نه وي دتيارو.زه رنګينې نورونه جوړ کړمه

چه د ښيست شم ز ه ليوا له دصحرا هره ذ ر ه کښې
په در هاو بوستانو نه په لدها ګلو نه جو ړ کړ مه

چه ر ه وزې دارمان شم د پسرلي په سپين صبا کښې
بې حسا به ما ښا مو نه بې پايان غمونه جوړ کړ مه

تور او سپين ز ما د سترګو کله تو ل کله تلل دي
شپه او ورځ زما نظر د ي ور ګول دي او موندل دي

که خندا د ه که ژړ ا د ا ځيګر مشغو اول د ي
که وصال دي که فراق دي خپل سرور ته ګڼه يدل دي

چه زه مست شم له ډېرانه سره دښست ګلونه جوړ کړمه
دسرو اوښکونه سرې شونډې دژړا سرونه جو ړ کړ مه

چه ز ه نيت د ګټې و کړم د پر يو تې د شکست نه
دفاتح د شونډو کبر او د سترګو غر ګور جوړ کړ مه

دا چه زه ځان ار ه تخت درنګين بادنه و د ا ن کړ مه
د غلا م ا ميد بد ل د با شا ه په دل سر و ر کړ مه

چه خپل نو م ذر ې ذرې کړم ترې نه ډېرنومونه جوړ کړمه
چه زه غواړم دايرونه مستي سره ګلو نه جو ړ کړ مه

د ا چه ته ئې او دا ته ئې دا چه ستا مستي ر نګا د ه
د ا يم ز ه د ا بس يو ز ه يم د ا زما ژ ړ ا خندا د ه

د ملا خبرې پر يږد د ه ما مله ستا ا و ز ماد ه
دا داستان دلو ږې نه دي د ا قصه د عشق ا و سا د ه

دې زما بې سره ژ و ند کښې پټ ستا حسن او کمال دي
دا زما کمزورې سترګې ستا د زو ر جاه و جلال دي

بهګو تر

ستر گې شوندې خاورې ، خاورې لرې د کماله د ه
مینه مینه مینه مادر کړې بس یو تا لـه د ه
ماخوستا په پښو کښې خپل لالونه خواره کړي دي
ماخو فقیري قبولـه کـړې ستـاد سیـا لـه د ه
ما خپلې مستۍ ستا په غمونو قربان کړې دی
ما رنـا دشمعې قربان کړې د هـلا لـه د ه
پښې او لاس مې شـه دی داخو خاوره دوېران دی
داستا غنی نه دی دا د خلکو غنی حا ن د ی
د استاد گلو نو ښاخ مستی د بهـار نـه د ه
دا شاړې شوډیار ې سور سادین اوچ بیا بان دی
دا ترخه سا یه د ه د غضـب ده د نفـرت ده
دلته مـړژونـدون دی مړا میـد مړارمـان د ی
هغه خا موشی د ه د ا چه ورکـه د بلاله د ه
مینه مینه مینه مادر کړې بس یو تا لـه د ه
ما کعبـه رغـولې ستـاد مینـې او جمالـه د ه
حوره زما ناسته پـه احـوا ستاد شـاله د ه
ستا شراب دخاورو له کندو له جوړی کړ ی جا م
ستا ستر دې کړی جوړې دحر چو کی نه خیا م
تا د خاورو کټو نه سینا ا و حر م جو ړ کړ
مینه وه دامینه دخنزیر نه ئې آ د م جوړ کړ
ستا کټ ماله جوړه دغنی د گل کما له ده
مینه مینه مینه مادر کړی بس یو تا له د ه
پـهاړ پو ر

بې غیرته پښتون

تور ښامار منځیله پروت دی د خمار په خزانو
د پرون غلام، باد شاه دی د صبا، د لیونو
هر پښتون له وېرې ربې ورك شو نوم د پښتنو
د سرو سترګو غیرت وچ شو
همت ورك شو د سینو

ای پښتونه! ما ګڼلې د انسان د شان کمال
ستا بې سره سر کښې نور ؤ، ستا په توره کښې هلال
ستا په مست حیوانیت کښې د دریاب د چپو زور وو
ستا په زهر و کښې زمزم ؤ
ستا په قهر کښې جلال

ما به وی د زمری ظلم، نه دی د ژوند شان دی
ما به وی عقاب ښسیته دی، چه د ماز ښکار ئې ارمان دی
ما به وی چه کله کله، ځکه ته بې رحمه اور شې
چه روان ستا په ځیګر کښې
سور د ننګ غرور طوفان دی

ای پښتونه ستا هر بدله، ما بهانه جوړه کړه ښکلې
که ته تورداور، صحرا شوې، ما کړې در کې بلبلې
ما ستا سرا وچت غوښتلو، دامې نه کاوه پروس
چه دا سر به څه او چت ؤ
څنګه څنګه، ولې ولې؟

دا پنځه کاله مې تیر کړه، جهنم زندان په اور کښې
زما سرا وچت صبا ته ستا سر ښکته په پېغور کښې
شل شرمونه درنه تاړدی په کښې ته داسې خاموشه.
لکه پروت چه د له مړی وی
راغوند شوی غوندې ګور کښې

ویره ویره په ځیګر کښې، د بچی د سکندر
په پنجره کښې ربې ربې د عقاب اوږده وزر

مسافر

ژوند مقصد دی یو کمال د منیې — د عقل خور جمال یو خیال د مینې
دا تورې لړې ما ښام کولال د منیې — دا ارمانو نه تلاش یو جال د منیې
دا سره مستی د کفر چغه د ځان د هوش — ویښ کښې بحر نفرت دالال د مینې
او په ارمان کښې دی کمال د مینې — کمال دا نسان جمال جمال د مینې
مینه خوب د ډیوی زړه کښې — د رڼا او سو ځیدو دی
خوب د ړوند کرهما ښام کښې — د صبا ر نا را تلو دی
د خزان په مابو سحر کښې — خوب د ګل د ټوکیدو دی
د مرګی په تور وطن کښې
ساز د لمر د ختمیدو دی
ما له ستر ګو تپوس وکړ — حسن څه دی مینه څه ده؟
ما له زړه تپوس وکړ — عکس څه دی آینه څه ده؟
ما د ګو تو نه تپوس — د نرمی د تلاش وکړ
ماوی ای خماری ستر ګو! — دا ښنا ار نګینه څه ده؟
ماوی ای زهرار نګینې! — له خپل نور ه بې خبرې
ستا مستی حسینه څه ده — ستا خند ا مهینه څه ده؟
هغې بې پا یانه حسن
ما ته دا په ارمان ووې
ژوندون څه دی ځان موندل دی — ژوندون څه دی ور کیدل دی
ژوندون څه دی یو تلاش دی — دارمان پوره کولو
د ارمان بې تابی واړه — په ارمان قربانول دی
ژوندون خوب دی یو بې توانه
د تیارې او د رڼا
بنده هغه مسافر دی
کور ئې باغ لار ئې صحرا

بهګنو نر

دلته روب په وړو کې جام کښې | د کعبې او چت منارې
دلته سا بایلل خمار | دلته ځان موندل خمار

د امکان او لا مکان
د واړه جوړ زما د ځان
د اجانان او بت او رب
زما تنده او ایمان

خانپور ۱۹۵۲

قانون

زه خو نه وایم چه نشته | زه خو وایمه چه شته دی
خو دنیا ئې ده عجبه | او قانون ئې عجیبه دی

ښکلې باغ د ګ د خو بو نو د ګلونو د نورونو
دروازې ئې کله دار وی کله در د کله صلیب
او چت تخت او پاس پرې ناست دی یو غلام دی د غمونو
چا له تخت د چنګیز ور کړی او خوبونه د غریب

کله سپی له خوله کښې ور کړی | د شاهین شنه وزرونه
کله ګله کړی په ډیران | د نرکس مهین خوبونه
یو ته سر و شونه و کښې پټ شی | یو ته پټ شی په صحرا
کله سترګې د کوترې | په سرو سترګو کښې د باز
کله سور طالم عقاب شی | په باز راولی شاه باز

زه خو نه وایم چه نشته
زه خو چغې وام (۱) چه شته دی
خو دنیا ئې ده عجبه
او قانون ئې عجیبه دی

خانپور هزاره

آسره

بنده څه دی؟ بې هوشه ځناور دی
بنده څه کړی؟ ارام ځان له ګوری
دی تالاش د ده د ساقی خندا
د کعبې مناره، ښکلې ستوری

(۱) وهم

لاندې ناست دی سره بازونه وزې ستر کې او تش سر
او د پاسه پرې ګنجیږ ده د هما تاج مې په سر

ای جنونه دشرابو اې بابا دلیونو
دامغروره سر مې ټیټ کړې غیر تو ښتنو !!

خانپور

دامکان او لامکان

چه آدم تنګ د قسمت شی | په خپل لاس کښې ستار و اخلی
چه لبز نور هم لیونی شی | نو شمشیر او آبشار و اخلی
چه حوا د مرګ له ویرې | د صبا په تالاش وځی

د ګلو نو رنګ راغونه کړی
د سرو نو شر نګار و اخلی

همه رنګ دی د آدم | د آدم د زور امکان
څه دی کور او لامکان | ګل غلام بادشاه خزان
که جانان که بت که رب دی | زما تنده او ایمان
د امکان او لامکان | دواړه جوړ زما دځان

سره ګلونه سپین امام
ابتدا او اختتام
ګل بچی دی د پیران
په پسرلی کښې پټ خزان

تیښته ورته او شکست | د دله دغه اواز دی
نر غازی له شکست نشته | همیش فتح تل برواز دی
ګل چه خاورې شی هم ګل وی | ګل چه سورو وی هم ګلاب وی

یو مهتاب او زرور یخې
یا هم سپین خندان مهتاب وی

او د مینې په میدان کښې | سرباېلل جانان ته تلل دی
منډه هیڅ د لیو نو ده | تول بایلل هر څه ګټل دی

درپه‌در

درپه درخاورې په سر، بهاړ پور او بهگنوتر
ځمه ځمه په سفر، کله شگې کله غر
کله تاو کله تیاره وی، کله سوز کله سقر
کړمې تیر ځان له‌یواځې،دچوړی په‌شان اختر

چه‌امیدله دهو گه‌ور کړم، ویم‌صبابه‌وی‌بل‌شان
هر صباچه‌رانبکاره شی، ستړی سوی‌ماز یگر
میا با ما به تپوس او کړم دعمل اود جزا
د الله دمینې رحم په بچوړ و دحو ا

گه‌فطرت‌درب قانون‌وې ،رحم‌نشته په فطرت کښې
دشهباززمری‌وحشت‌دی‌حسن‌ورک‌ویرې دهشت کښې
په‌ژوندون کښې‌د کمال‌راز،زوردی‌ظلم‌دی‌طاقت دی
دازمونږ رنگین خوبونه، څه‌غرورڅه حماقت دی

دا مونږ ځان له جهان گورو ددې خاورونه‌بهر
ځکه ځکه دربه درکله شگه کله غر
د ردارغم که نوراوسازوی،ورحیم‌اورحمن‌شته دی
خوبې تول څه اړولی، اواوصاف ئې عجیبه دی

د خزان په شاو لاړ دی، دگلونو نه خفه دی
دمنصو رنه ره ناست دی، پاس په تخت‌باندې‌شمر
ړندې ستر گې دبت‌شې‌دی،ځان‌بایلل‌ستر گې نظر
ستاد حسن لیونی له ، نه شبقدر نه اختر

ستادنوروزی‌جهان کښې،نه‌سپوږمۍ شته اونه امر
ستا عاشق په دردلړلی، داغزو تاج ئې په سر
بهاړ(۱)پور او بهگنوتر(۲) درپه درخاورې په سر
کله تاو کله تیاره ده ، کله‌سو ز کله سقر

(۲،۱)دازما د بند یدواو نطر بندۍ‌دوه کلی وو نوربه‌دې‌ځایونو کښې‌بندی باتې‌شوی‌یم . بهپور جیل،هری پور جیل، حیدرآباد سنده جیل خانپور، هری پورجیل کلب،غرسر، تهنه بالې

کل منطق دده، فلسفه دده — یو امید یو ارمان یو اسره دده
ددې لوی دریاب نه چاپیره ده — کناره دده، کناره دده
که ئې سر د عرش پورې ولګی
پښې ئې د وبې وی دغبار په مخ
داخو دی دځانه ورک شویدی
د جانان په مخ، د دلدار په مخ
کل مذهب دده، کل ایمان دده — دا دی، رنګ او خندا او جانان دده
د امکان دده لامکان دده — دا څه ورکه، څه توره قیصه ده
د صبا تالاش د پرون ارمان
یو امید، یو ارمان، یو اسره ده

خانپور، هزاره

دبوډی تال

تیاره، تندر، ورکیدل دی — زه اتوم د بوډی تال
د امید نه جوړ ومه — کله رنګ کله وصال
زه دځان کل مرضونه — حبل حکیم یم د کمال
ای زما مغروره یاره! — زه خالق ستا دجمال
دا چه په تالاش لاړ م
پوست پراو مقام مې وموند
داچه زه تېزې د نور شومه
سپین ساقي او جام مې وموند
د ایم زه چه کله ګل شم — کله نور کله وصال
کله اور ستا د سر وشونډو — کله ستا د زني خال
ای زما د مینې جوړ ئې! — ستا کمال زما کمال
د منطق په تور جهان کښې — ورك جنون او تور هلال
تیاره تندرو ورکیدل دی
نه بوډی شته نه ئې تال

خانپور هزاره ۱۹۵۲

❖❖❖❖

ژوندیو څاڅکی مینه ده د مینې ننداره کړی
توري ختې وا خلی نر به جوړه مناره کړی
ساز د ځوانۍ غشی دی د مرګ سره د جنګ قصه
داده د انسان د زغرې توري او تفنګ قصه
داده د غلام د فخر، کبرا و د ننګ قصه
شمع پتنګ نه دی دا دستوري او پسنګ قصه

ژوند د آدم څه‌دی مینه مینه ده دځان سره
خاورې دی آدم‌خاورې‌جنون‌سره جانان سره

مرګ‌لویه نیکی وه چه ما او کړه د انسان سره
مرګ ستا ګورله یوړه ګنې وه به مل د ځان‌سره
مرګ هغه نیمه چه جانان کیښوه د جانان سره
مرګ پټه نکاح ده د مکان د لامکان سره

مرګ ګنې د ژوند وند دربار په ګناره ده
مرګ مجبوره ځان له د خپل حسن‌ننداره ده

مرګ اس یو ګواه زما د ژوند ستا د جلال
ای عجیبه خاته د یاري او د هلال!

حان پور

مینه

مینه حسن جوړ کړی بیا یې شی مینه مینه
مینه لیونۍ ده، لیونۍ ده مینه مینه

چیرې مې دا خیال و چه پنا ست ځوانی نیاز
پټ دی اس‌په دوی کښې د شوق‌عشق او طلب راز

ماوی واباز شیسته، محمود و، د شیستوزی
څکه د استان جوړ شوی محمود او د ایاز

اوس په‌دې شوم پوه‌چه دشهبازدستر ګو ننګ دی‌دا
بل ځان‌ته کوتره کړی او ځان ورته شهباز

ګوډاګی

زما ویره جنت او جومات زما
زماهوش سر سرور مناجات زما

مناري د ګوجې کښې زماپستي
دادمرګ نه بچوم زه ژوندون هستي

او د شراب جام د زمزم چشمه
دا د ځان د نیولو یو دام زما

دا جنون جانان دا مرشد کعبه
د خپل هوش نشه ګو او یو جام زما

ګوډاګی ماجوړ کړی خپل ځان له دی
سره اسان د یار عبادت سرور

ما بند و نه اچولی طوفان ته دی
دا مید ګلزار او قلاد نور

ماد ,, مرګ ،، فاتح د ,, زوال ,, آقا
دې شکست له بوسان موندلی دی

ما غلام له د سر و زر و تخت او تاج
ما اوګی له مکان موندلی دی

دی زما جنون دانبایست اویار
داسر ورزما ددې تلو غبار

داجنت زما دارمان تصویر
اودوزخ زما ددردو نو خار

زما ستر ګو کښې رب او ایمان دی
زما در د کښې وصال او جانان دی

خابور

مرګ

ساز داسې آوازدې ښکاره پټ کړی پټ ښکاره کړی
نوري خنې وا خلی تر ښه جوړه مناره کړی

قبر بانديې شال یو دا طلس د بخمل وا چوی
لاس کښې انسان لمحې له مرګ او اجل وا چوی

(خو ښ)مرګ دې پرده پوش کړی دآدم زوال دهوشه ورک
مرګ هغه خزان دی چه ګل کړی د ګل فروشه ورک

مرګ ګواه د رب د مینې رحم دانسان سره
مرګ یوه وعده د پسرلی شوې د خزان سره

جانان زما

نه به تا څه احسان مې د مينې شته
نه به تا څه احسان د وفا لرم
او بادشاه د خندا اوږه ته ئې
خو دا زه يم چه خندا اوږه لرم

ستا د سترګو ښايست دی ارمان زما — ستا د روح ملک د حسن جهان زما
دا ستا شونډې چه ښکلې او نرمې دي — دا د مينې کمال او امکان زما
دا چه زه ستا د سترګو تصوير يمه — دا ستا ګوتې جوړوي ما ته ځان زما
دا چه ستا ملګرتيا ته ما زه يم — پټ دی دې کښې رحيم او رحمن زما

زه به پټ ستا د مينې د جاله شم
خو بهر د دې جاله تياره طوفان

زه به پټ د خپل سوز د کما له شم — خو بهر د دې کوره ژړا ارمان
بې پروا د جنون د وصال شم — خو مستي څه ئې «ې» «و» وي څه انسان

څله خلاص ستا د زلفو د جاله شم
چه مې ګور صحرا دی يا کور طوفان

که رقيب د تيارې ورکيدو نه وي — ما به ستا له رقيب کتلی و
که ښامار هم علاج وي دريغ زما — ما ښامار نه طبيب ويلی و
که بل ګل کښې پيغام د بهار وي دا — دا زغو ډ کې به هم ما کړلی و

ما له بس ستا نظر کښې آرام دی
ما ته پروت ستا لاش کښې دوام دی

نه به تا مې احسان څه د مينې شته — نه به تا څه احسان د وفا لرم
ستا د ژوند او هوس معجزه ده دا — چه ځواني او مستي او خندا لرم

دادی ډېرې پايانه احسان د رب
د ګوګل په پنجره کښې هما لرم
بادشاهي له دې لويه به څومره وي
چه ارمان د خپل ځان مينه ستا لرم

لوږه لوږه ده د ځان مړو لو خوب دی عشق
دا دی د آدم او د حوا د سترګو راز
مینه جومات جوړ کړی په تیارو کښې د خپل غمه
مینه په مستۍ رښا یست کړی جوړ د خپل صنمه
بیا په سجده تیته شی د رڼه په ګلونه
مینه حسن جوړ کړی بیا پرې شی مینه مینه

حان پور

شمع

محفل له شوه رڼا شمعې له سوزو رو کیدل شو
اوچاله ره رنګ محمل کښې پټې سترګې رڼیدل شو

شوه یو له د ښکاری مستۍ د لېونو چل د دام — او بل د زړکې ځوی بصیب ئې دام کښې لګیدل شو
شو بوله سره ګلونه ما رښا موږه او جامونه — او بل ته دغه واړه لوږه تنده ژړیدل شو

او ګوره انسان ته چه باد شاه د ځناورو دی
دی که پرزورو کړی و تی نشی د خپل ځانه
دی د خپل وجود د فطرته لو ئیدی نه شی
سل ځله که جمع کړی ګلونه دا یرانه

دی د خپله ځانه د جهانه ورو کیدی نه شی — کله د منبر نه تاو شی کله د جانانه
څه وکړی غریب داپه لګېاو قلا ګانو بند — دی که پرزورو کړی وتی نه شی د خپل ځانه

دا څنګ به ستا حساب وی ته تلی په کومه تله
ړونده نه د رنګ تول او د ګندا تپوس له شله
څه شو رنګ بسر لیله ګل له مرګ ژړیدل شو
محفل له شوه رڼا شمع له سوزو رو کیدل شو

بهار پور

مرز دی بې غیرته پټ په بده شېبه چغېږی
کوتر ی د کشمیری دی په کوټه پاس ښه غېږی
وزیر چه کلي وال وی د ده خپل حکم چلېږی
چه پورته شي ممبر ته دنوچېړ هسې ګډ یږی

چه غم شي او تکلیف شي لاله ځی دبو بی ترخ له
وائی راشه محمد ینه! اوس تیله ور ګوه وخ له

سرېټه کړی د بی بی دلمن لاندې په ژړ اشی
(وائی) الله دبښیر غوټه ! را روان؛ی اوس به را شی
بی بی وائی خاوندنه که دا ستا بلا زما شی
دالاس دې ولې رېی په سلګو دې ولې ساشی

دازبردې په لینګو بازدې دې ښکته ځه روان
پرون دې خواره ډیر ووجوړ خوړلی شاتوتان

لاله وائی بی بی ته، د دې نوی وزیر تره
خوسنا دمور دحور دځوی تر نور دی د نیکه
ورځم چه راله وکړی دوزیر سره کا ته
ځمابه خوزور ګی ډېر زیات دو یری و واته

ورځم چه دوزیر سره اقرار او زبان وکړم
او ځان له ددې شرنه دو توښه سامان وکړم

لاله غریب روان شی مړاوی شته مړاوی غوږونه
وزیرته ډیر په مینه تعظیم وکړی سلامونه
بیاو خوری لس طلا فه دوه درې سوه فسمونه
(وائي :-) جناب ! مانه معلوم شو هیله ستاسوصفتونه

زما نوم هم کړه لیك دنا بعد ارو رجستر کښې
داسرمې اشه مربان ستاد ملګرو په لښکر کښې

وزیرورته مسکی شی وی ښه ولیکه بیان
چه اوسه پورې سپی ومه خواوس شومه انسان
لاله غریب په بله ګاندې دین غیرت ایمان
زرلاس په نامه کیږدی وی قربان شمه قربان

بیان ؟ یو بیان څه دی لس به وکړم بیانونه
جناب! ستا په صفت به او کړنکومه اسمانونه

ستا د حسن جهان کل جهان زما ستا ارمان کښې خندا کړی هرشان زما
تا نه نخم شم، پا نه شم، کل شمه ته پټې، ته بهار، ته خزان زما
کله شي محبوب باد خیام د رنګ
کله سوی شان هنګ د منصور د چنګ
کله نښتیست او آرام صبا امید
کله توره شي تیغ شي غم او جنګ
کله مینه شي رحم بښنه شي کله زور اوزبا تې او غرور او ننګ
ستا هر رنګ یو بې خوده جهان زما
ته پټې، ته بهار، ته خزان زما بهګ‌نور

قیدی

څو ک د زړه غلو او نشته
ځان له زړه علوم په حیله
ځان له ما ست یمه خپل غم نه
د خپل غم وایم له
چر ته لري تیر محفل له د مستی او خندا څمه
چر ته مړه شمه رانحلم خپل مشال پري لګومه
دې تورتم غم او افسوس کښې
زړه یاد د مینې پایم
سوی زړه ته قصې تیرې
د څو انجه رنګینې وایم حیدرآباد جیل

غیرتي

لا له مې افلاطون دی د تقریر او د تکرار
لا له مې پاس په ستیج کړی د زمري په شان غرار
چه وخت او بخت مې خپل وی هم ئې خپل وی تا نه دار
بیا بس د ده یلغار دی هم په شار هم په نو شار
(حو :-) چه وخت د غلبلی شي لا له مړاوی کړی غوزونه
قرقرئې مدام خیبزی په خوار ولګی دستونه

دزاهد عبادت چېر دی — سوال منت ژړا کول
په جنت اودې دنیا کښې — د فایدې سودا کول
د زاهد مینه عجبه — په خپل ځان مینه دل
دریاسپی جو ته کړی — د لر باله ور کول
د غنی عبادت مینه — ځان جانان کښې ورکول
دمهینوستر ګو شرنګ ته — ګه پد ل او خند ېد ل
د غنی مینه عجبه — ټول بیلات هیڅ نه ګڼل
دا خپل ځان او جهان واړه — یو خمار کښې ډوبول

داېلم تو تیان

چا بند کړی دی پنجرو کښې — دا ېلم د سر تو تیان

چا عقاب په لاس کېنو لی — د مړ ز هسې چغـو لی
چا منصور په سروا و سپینو — او خوږ و ماندې غلو لی
چا قسمت په زور تړ لی — د ګو ډ ی هسې او بو لی
ن د کو مې باد شاهان دی — سکـندر او شاه جهـان
شوک ځیولی(۱) شی کورو کښې — سمند ر بـې پـا یـان
سلاب چا دی منع کړی — په سـو نو د شنو شګو
دقسمت په کور کښې نشته — شمیر د ډیرو او د لږو
باد شاهی لښکرې اړې — ال د وزو او د تېزو
فقیر ی چه فقیر ی وی — با د شاهی ترې شه قربان
چا بند کړی دی پنجرو کښې — دا ېلم د سر تو تیان
چا سرور په لاس کېنو لی — شوک مستی شی سو ځو لی؟
د بهار و لولی څوک شی — شوک د ښېو لاندې کو لی؟
که لکـو نه ژوندی مړه کړی — ژوند نـه شو نـه شی مړ کو لی
چا دبو ی نـه منع کړی شنه ګـلو نـه د ریحـان؟
چابند کړی دی پنجرو کښې دا ېلم د سر تو تیان
بلبل ناست بندی پنجره کښې — د پسرلی خو بو نه وینی.

(۱) ځایو لی - (۲) وانی

ماښام ريږ يو ووائي چه يوبل غريب دووس وشو
يو بل دشهباز ځوى دجنګله وتښتيد تپوس شو
يو بل ګلزار ايرې شو، ورك شو خاورې شو بوس بوس شو
يو بل پښتون شو سپک، ډوب ئې دپلار نيکه ناموس شو
يوبنګلى ـ ر شو تيټ يو ننګيالى پښيمان په ننګ شو
عجبه ناکرده شوه چه پښتون په پښتو تنګ شو

نامرده لا لا ! واوره يو خبره دغني نه
پښتو غيرت او توره، په پښتو او غيرت مينه
دا هيڅوك بل له نه کړى، دا هر څوك ځان له کويه
دا ژوندى دروح ژوندى لکه ژوند دوجود وينه
دا هغه فلسفه ده چه خليل ته ئې اور کړ نور
دا هغه مست شراب دى چه څکلي وو منصور

ارمان دى غيرتي ! څه عجيبه دې سودا وکړه ؟
د خپلې حيا علاج شوې د حيا کوره دې غلا وکړه
چه شپه شوه د معراج تا د تيز ونو دعا وکړه
چه وخت د خندا راغى تا شروع په ژړا وکړه
يا حيا له پاشا هي بادې شروع کړې بنګړي واته
لا لا ! کوني رر مړشي ، خوز ارى ئې شي تل پا تې

حيدر آباد جيل

عبادت

د ملا عبادت کسب — پاڅيدل او ګينا ستل
د حلوا په ارمانونو — تل الله الله کول
د ملا مينه عجيبه — په پيتى مينيدل
او دحورو لمغړوته — د حرچو کو هڅيدل
د صوفي عبادت ويردى — سوځېدل او ژړيدل
د رحمن رحيم د نوم نه — رپيدل او ويريدل
د صوفي مينه عجبه — دزړه ګل مړاوى کول
بې کنار دریاب دحسن — په کوزه کښې بندول

یو خوا ننګ مینه اوتوره ورووروسوځي خاوري کېږي
بلخوا چل دهو که دروغ را خور یږی زرغو نېږی
آستا غټې لا پې څه شوې؟ دقسمت او دسزا
تانه یوړی لویه خدایه! هم خندا هم او ژړا

ماتم

داخو نه وي غم له جوړې ستا د استرګي د غم ډکې
چا تې برهره اړ ئې دافسوس او ماتم ډکې
په ژړا باندې چاره دی، سرې مانېه ابادې کړې
په ښېرو باندې چاره دی، مړې پیړې‌ازادې کړې
د استاګو تې د پولادو تش دعازارېه له نه دی
د استا مڅې د مړ ا ې جوړې دې خوارې له نه دی
د استا زور پښو او توره، سما د سرې و یې غو رځنګ
چه دا ښکلی سر دې ټیټ شی څوانه ښکاری ډیر بدرنګ
پا څه پا څه چچه وکړه سما د سرې وینې غورځنګ
ته افت یې ته غضب یې د سور تندر یوګوزار یې
سما دالاس دقسمت لاس دی، وراول جوړول دوی کا
ستاپه سنرګو کبې اجل دی، ورکول سوځول دوی کا
د فرعون د کور په شانې دا حصار خاورې ایرې کړه
دا مغروره سرتس نس کړه دا غرور ذرې ذرې کړه
پاڅه و ښیه دنیاته دپښتون دبچونګ
پاڅه‌واوروه‌شغال ته، د ویستلوتوروشرنګ

پلوشه

زوړ شومه زوړ شومه مسلمان نه شومه
ارمانی ډیر شومه حو پښېمان نه شومه

په شپې شم ز يږ ميدانو نه د نرګس ګلو نه وينی
سره ګلاب مست او خندانه د لو لو پر و نه وينی

وئی(۱) ر يبارته راشه يوسه د ا پيغام د غني خان
څوك اچولی شي کوزو کښې سمند ر بې پايان ؟

سزا او جزا

هيڅ په پته دې پوه نه شوو د سزا او د جزا
تا ته يو دی لو يه خدايه! هم خندا او هم ژړا

څو ك شيسته خوابی کړی خاورې په يو خيال باندې مين شي
څو ك خمونه وينې و ښنې چه په مال باندې مين شي

څوك غوته په رنګ او تال کښې په يو خال باندې مين شي
څوك مد هوش په حق او نور په هلال باندې مين شي،

(حو ـ) سناسپوږمۍ هرچاته خاندې که زهری وي که بلا
هيڅ په پته دې پوه نه شوو د سزا او د جزا

څوك په يو سترګو ړوب شي سمند ر کښې د غرور
څو ك په تخت لکه فرعون ناست دې خاندې په سرور

څوك په مخکه پروت ملنګ وي يا دوی قيصی د طور
څوك په و ينه مو ړ فمدانه څوك په مينه کښې ر نځور

پرو ند قسمت دی فرق ئې نه کړی د فرعون او د موسی
هيڅ په پته دی پوه نه شوو د سزا او د جزا

عجيبه ده فرق نشته د غرور او دنيا ز
عجيبه ده بيلتون نشته د ريزيد او د ايا ز

عجيبه ده انعام يو دی د تپوس او د شهباز
تا ته وا ړه چغې يو دی که دو يړ وی که دساز

تا ته يو دی لويه خدايه! هم خندا او هم ژړا
هيڅ په پته دې پوه نه شوو د سزا او د جزا

يو خوا سرې سترګې شاهين په پنجره کښې پروت ژړيږی
بلخوا زيږ سترګی شغال په بخملو کښې لوغړيږی

(۱) وائي .

ته ښیسته په پښتو سترګو راته کوري غـلـې غـلـې
چه سات کړی د مشغول شو بیا به څو ز صا بلبلې !
مو نیز له توره او ز ده شپه‌ده
دی د ښل دا ډیوی بلې

حیدر آباد جېل - ٤ ستمبر ۱۹٤۸

تنګ

ما له قصده دره و غو تا ته وخوړ و قسم
چې وما ژ بې مې هسې تا تـه وې صنم صنم

ستا معصومو سترګوو کړ په تنګېږ ناهې ابار
لکه و نیسی ما شوم چه په خندا خندا ښا مار

ما چه ستا په سرو لبانو قسم و خوړ و ما سبام
دشرا بو په نامه مې در کړه‌ټ د حاور و جام

ستا معصومو سترګو په وې لبانې سر ګې لید اې
څکه رر پکښې رو ښانه شوې دمینې ډیوې بلې

زه وم غل دد وو څاڅکو ناد حسن در ناب را کړ
ما په چل چو تنګ ډ کولو تاد مینې سیلاب را کړ

تاد خپل ایمان په زور ، زه کافر کړم مسلما ن
زما زړه کښې دې کړل خاورې دتنګی همه وتان

ستادشونډوغلاله لاړوم خپل ځیګرمې پکښې نایله
د حوارې اوتنګېږ جمع ټول دفترمې پکښې بایله

جام مې وړی ؤیو ګوټ له ډوب دریاب کښې دسرورشوم
دمنصورو ښه وله لاړ وم لیونی شوم زه منصور شوم

لیو نی نه زړ ګی نوړ ، ناز نینو موسکو شونډو
غلاله ته په ډا که واو ړېد زړه‌مې وچاوده په ملدو

حیدر ا با د جیل ۱۲ ستمبر ۱۹٤۸

شاعري

دسکر تو بیخ مې وښکه — سرمې خوږ که په ګرو او
د پرسرونه مې را یاد کړه — یو هم نه دی د یاد و لو
نه تپه شوه نه چار بیته — نه غزل نه نیمګوړ شوه
نه قصه شوه نه بدله — نه ساقي شو نه کوکۍ شوه

شاعري هم یارانه ده — نه په زور نه په زاری شي
نه په چل نه په هنر شي — نه په مال نه په خواری شي
شاعري لکه باران دی — کله تندر ګړ زهر شي

ناګهانه داسې شړق شي — چه صحرا هم سمندر شي
کله نرم نرم پشم — پوست نازک نازک ریښمين

د نسيم په شان مستانه — د محمل هسې مهين
کله ښه درنه شیمه شي — په اوږده صحرا وريږي
کله تور باران دژمی — نه کمېږي نه ودريږي
کله شړ د پشکال شي — چرته لمر چرته باران

عجيبه لکه د ژوند — څه ځنده او څه خندان
کله داسې سوکړه راشي — باغ چمن شي کربلا

لا د خاورو وتی نه وی — چه بيا خاوري شي لالا
کاش چه وي زما په لاس کښې — د ورځو فرښتې

مابه هر وخت ښکلی ښکلي — سپینې لړې راوستې
هر ښامام به مې جوړ ولو — په فطله د بوږدي تال
هره ورځ به مې ساړلو — دا شنا د زني حال
ولې څه وکړم چاره نه — واك د دل اختيار د بل دی

دا په تا ميني سترګي — ددوی نور خمار د بل دی
داچه ته پري راته حاله ي — ددې سرو شونډو دې خار شم
ددوی ښیست مستي د بل ده — ددوی سرښنګار د بل دی
(اوبس:) دا دومره واك هم سر دی — چه زه و یم در ته غزلې

شهید

دا آخري شعر د هغه ملنګ روبه نوم دی، چه په غرونو، درو، په جبلونو او کورونو کښې ټول د مینې په رنځ مړه دی، او خپل ژوند هوسونه ئې د دغې تصور صدقه کړي دي، د کوم په تالاش کښې چه دونږ ټول روان یو،

اې شهیده! اې عاشقه! اې بچیه د منصور!
په خندا جانان له لاړې، دوب په دریاب کښې شوې د نور
نادانان در پسې ژاړي ماشومان در ته مجنون وائي
لیونې در ته پسخیږي اې ایرې د کوه طور!
ننګیالیه! سر دې ور کړ د یار پښو کښې دې لوږی کړ
اوس ئې ګوره وسکې ستر ګې، ښکلې ږ کې دغرور

مارا وړی تاله نه دی د سرو ګلو املیونه
د جنت بلبلان څه کړي د دنیا د باغ ګلونه

تا کړې خپلې ستر ګې خاورې چه زما پرې شی روښانه
تا قصه زما د دړد برو یو ړه له اسمانه
ستا د وینې څاڅکي څاڅکي چه تا توی کړه د ارمانه
ما ته سرې ږ یوې بلیږي په کوڅه کښې د جانانه
د دنیا تاجونه څار شه، سما د بخت او ستا د شانه
د لیلی په زنګون پروت ئې د مجنون شیرې ګروانه
مارا وړی تاله نه دی د سرو ګلو امیلونه
د جنت بلبلان څه کړي د دنیا د باغ ګلونه!

ګډې وډې

یاد مې بانډې کړی دی
خیال پښتوم پولاو
ځان له سیخکی ور یتوم
دزړه داور په تاو
ناست لکه منبژك یم
جیلخانه کښې په دې ساو
څوك به تری خدا یه !
دقسمت دپیشو میاو
خلاص تري نه په چل شو
لیونی او نه په داو
ګـهېې پـه ګـلزار کړ
نصیب بې موسمه لاو (۱)
ګـوره کشـمیری ته
پـه پښـتون ګـوی دبـاو

کال چه شی ګونی ، بنغ
هم مرغی وئی (۲) د ملاو

پلو شه

کعبه جوړه ابراهیم کړه
زه جوړ کړی یم الله
وایه څوك لوی شواوچت شو؟
وایه وایه ای ملا !

نقاب

داچه زه ځان لیونی کړم دازه تښتمه له ځانـه
شیخ با بارا تـه لګیادی مسلې کړی د عذاب
زه خودلـه په عذاب مدخپل خوداو داحساس نه
ځکه کله په سجده یم کله و څښمه شراب
چه احساس لرم خوزیږم چه بې حسه شم ورکیږم
به طا فشتته د سکون نـه همت دا ضطر اب
چه چاپیره نظر وکړم همه پټ او ښکاره زه یم
داشراب دی ماجوړ کړی ماجوړ کړی دامحراب
خودازړه مې پټ پټوالی داهډو کی مې کړیږی
چـه اخر به څوك کړی لری دجانان دمخ نقاب .

(۱) لو (۲) وهی

هری پور جیل ۲۰ جولائی ۱۹۴۹ع

کتاب خلاص شو خو شعر و نه ډیر پاتې شو، خیر بیا به چیر ته څه غم وکړو ژوندهم عجب شی دی، دې کتاب کښې اول شعر داو بو په جهاز کښې په بحر هند کښې لیکلی شوی ؤ او آخری د هری پور جیل د کوار ټین په یوه چکی کښې .

په دې منځ کښې چه څه مستی خوشحالی، غم ارمان، امید، ویره، خندا او ژړا په ما راغلی دی نو د دې کتاب په دې پاڼو کښې موجود دی ولې افسوس دی چه ژبه مې د زړه هومره طاقت نه لری، بیان د احساس نه کمزوری دی خو هر څه چه دی حاضر دی، ما د څه پټولو کوشش نه دی کړی بلکه د ښکاره کولو خواری مې کړې ده.

دا زما د ځان تصویر دی د یو نامکمل او مات ګوډ دی ولې دا زه به په خوشحاله ضمیر وایم چه دې کښې چه هر څه دی زما دی . دا زما د دې بې ښکاره او بې مطلبه ژوندیو خوارو ډالی ده چه ما خپل قام او ملک له جوړه کړې ده، کاش ! چه دې کښې د ژبې د ښایست او د روحې د کمال دریا بو نه ما ډک به ولی وی ولې څه وکړم همدغ ومره مې وس ؤ او بنده د خپله وسه زیاتی په هیڅ نه دی پړ، که په دې خیالاتو کښې دومره حسن وی چه له ما نه پس هم ژوندی پاتې شی نو زه به وایم چه واقعی ما د آب حیات چیمه موندله او س دوی ما ژوندی کړی دی بیا به دوی ما ژوندی کوی (غنی)

اګر څه مونږ په تصحیح کښې زیا ر ایستلی چه غلطی پا تې نشی خو بنده سهوه لری ممکن څه جزوی غلطې پاتې شوې وی چه هغه به په دوهم چاپ کښې سمې شی نو زمونږ عذر به ګران لوستونکی ومنی. « پکتانی »